


# له څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال سره د غني‌خان د شاعرۍ د ځینو اړخونو په اړه مرکه

## مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود

# د ګېږو وږو پلوشو میناتوریست

د ادب او فرهنګ درنو مینه والو!

ارواښاد غني خان د نومهالي افغاني فرهنګ یو یاد او نوموتی شاعر، لیکوال، انځورګر، مفکر او سیاسي مبارز وو، چې پر معاصر پښتو شعري بهیر یې خورا زیات اغېز پرېښی دی.

د غني خان په اړه ډېرې تبصرې، لکینې او ویناوې شوې دي. دغه شاعر په عام ولس، ادبي مجالسو، کره‌کتونکیو او مبصرینو کې خپل مینه‌وال او کله کله منتقدین لرلي دي.

که څه هم غني خان د خپل ژوند په اوږدو کې فعال سیاست کړی دی او یو مهال د هیندوستان د پارلمان تر غړیتوب پورې هم رسېدلی، د خپل نوموتي پلار، پاچاخان، ملګرتیا یې کړې ده، زندان ته تللی او جلا وطنی ته اړ شوی دی، خو له دې ټولو سره سره د هغه شهرت په شاعرۍ او انځورګرۍ کې زیات دی.

په روستیو لسیزو کې د دغه ستر معاصر شاعر ګڼ شعرونه د بېلابېلو سندرغاړو له خوا سندریز شوي دي، په پښتو موسیقۍ کې د غني خان د شاعرۍ انګازې او د ده د کلیاتو بیا بیا ځلې خپرېدا ښوولې ده، چې خلک د دغه ځانګړي سبک خاوند شاعر له شعرونو سره څومره مینه او لېوالتیا لري. غني‌خان د فلسفي شاعر، لیوني، رند، عارف، دودماتوونکي، یاغي او د جنون و جانان د شاعر په توګه پېژندل شوی دی. ګڼ کره کتونکي په دې باور دي، چې د غني خان د شاعرۍ سبک هماغومره چې د ده پر ژوند ځانګړی او یوازې په ده پورې منحصر وو، تر ده روسته آن تر نن ورځې پورې، چې ښایي د هغه د شاعرۍ له پیله نږدې یوه پېړۍ تیریږي، همداسې ځانګړې او بې‌سیاله پاته شوې ده. ولې د غني‌خان شاعرانه سبک ځانګړی او بې‌سیاله دی؟ دا پوښتنه داسې دقیقو علمي، انتقادي – تطبیقي (پرتلیزو) او هنري بحثونو او کره کتنې ته اړ دی، چې د هغو له مخې د غني‌خان هنر، تفکر او لیدلوری وپېژندل شي. تر دې وړاندې چې د دغو ګڼ اړخیزو پوښتنو په ځواب پسې ووځو، لومړی به د غني خان لنډ ژوندلیک ته تم شو:

غني خان پر ۱۹۱۴ زېږدیز کال کې د پښتونستان د هشنغر  په کلي کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. هغه د خدایي خدمتګارانو د تحریک بنسټ ایښودونکي، فعال مبارز، سیاسي، معنوي او نامتو مشر، فخر افغان خان عبدالغفار خان مشر زوی وو.

غني خان لومړنۍ زده کړې په هغه ازاد قومي ښوونځي کې پیل کړې، چې باچا خان او د هغه دوستانو د غریبو هلکانو لپاره په اتمانزو کې جوړ کړی وو. هلته زده کړې د ټولو لپاره په وړیا ډول وې. غني خان لسم ټولګی په بري سره پای ته ورساوه. د باچا خان دا خیال وو چې له غني څخه یو لوی اسلامي عالم جوړ شي، نو ځکه یې په غني خان اووه کاله عربي دودیز علوم ولوستل. باچا خان ډېر وخت په جېل کې بندي وو او یا به هم د خپل قومي سیاسي غورځنګ د تبلیغ لپاره په دوره وتلی وو. غني خان په دیني مدرسه کې د دیني ارزښتونو او اوصولو په برخه کې خپلې زده کړې بشپړې کړې او وروسته بیا د لوړو زده کړو لپاره لندن ته ولاړو او هلته د لوېدیز فرهنګ له لویو ارزښتونو سره هم اشنا شو. وروسته بیا غني خان امریکې ته ولاړ او د امریکې په لویزیانا ایالت کې په زده کړو بوخت شو.

د غني خان د اثارو لویه برخه شاعري او هنري منثور اثار دي، چې پر ۱۳٦۴ کال کې یو ځل بیا په کابل کې ټول او چاپ شول. ده خپل اثار نه یوازې په پښتو ژبه خو په انګلیسي ژبه یې هم کښلې دي. د غني کلیات د افغانستان د قومونو او قبایلو وزارت له لوري چاپ شول، چې د هغه د اثارو تر ټولو لویه او معتبره نسخه بلل کېږي.

غني خان پر (۱۹۹٦) زېږدیز کال کې مړ شوی دی.

خدای بخښلي غنيخان  څو اړخیز شخصیت درلود. د هغه د سیاسي ژوند ځینو برخو ته نغوته وشوه، په شاعرۍ کې د ژور تخیل او فکر خاوند، شاعر، نثر لیکونکی،  رسام،  مجسمه جوړونکی، پیاوړی انځورګر او مصور وو.

وړاندې مو هم نغوته وکړه، چې د غني خان د څو اړخیز شخصیت پېژندنه او د ده د اثارو شعري او نثري هستونې، فلسفي ، عرفاني او هومانیستي روح لا ډېرو سپړنو، ویناوو، خبرو اترو او لیکنو او څېړنو ته اړتیا لري. پرهمدې بنسټ ما د ده د بشپړ او پوره پېژندګلوي په تړاو د افغانستان د نوموتي شاعر، پیاوړي لیکوال او ځیر کره کتونکي څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال سره ځانګړې مرکه ترسره کړې ده، چې د هغې په ترڅ کې مو د غنيخان شاعري د نوې ادبپوهنې، هنرپوهنې، ارواپوهنې، معیاري کره‌کتنې او سبک‌پېژندنې له اړخونو څېړلې ده. موږ وغوښتل، چې له ښاغلي دکتور لېوال سره د غني خان د شاعرۍ او هنر پر هغو اړخونو تم شو، چې تر اوسه لږ ځله بحث پرې شوی او هغسې ژور او ساینټیفیک لاهم څېړل شوی نه دی، څنګه چې بویه.

تاسو به په دغه مرکه کې زموږ د زماني د يوه لوی شاعر د شاعرۍ او فکر هغه اړخونه وپېژنئ، چې ښايي له ډېرو کلونو همداسې تياره پاتې وو. زه باور لرم، چې تر دې مرکې روسته به د غني‌خان د هنر او هنري شخصيت په اړه لانور بحثونه هم راوپارېږي، چې له سره يوځای کېدو روسته به د پښتنې هنر د کره‌کتنې او ادبپوهنې پر بډايه زېرمه يو نوی پوړ ور زيات کړي او د دغې ځانگې ليدلوري و تيوريک ارونه و رينبې به لا پسې پياوړې کړي.

## دا زما پوښتنې او دا هم د ښاغلي دکتور لېوال ځوابونه:

مسعود: ښاغلی لېوال صاحب، ځينې ليکوال او شاعران وايي، چې شعر څلور توکه (فکر، احساس، تخيل او آهنگ) رانغاړي، خو پوهاند مجاور احمدزيار د يوه ژبپوهاند او ورسره ورسره د ادبپوهاند په توگه په خپل اثر ((پښتو بدلمېچ - پښتو شعر څنگه جوړېږي؟)) کې دغه شمېره پينځه ښوولې، (( ژبه- آهنگ- احساس- انديشه- خيال)). تاسې په دې اړه څه ليد لرئ؟

لېوال: مننه، ډېر مو اوربدلي، چې ويل کيږي: د شعر تعريف سخت دی. شعر د بڼې، جولې (شکل) له مخې، شعر د منځپانگې و جوړښت له مخې او شعر د منځپانگې د سرچينې او د راپنځېدو د څرنگوالي له اړخه د پېژندلو وړ دی، ځکه نو له دومره گڼ‌اړخيزوالي سره په يوه لنډ و ساده پېژاند (تعريف) کې يې ځايېدل سخت دي. هغوی چې شعر له ادبياتو بېلوي او د ناژمنتيا له اړخه يې په نگه هنرونو کې شماري، هغوی د شعر د منځپانگې په لاشعوري سرچينو ډېر بحث کوي. خو له دې ټولو سره سره د شعر لپاره يو نومهالی تعريف داسې شوی: « شعر په لنډه او اهنگينه ژبه د اند او تخييل عاطفي ترون ته ويل کيږي.» په دې توگه وينو چې د شعر بنسټي رغوونکي توکي (عناصر)؛ ژبه، فکر يا اند، تخييل او عاطفه دي.

پخوا باور داسې و، چې ژبه د ادبياتو لپاره د خامو موادو حيثيت لري، لکه رنگ د انځورگرۍ يا خښتې و ودانيز توکي د معمارۍ لپاره خام مواد دي، همداسې ژبه د يوه ادبي اثر (شعر يا بل هر ځېل) لپاره خام مواد دي. دا نظريه تر دې روسته نوره زړه و نامنلې وگڼل شوه، چې ژبه پخپله د يوه ژوندي ارگانيزم په توگه رامخکې شوه. تر رغښتوالي Structuralism فيلوسوفيک – ژبپوهنيز تفکر راروسته ژبه د ژوند په هره برخه کې بنسټي وگڼل شوه او په ادبياتو کې ارزښت خورا محوري او بنسټي وگڼل شو. زموږ د قدرمن استاد پوهاند دکتور زيار نظر پر همدې بنسټ ولاړ دی.

پخوا باور داسې و، چې افکار او خيالات د ژبې په وسيله تمثيليږي، اوسنی باور داسې دی، چې ژبه د افکار او خيالونو په جوړښت کې ونډه لري. هر عصبي فعاليت تر دې روسته (وجود – حضور – Existence ) مومي چې ژبه مانا وروبښي،

ناڅاپه دې پایلې ته رسیږو، چې په حقیقت کې افکار او خیالات په خپله د ژبنیو توکیو یو سره اوبل شوی وجود دی. په شعر کې ژبه همدومره مهمه ده، لکه فکر، تخیيل، عاطفه او تصور. دا په شعر کې ښکلې، نښېځلې، توږلې ورنه شوې (صیقل شوې) ژبه ده، چې د شاعر عاطفه، اند او تخیيل هستوي، موږ ته یې رالېږدوي او او موږ په هغه حس کې شریکوي، چې شاعر یې لري. شعر ژبنی هنر دی.

مسعود: ((ژاک مارتین)) پخپل یو نامتو اثر کې داسې کښلي دي:

(( کله چې شاعر شعر لیکي له خپل ځانه بیګانه کېږي. دا چې ولې داسې کېږي؟ لامل یې یو اروایي او رواني حالت ګڼې.... ))، مارتین د خپل اثر په پای کې کاږلي دي: ((شاعر په شاعرانه الهام سره رواني لوري پیاوړې کوي.))

تاسو د دغو نامتو لیکوال د خبرو پر لاسوند په شعر کې الهامونه، خیالونه، احساسات او عاطفي انځورونه څه ډول ارزوئ؟

لېوال: مخکې مو وویل، چې شعر لاشعوري سرچینه لري. څه مانا؟

تر زیګموند فروید روسته د نوې ارواپوهنې ډېر تمرکز په انسان کې تر شعوري پوړ لاندې د نیمه ویښ شعور او تر هغه لا پسې لاندیني پوړ تحت الشعور باندې وشو. نوې اروپوهنې د انسان شاته تېل وهل شوې او ځپل شوې غوښتنې، غریزې، ګرومونه یا عقدې، کرکې، ویرې، عواطف او احساسات له منځه تلونکي نه، بلکې یوې ژورې کندې ته د رسوب کولو په شکل ترسیم کړل، چې د لارې موندلو په صورت کې ببرته د راوتلو هڅه کوي. روسته د فروید شاګرد (کارل ګوستاو یونګ) پر خوبونو د تجربو پر مهال د دغې لړۍ نورې پوړۍ هم وموندلې او دا نظریه علمي او پراخه شوه. یونګ ویل، چې تر فردي لاشعور ها خوا قومي او ټولیز (جمعي) لاشعور هم شته، چې د انسانانو تر منځ ګډ دی او نسل په نسل فردي لاشعور ته ورلېږدي، دا د غریزو، عواطفو، ویرو، مینو او کرکو یوه لویه زېرمه ده، چې لرغونتیا یې تر لومړنیو زړېبلګو رسیږي او موږ یې شتون په شعوري پوهه درک کولای نه شو، تر دې چې د دغې زېرمې فعالیت زموږ خوبونو ته بڼه ورکوي او په ځانګړیو رواني حالاتو کې سر راپورته کوي.

ښایي په همدې اړه د غنيخان دغه تمثیل له موږ سره د لاشعوري ساحې په پېژندنه کې مرسته وکړي:

| | |
|---|---|
| په لکها کاله اودهٔ وي | یو ساعت له راښدار شي |
| څو لکها به نور اوده وي | چې روان د مرګ په لار شي |

شاته تور یو سمندر دی                    مخکې لا توره بلا ده

مینځ کې یو د شبنم څاڅکی                    په غورځنګ لکه آبشار شي

د آدم زړه د کتو دی                    د ده توره دریابي ده

داسې تلو داسې راتلو کې                    دی بې‌خوده شي خمار شي

د اروپوهنې دغو موندنو په چټکۍ سره ادبیاتو ته مخه کړه او د شلمې پېړۍ ادبیات یې په ارادي بڼه تر اغېز لاندې راوستل. ادبپوهانو د دې نظریې پر بنسټ د کلاسیکو او لرغونیو ادبیاتو بیا سپړنه او کره‌کتنه پیل کړه او په دې بڼه یې په خورا لرغونیو اساطیري اثارو کې هم د لاشعوري پېښنو څرګنده او مهمه ونډه وموندله. د ادبیاتو له قلمرو سره د اراپوهنې ګاونډیتوب له خوبونو، اسطورو، زړو باورونو، عرفاني تمایلاتو، میتافیزیکي اړیکو او انساني سېمبولونو او زېږبلګو هم له ژبني هنر سره خورا پېچلې او نږدې اړیکي راوسپړلې. ایله دغه مهال د هغو رواني ځواکونو سرچینه او ځای‌ځایګی وموندل شو، چې پخوا مو د الهام، کشف، شهود او اشراقي موندنو په نومونو پېژندل.

په دې بڼه د شعر او په ټولیزه توګه د هنر د زېږنځای په اړه هم دا زړه دیالیکتیکي لانجه یوې پایلې ته ورسېده، چې چا به شعر د الهام و شهود بچی ګاڼه خو الهام و شهود یې په علمي/ تجربي بڼه راپېژندلای نه شو. هاخوا د الهامي ځواک منکرانو به شعر داسې ژبنی هنر باله، چې د فکري ریاضت او ځواکمن تفکر په مرسته رامنځته کیږي. تر دې زمانې تخییل هم یوازې یو فکري فعالیت ګڼل کېده. دوی ویل: تخییل په حقیقت کې ناریښتینی تفکر دی، چې له منطقي پولو تیریږي او د «داسې ده!» پر ځای «که داسې وای!» رامخکې کوي.

د اروپوهنې نویو موندنو تخییلي منځپانګه په لاشعوري زېرمو پورې وتړله او د خوب و شعر تر منځ یې پوله لکه د یوې نرۍ رڼې (شفافې) پردې په بڼه ترسیم کړه. دوی وویل: کله چې موږ خوب وینو، نه پوهېږو چې دا ناریښتینې څېرې، ځیزونه او پېښې دي، هماغه شېبه موږ په خوبونو داسې باور لرو، لکه ریښتیني حوادث چې وینو. شعر هم همداسې دی، په شعر کې شاعر جدي دی او د خپل هنري منطق په مټ غواړي پر تاسو خپل شعر ومني:

« که احسن او اکذب اوست!»

اوس نو دا خبره سمه بریښي، چې شعر الهام، شهود یا اشراقي پېښه ده، چې د یوه ځانګړي رواني – عاطفي حالت په دننه کې زیږي. سرچینه یې لاشعوري عواطف، احساسات، غرایز یا ګرومونه دي، چې روسته بیا د تفکر په مرسته قالب

مومي، اهنگینه ژبه یې د بیان ښکلاییز سینګار وي او تخییل دغه د برېښنا په شان ځغلنده څرک د یو بشپړ تصویر تر برېده د لېږد وړ ګرځوي او مخاطب ته رسیږي.

شاعري هم یارانه ده　　نه په زور نه په زارۍ شي

نه په چل نه په هنر شي　　نه په مال نه په خوارۍ شي

شاعري لکه باران دی　　کله تندر ګړزهر شي

ناګهانه داسې شړق شي　　چې صحرا هم سمندر شي

راځئ د دې ټولې پروسې یو تمثیل د انځورګرۍ په هنر کې وګورو: انځورګر یوه ښکلې څېره په خوب کېویني، چې د جنت د یوې ونې لاندې ولاړه ده، ټول خوب همدومره دی. سبا چې انځورګر راپاڅیږي، د خوب یوه شېبه یې په یاد ده، لکه یوه ځغلنده برېښنا، انځورګر غواړي دا شېبه خوندي او تلپاتې کړي، رنګ، مویک او سپینه پرده رااخلي، تر دې روسته د تخییل پړاو پیلیږي او انځورګر هغه الهامي شېبه په خپل ذهن کې په یوه بشپړه تابلو بدلوي، بیا نو د هنري تجربې، رنګونو، د سیوري او رڼا ترکیب او فکري انتظام په مرسته یوه ښکلې تابلو انځوروي، چې لیدونکي یې په لیدو نه مړیږي. عجیبه خو دا ده، چې انځورګر نه پوهیږي، هغه ښکلې څېره چې انځور کړې یې ده، څوک ده؟ چېرته ده او د ونې، ښځینه څېرې، له پاسه را خورې وړانګې او رڼاوې څه مانا؟

د (یونګ) ارواپوهنیزه نظریه وایي: د انځورګر په زړه ناخوداګاه (قومي او ټولیز لاشعور) کې د (حوا) اساطیري تصور، جنت، او الهي رڼا د یوه وسواس او تمایل په شان په میراث پاتې وو، چې ناڅاپي یې د خوب پردې ته راغلی، د انځورګر دا شېبه په یاد وه او د تخییل په مرسته یې بشپړه کړې ده. په دې توګه دغه تابلو د (حوا) په نامه نومول کیږي.

داسې خوبونه، شهود او الهامي شېبې هر انسان ته وریپېښیږي، په بله ژبه موږ ټول دغه رواني لاشعوري پانګې ته لاسرسی لرو، خو د انځورګر، شاعر یا بل هنرمند توپیر له ټولو نورو سره دا دی، چې دوی یې د خپل هنر و تخییلي ځواک په مرسته له نیست څخه راهستوي او موږ ته یې هم د لیدو وړ ګرځوي، خو عادي وګړي یې هېروي. په دې توګه وینو، چې هره شېبه په میلیونونو بالقوه هنري اثار د انسانانو په اروااو کې تر هستېدو مخکې ببرته مري، یوازې هنرمندان و شاعران یې له بالقوه حالته بالفعل هستۍ ته راولي او  تلپاتې کوي یې.

خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي معنا

پروت یم سر مې ایښی د خپل یار په زنګانه

خوب وینم چې پورته په هوا لکه د باز شومه

کیناستم په بام د محمود سترګې د ایاز شومه

پورته د خاموش زړګي نه خوږ د مینې ساز شومه

خرڅه مې په حورو کړه د ډمو زمانه

خوب وینم چې ناست یم د جیندي په یخه غاړه

شا مې اسویلو کې لکه سره شمع ولاړه

سرې شونډې مسکۍ شوې راته یې وې چې ژاړه ژاړه

څکه دې د زړه وینې دا شراب دي مستانه

خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي معنا

خوب وینم چې باغ دی د ګلونو او ماښام دی

سرې سترګې ساقي د ساقي سرو ګوتو کې جام دی

لاس په ستار پروت لیونی مست لکه خیام دی

اړي پرې نرۍ نرۍ د مینې افسانه

خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي معنا

خوب وینم چې سپینه سپوږمۍ پاس په خندا راغله

ما له محبوبه په شرم شرم خندا راغله

شونډو کې شراب او په کوکۍ کې قضا راغله

سُر خمار يې راکه پيمانه په پيمانه

خوب وينم عالمه که يې څوک راکړي معنا

تر پايه...

مسعود: ګران لېوال صاحب د يو شمېر ليکوالو او څېړونکو د خبرو پر لاسوند خدای بخښلی غني‌خان څو اړخيز شخصيت درلود. هغه سياست پوه، ټولنيز پوه د ژور تخيل او فکر خاوند، شاعر، نثر ليکونکی، رسام، مجسمه جوړونکی، پياوړی انځورګر او مصور وو. تاسو د ده په شعري او نثري هستونو کې د ده څو بُعدي شخصيت څه ډول څېړئ ؟

لېوال: د غني‌خان زمانې، کورني چاپېريال، ژوند شرايطو او فکري فضا له ده څخه ګڼ اړخيز شخصيت جوړ کړ، د ده شخصيت لږ و ډېر د شرايطو، کورنۍ او ټولنيز موقف له نظره خوشالخان خټک ته ورته دی.

که څه هم موږ به ډېر په دغه مرکه کې د غني‌خان پر شاعرۍ، انځورګرۍ او هنري - فرهنګي هڅو تم شو، خو ښه ده، چې د هغه د شخصيت د ګڼ اړخيزو ځانګړنو پېژندنه هم وکړو. ښايي دې پوښتنې ته ځواب ومومو، چې ولې او چا غني‌خان «غني» کړ؟

هو، غني‌خان سياست کړی و، ټولنيز شخصيت و، مګر د ده د شخصيت جوهر د هغه په شاعرۍ او انځورګرۍ کې څرګند و. په سياست کې دی د پلار ترسيوري لاندې و او هغه تاريخي دوره چې ده په کې ژوند کاوه، دومره ترخه وه، چې د ده سياسي برياوې يې له سترګو پرې ايستلې دي. که څه هم په سياست کې يې هم څه برياوې په برخه شوې وې، په ۱۹۴۵ کلونو کې د هيندوستان د پارلمان تر غړيتوب پورې ورسېد، که څه هم لا ځوان و، خو د خپل استعداد او فصاحت له برکته يې په پارلمان کې ځانګړی ځای ورخپل کړ. له لويه سره غني‌خان په يوه سياسي چاپېريال کې رالوی شو، پلار يې پاچاخان ( عبدالغفار خان) دخپلې زمانې پاموړ سياسي – ملي شخصيت و. غني‌خان د همداسې چاپېريال په دننه کې د هغه مهال تر ټولو نوموتيو سياستوالو مهاتماګاندی، جواهر لعل نهرو او ګڼو نورو سره له نږدې اشنا و. ده د پښتنو ځوانانو د راغونډولو او انسجام لپاره پر ملتپاله تفکر ولاړ «زلمی پښتون» ډله جوړه کړه. شاعر او عاطفي غني، پرعکس په سياست کې پرګماتيست او د عمل فکر درلود، ان چې په ډېر ادب يې د خپل پلار د عدم تشدد سياست په وړاندې هم د اعتراض غږ پورته کړی دی. د ده په ژوند پېښو کې لولو، چې د مرتجع او ښکېلاکپلويو ځواکونو په تېره بيا

انگریزانو او مسلم لیګیانو له خوا د خدایي خدمتګارو په وړاندې ګواښونه زیات شول، نو غني‌خان  شاوخوا اتیا زره پښتانه زلمیان راټول کړل، چې د خدایي خدمتګارو ژوند او فعالیتونه خوندي وساتي.  غني‌خان  په ډېر زلمیتوب کې، هغه مهال، چې د اعلیحضرت شاه امان الله په وړاندې انګریزپلوی پاڅون وشو، وغوښتل د یوه روغتیایي پلاوي په ترکیب کې د اماني لښکرو مرستې ته راودانګي، چې انګریز یې مخنیوي وکړ. غني‌خان  په سیاسي هلو ځلو کې سختۍ ولیدې، زندانونو ته ولاړ، تر تعقیب لاندې و، دلته او هلته یې ځارنه کېده. د پاکستان له بدمرغه زېږون سره سم مسلم لیګي واکمنۍ ونیوه او شپږ کاله یې بندي کړ. دا ټولې پېښې روسته د هغه په شعر او انځورګرۍ کې سر راپورته کوي. د هغه سیاسي ارمانونه، خاطرې، هڅې و ربړې چې ګاللې یې دي، دلته و هلته د هغه په کلام کې وینو او که ځیرمن کره کتونکی یې شعرونه وشني، پوهیږي چې په ځینو شعرونو کې یې جدي سیاسي مسایل ځان څرګندوي.  په ټولیزه توګه، د غني‌خان  ملي فکر، هېوادپالنه، د خپلو خلکو د یووالي او تُند ټولنیز انتقادي چلند پرېمانه موتیفونه د هغه په شعرونو کې موندلای شو. غني‌خان  د خپلو خلکو او ټولنې د روسته پاتې والي عناصر په سختۍ ټکولي او په دې برخه کې یې شعر د روښانتیا او ویښتیا پریمانه څرکونه لري.

مچ د زمري سترګې شکوي ماشی د اوښ وینه

خدایه! ستا دا عجیبه دنیا توره ده که سپینه

مږ لسو ګېدړو ببر شېر په بونډۍ چرګه کړ

سپور شغال په پړانګ دی د غرڅو و ښکار له ځینه

ناسته ده د ډم د لندن لور په سرو ورېښمو کې

لور د لوی شېرشاه لور یې په لاس دی لو له ځینه

مست مغروره سر د پښتون ټیټ سترګې یې ښکته دي

شرم داسې شرم چې شرمونه شرموینه

په دې مرکه کې به د هغه د شعر په ځانګړنو روسته تفصیلي خبرې وکړو، خو د نثر په اړه یې ښایي یادونه وکړم، چې له غني‌خان  څخه د بشپړ راپاتې نثري پښتو کتاب په اړه – چې خپور شوی وي- زه کومه څه نه وینم.  داسې ویل کیږي، چې د هغه یو شمېر لیکونه راټول شوي وو، چې یوه برخه یې په پښتو وو. له دغو لیکونو پرته یې ما کوم نثري بشپړ اثر

نه لیدلی او نه مې یې په اړه څه اورېدلي دي. ځینو سرچینو په انگریزي ژبه د هغه یو کتاب یاد کړی، چې (پټانز) نومیږي. د غني‌خان ځو لیکونه او د شعرونو په اړه د هغه منثورې شرحې چې ما کتلي، روان، خوږ، لنډ او له تعقید و تکلف پاک پښتو نثر یې دی.

ما د غني‌خان انځورگري، مجسمې او هنري تابلو گانې په ځیر کتلي دي. په دې برخه کې یې د کورنۍ په تېره بیا گران ملگري مشال خان ( د غني‌خان لمسی او د کور ځلانده مشال) د صمیمي ملگرتیا مننه کوم. غني‌خان د خپلې شاعرۍ په اندازه – او حتی په ځینو برخو کې تر شاعرۍ زیات – په خپل تجسمي هنر کې د جلا سبک و لارې خاوند دی. ځینې کارونه یې د موډېرنیزم گڼې ځانگړنې په ځان کې لري، ښایي په گوته شمېر پښتنو انځورگرانو کې دی، چې خپل رواني حالتونه د رنگ او مویک په مرسته ترسیموي. د غني‌خان انځورگر ذهن یوه نرینه او یوه ښځینه څېره ډېره منعکسوي. هغه نرینه چې دی یې انځوروي، داسې ایسي، چې د ده خپل تجسم په بېلابېلو رواني حالتونو کې ښیي. سېمبولیزم یې ټولیز سبک دی، خو په ځینو انځورونو کې یې د کوبیزم سبکي رگونه هم له ورایه ځان ځرگندوي. خان ځان انځور کړی دی، خو چوپ یا صامت پورتریت نه، بلکې داسې انځور چې خپل رواني حس یې ورلېږدولی دی. په دغو ځان انځورونو کې غني‌خان خواشینی، متفکر، بې پروا او کله کله بشپړ ناهیلی وینو. د غني‌خان انځورگري له هنري – رواني پلوه ښایي بل ځای په تفصیل وارزول شي، خو په مجموع کې ویلای شو، چې د ده دا هنر په هېڅوجه د هغه تر شاعرۍ کم گڼلای نه شو.

پورته ځرگندونو ته په پام، موږ د غني‌خان د ژوند درې مرحلې پېژندلای شو:

د ماشومتوب په نازولي دوران پسې د ځوانۍ، ښکلا، زدکړو، سیاست او فعالیت خوځنده دوره، چې له مینې، کړاوونو، تجربو او خوږو ترخو ډکه دوره ده. دربیمه دوره د پاخه، مجرب، ارام خو دننه یو توفاني غني وینو، چې شعر لیکي او انځورگري کوي. له فعال سیاسته یې لاس اخیستی یا ناهیلی شوی دی، ټول ژوند یې د تجربو، دردونو، مینو، عاطفو، ناهیلیو او حسرتونو په یوه خزانه بدل کړی، چې خپلو مخاطبانو ته یې شاعرانه کوي. په دې پړاو کې غني‌خان عرفان او د ژوند و هستۍ په اړه فیلوسوفیکو پوښتنو ته ورننوتلی او په دې توگه یې په دغه پړاو کې خپل تلپاتې هنري اثار پنځولي دي، چې ښایي روسته پرې په تفصیل وغږیږو.

مسعود: د غني‌خان لومړنی شعرکوم دی او څه وخت یې کښلی دی؟ تاسو د ده لومړنی شعر څه ډول ارزوئ؟

لېوال: د غني‌خان هغه ژوندلیک چې ارواښاد استاد بېنوا په «اوسني لیکوال» کې کښلی یوه له دقیقو بایوګرافیو څخه دی، ځکه استاد بېنوا له غني‌خان سره خورا نږدې ملګرتیا لرله، یو بل ته یې لیکونه کښل او ښکاري، چې استاد بېنوا د غني‌خان له ژوند پېښو په جزئیاتو خبر و. استاد بېنوا لیکي:

« د ۱۹۲۹کال د جولای ۲۳ نېټه وه، چې غني‌خان د ځورلسو کلونو په عمر په بمبئی کې د لندن په نیت د اوبو جهاز ته وخوت او په همغه ورځ یې خپل لومړی شعر د « تسلی» په نامه ولیکه...» :

د تهمت نه به جهان کې څوک خلاص نه شي

چې اسمان وي کله کله وي وریځې

چې کم اصله وي په هېڅ هم نه خپلیږي

چا غږلي دي د شنو شګو نه مځې

د قالین برابری به کله وکا

که هزار رنګه شي رنګ بون او بروځې

که د وچو په ډېرۍ کې ته یو لوند یې

ګمان مه کوه چې ته به ونه سوځې

د مردانو کار د پلک ځواب په سوک دی

هسې نه چې کړې ژړا لکه د ښځې

چې وخت راشي ښه زړه تش کړه غني‌خانه!

څو د قهره به لړمن کې پټ پټ سوځې؟

دا څنګه شعر دی؟

په تاریخي کره کتنه کې د یوه متن ارزونه د هغه فرهنګي چاپېریال، تجربو او د پنځوونکي ترمخ ایښې متون څرګندولای شي. یو څورلس کلن زلمی هغه هم په ۱۹۲۹ زیږدي کال کې، چې لا د پښتو متونو چاپ و خپراوی تقریباً په نشت شمار

و. دې ټولو ته په کتو دا خورا وچت شعر دی. د خوشال خان اغېز پرېږ له ورایه ښکاري او داسې ثرګندېږي، چې غني‌خان هاغه مهال خوشال لوستی و.

د مردانو کار د پلک ځواب په سوک دی

هسې نه چې کړي ژړا لکه د ښځې

له دې اغېز سره سره، په دغه لومړني شعر کې هم د غني‌خان تشبیهات نوي دي. د کلاسیکو دیوانونو تشبیهي نشخوار یې تکرار کړی نه دی. « چې اسمان وي کله کله وي وریځې» دغه استعاري جمله خوندور نوښت لري. که انسان د اسمان په اندازه لوی، روڼ، لوړ او واکمن هم وي، بیا یې هم وریځې مخ ورپټولای شي، انسان او اسمان، وریځې او تهمت په ښکلې بڼه سره تشبیه شوي دي.

مسعود: مهرباني وکړئ د غني‌خان د اثارو په تړاو په لنډه توګه خپل لید راسره شریک کړئ؟

لېوال: په پښتو شاعرۍ کې د غني‌خان بېلابېلې ټولګې لکه: د پنجرې چغار، پلوشې او پانوس بېلې بېلې خپرې شوې دي، تر دې چې د هغه بشپړ کلیات په کال ۱۳۶۴ لمریز کې د افغانستان د قومونو اوقبایلو وزارت په کابل کې خپور کړ، د تدوین، سمون، اهتمام او سریزې زیار یې سرمحقق زلمي هېوادمل ایستلی، چې بیا روسته ګڼ ځلې چاپ شوی دی. خو اصلي کیسه دا ده، چې د دغه کلیاتو تر چاپ راروسته بیا د غني‌خان تر مړینې ۱۳۷۴ پورې خامخا هغه نوره شاعري هم کړې ده، شخصاً ماته ثرګنده نه ده، چې د هغه دغه لس کلنه شاعري بېله خپره شوې که نه؟ په هر صورت ښه به وي دلته یې په ټینګار یادونه وکړو، چې بویه دغه لس کلنه شاعري یې د ځانګړي چاپ ترڅنګ د یوه باصلاحیته مدون له خوا پر کلیاتو وراضافه او بشپړ کلیات یې بیاځلې چاپ شي.

تر دې ورهاخوا د هغه (پټانز) نومی انګریزي کتاب هم دوه ځلې چاپ شوی یو ځل په بمبئی (مومبای) او بیاځلې په پېښور کې. غني‌خان دغه کتاب خپل پلار (پاچاخان) ته ډالۍ کړی دی.

مسعود: غني‌خان په ډېرو سختو او تورو جیلونو کې ډېرې بدې او ترخې شپې او ورځې تېرولې‌ئ په هماغه وخت کې یې د (پنجرې چغار) په نوم شعري ټولګه چې د لیکوالو له نظره د شعر د نړۍ شهکار یاد شوی کېنلې ده. ولې دې اثر دومره شهرت ومونډ؟ تاسو د دی کتاب شعرونه او د غني‌خان د ژوند دا پړاو څه ډول ارزوئ ؟

لېوال: د پنجرې چغار د یوه یاغي تفکر خاوند شاعر حبسیات نه، بلکې د ازادۍ د حسرت نوستالژیک رواني فورانونه دي، چې په کلاسیک مفهوم د حبسیاتو یا د زندان د دورې له شاعرۍ سره ثرګند توپیرونه لري.

غنيخان  خپل دا کتاب خپلې مېرمن ته په دې شعر ډالۍ کړی دی:

یو خوب د شاعر په جامه انساني

یوساز دور- دراز ښکلی خوږ اسماني

یو گل د جنت په خصلت رحماني

یو جسم ناري یو زړگی نوراني

شوله داسې پیدا د غنی دلبرا

په غیرت پښتنه په ښایست ایراني

لومړۍ دودماتونه: په ۱۹۵۳ میلادي کې یو پښتون ټول تابوگان ماتوي او خپلې مېرمنې ته شعر لیکي، ښکلا یې په کې ستایي او ځانگړی ټاکلی مخاطب لري، د یوې مجهولې ښکلا ستاینې پرځای لوستونکي ته د ښکلا پته ښیي او د خوشال په وینا: « په ښکاره ناري وهي چې....»

ومو ویل، چې غني په زندان کې نه د مسعود سعد سلمان په شان د نای د حصار له زندان څخه د ازادېدو په ارمان چیغې سورې وهلي

نالم ز دل چو نای من اندر حصار نای

پستی گرفت همت من زین بلند جای

آرد هوای نای مرا ناله های زار

جز ناله های زار چه آرد هوای نای

او نه یې هم لکه خاقانی شروانی له بندیخانې څخه د خلاصون لپاره د مسیحي روم د قیصر مدحه په دې هیله کړې، چې پر شروانشاه د خپل اغېز له مخې زور واچوي، چې دی راخلاص کړي:

فلک کژروتر است از خط ترسا

مرا دارد مسلسل راهب‌آسا

نه روح الله در این دیر است چون شد

چنین دجال فعل این دیر مینا

من اینجا پای بند رشته ماندم

چو عیسی پای بند سوزن آنجا

ان لا د زنداني اشرف خان هجري په شان د شکایت سړی نه دی، چې ووایي:

یا دکن د غم وطن، ښادي يې نشته

یا په ما غمونو شپه کړه مبتلا یم

غنيخان په زندان کې هم خپلې زولنې نه شرنګوي، د معشوقې د پایزېب په شرنګا پسې لیونی دی:

په نظر کې مې          د باغونو خیال

په نصیب کې مې      لاره د غرونو

عجیبه اچار          مې اچولي دي

د ګلونو            او د غمونو

په غوړونو کې        شړهار د ساز

د ګنګرو پایزېب      او خندا اواز

ډوب مې زړه لټوي          بل څه نوی ساز

... ترپایه

داسې نه ده، چې په زندان کې پر غني سختۍ نه وې. نه! غني د زندان سختۍ هم تصویر کړې دي، خو دی فکر کوي، چې وچ شکایتونه شعر نه، منظومې ساندې دي. غنيخان که د زندان چاپېریال ترسیموي هم په خورا هنري بڼه يې ترسیموي:

پنسن مې «بخمیر» روک که قلم تش د سیاهۍ نه

کوټه کې یخ او تریخ لوګی، بهر یخه سیلۍ

دماغ مې پرېشانه زړګی پریوتی د مستۍ نه

خیالات مې روک نوستلی غنم وهلی په ږلۍ

د غني‌خان په زنداني شعرونو کې « د فریدون د مور خط» شعر له نثري مقدمې داسې څرګندېږي، چې اوس به نو شاعر د زندان له سختیو شکایت کوي، په خپلې محبوبې پسې به ژاړي او خپل نوي زېږېدلي زوی «فریدون» لیدو ته به خپله تلوسه شاعرانه کوي، ځکه ده لیکلي، چې په زندان کې ناروغ او خپلې ناروغې مېرمنې ته خواشینی وم، چې په دې کې زیری راغی چې زوی مې پیدا شو. دا شعر د ناهیلۍ، درد او خوشالۍ له ګډون څخه د جوړ احساس پر مهال لیکل شوی دی. مګر کله چې شعر پیلیږي، ګورو چې شاعر د خپلې محبوبې «مېرمن» له خولې نه ځان ته مخاطب دی.

ما د دوو لېو خاورې تا له ژوند او جهان جوړ که

خپلې مینې داسې یوړم بل مې تا له جانان جوړ که

دا چې زه د وفا ډکه د جنون جهان له لاړم

دا مې لال هغلته وموند د همه لالونو ښکلی

په دغه مخاطبه کې د غني‌خان محبوبا هغه ته حوصله ورکوي، خو یوازې په عاطفي خبرو نه، بلکې په داسې مستدلو استعارو او تلمیحاتو، چې شاعر د زندان او ان د دغې نړۍ له ژوند څخه ډېر ورپورته هغې سترې معنوي نړۍ ته بیایي، چې هره سختي وزغملای شي او د ابدي وصال په تمه دا درد و رنځ هېر کړي.

ته چې شوې د اور بخری زه هم سره لمبه د اور شوم

چې ستا زړه په تالاش سر شو، زه شوم لاره، زه امام

دا چې ستا شونډې شوې تږې د مستۍ د سرو شرابو

دا خو ځکه زه جانانه هم شراب شومه هم جام ...

ترپایه

د غنيخان  یوه بله زنداني شاعرانه خاطره د «چینډخ» شعر دی. د دې شعر لپاره د زندان چاپېریال یو تمثيلي دریځ وربښلی دی، نور نو شاعر له بېلابېلو ژویو او الوتونکیو سره خبرې کوي، هم ژوي او هم د ده دیالوگ/ مونولوگ ژور او سېمبولیک دي. دی د شعر په منثوره مقدمه کې لیکي: «... کله به تور قارغه لکه د یو جمهوري وزیر اعظم د شور او چل نه ډک په دیوال کیناست...»  د دغه شعر سېمبولونه ټول د سپړلو وړ دي، ښایي بېلابېل شخصیتونه ورڅخه مرام وي، ښایي هر یو یې د غنيخان  په ژوند کې یو مهم کرکټر تمثیلوي، څوک خبر؟

مخ دې د شیخنو په شان نه خاندي اوښیار دی

ښکلی دې اواز لکه د ژرندې د غرار دی

سترگې بټې بټې، بغې بغې تشې تشې

چغه دوه منی غریبه،  توره دوه اوربشې

د زندان چاپېریال شاعر ته سوژه ورکوي، الهام وربښي او د خپلو افکارو د تمثیل لپاره کرکټرونه ورکوي. ځکه خو پایله اخلو، چې د غنيخان حسیات په زندان کې د نړۍ د نورو شاعرانو له تجربو څخه بېله او مستثنی ده.

مسعود: هر شاعر او لیکوال د خپلو لیکنو او شعرونو لپاره ځانگړی ادبي سبک او ښوونځی لري. ویل کیږي چې غنيخان  یو له هغو پښتنو شاعرانو څخه دی، چې ځانگړی سبک او ښوونځی یې درلوده. تاسې دا سبک او ښوونځی څه ډول ارزوئ؟

لېوال: دا خبر ریښتیا ده، چې غنيخان د ځانگړي سبک خاوند شاعر دی، بلکې لا ویلای شو، چې په نومهالیو شاعرانو کې د یوې ځانگړې لارې راپیلوونکی دی. دا، چې وایو د ځانگړي سبک خاوند دی، نو دا ورسره باید ومنو، چې له نورو سبکونو یې لاره بېله ده.  کومې سبکي ځانگړنې لري؟ دې پوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره باید سبک وپېژنو:

سبک  Style  گڼې پېژندنې لري، د «سبک» وییزه مانا د سرو او سپینو زرو ویلې کول او په کالبونو کې اچول دي، اصطلاحي مانا یې هم شیوه، تگلار، طرز او ځانگړنه ده. یوه عامه پېژندنه یې په تېره بیا په هنر و ادبیاتو کې د هغو ځانگړنو وحدت دی،  چې د یوه تن په اثارو کې لیدل کیږي.  خو دا مهمه ادبي اصطلاح په دومره اسانۍ او عام پېژند کې نه ځاییږي، ځکه د سبکونو تشخیص بیا سبکپوهنې یا Stylistics  ته اړ دی، چې د دغې پوهنې معیارونه او

د سبک پر ځانګیز او تخصصي پېژند اغېز ښندي او ان بدلوي يې. موږ په رحمان بابا کې څه لرو، چې Disciplines شعر يې د خوشال خان خټک تر  شعره ځانګړی کوي او موږ يې پېژنو؟ حميد مومند ولې موشګاف ګڼو؟ سبک يې څه دی؟

ولې وايو، چې شيدا د هيندي سبک ممتاز استازی دی؟ د دوی ټولو توپيرونه بيا له روښاني مکتب (دولت، ارزانی، ميرزا) او نورو سره څه دي؟ په شعر کې د سبکي ځانګړنو يووالی او ګډون يوازې په ژبه پورې تړلي نه دي، ليدلوری، موتيفونه، د تفکر اوژبې ترمنځ اړيکي او رغښت‌توکي نورې سبکي ځانګړنې دي. فورماليستيک اړخونه د سبکپوهنې مهم ارکان دي. په ادبي اثارو کې موږ ژبني سبکپوهنه Linguistic Stylistics او بلخوا ادبي هغه Literary Stylistics لرو. پردې بنسټ ښايي د يوه سبک د پېژندلو لپاره درې پړاوونه په پام کې ولرو:

۱ـ ځانګړی ليدلوری، ۲ـ غوراوی، ۳ـ د ارزونې او کره کولو تول پارسنګ او معيارونه

د ژبني سکښت، سېمبولونو او استعارو، اصلي موتيفونو او فکر تکرار او تناوب موندل مرسته کوي، چې د ليکوال يا شاعر سبک وپېژنو، خو د دغه تکرار او تناوب د علت پېژندل د سبکپوهنې علمي ځواب ورکولای شي.

خوشال ولې ويل:

څو وانه خلي له غلــــــــيمه انتقام

مـــرد نه خـوب کا نه خـوراک کا نه ارام

يا :

کل ګټنه ده د تورې　　　　که کابل دی که کشمير

مېړني دي چې ياديږي　　　　په سندرو هم په وير

او:

د تورو په ميدان کې چې سودا وي د سرونو

هغه زمان مې ګوره تل به سور وي زما اس

خو رحمان بابا ويل:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي

اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

ته چې بل په غشیو ولې هسې پوه شه

چې همدا غشی به ستا په لور ګذار شي

ته چې بل ته کوهي کنې هسې پوه شه

چرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

کله، چې موږ د دغو دوو سترو شاعرانو پر شخصیتونو، کورنیو، زمانو، د روزنې شرایطو، فکري ځانګړنو او ژوندپېښو څېړنه وکړو، نو راته څرګندیږي، چې خوشال یو پوځي – سیاسي مشر و او د شعر حماسي منځپانګه یې د خپل ژوند د تجربو محصول دي، خو پرعکس رحمان بابا یو متصوف، ارام، انزوا پسند او اخلاقي واعظ و، چې نړۍ یې په سوله او اخلاقي موازینو ولاړه لیده.

د دې دواړو شاعرانو د نړۍ لیدونو ترمنځ توپیر د دغو توپیرونو تکرار او پر شعري رغښت یې اغېز او د کره کولو لپاره یې تولپارسنګ د دوی سبکي توپیرونه هم راښوولای شي او د دواړو سبکونه هم.

د غنيخان سبک پېژندنې ته د ورننوتلو لپاره موږ باید له فورمالیستیکو ارزونو تومنه ولرو. روسي فورمالیستانو په یوه ادبي اثر کې ژبنی جوړښت د اثر تر ټولنیز، اخلاقي، ارواپوهنیز او فکري اړخونو مهم ګاڼه. دوی په دې باور و، چې شاعر یوه نوې ژبه رامنځته کوي، چې له عامې ژبې سره توپیر لري. فورمالیزم د ۱۹۱۵ څخه تر ۱۹۱۷ کال پورې د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال رامنځ ته شوی مکتب دی، مهمې څېرې یې ویکتور شکلوسکي، ایخن باوم، یوری تنیانو، یاکوبسن او ولادیمیر پروپ دي.

په پښتو نومهالیو ادبیاتو کې غنيخان هغه شاعر دی، چې له فورمالیستیک لیدلوري یې د شاعرۍ سبک د ښه پېژندنې وړ دی.

اې د پستو سترګو ښاپیرۍ، چې ستا دي یاد که هېر

هغه دوزخونه تېر او هغه جنتونه تېر

يو بخرى نور چې به کړ کل جهان له نوره ډک

يو رنګين نظر به غمګين زړه کړ د سروره ډک

«پستې سترګې» څه مانا؟ دا ترکيب د غنيخان تر همدغه شعر پورې اوربدل شوی و؟ يا هم «رنګين نظر» دا څنګه ترکيب درته ښکاري. د ښکلا پنځونې لپاره په ژبه کې رغښتې بدلون. فورماليستانو پر دې ژور ژبپوهنيز او ماناپوهنيز بحث کاوه.

فورماليستانو له واحدې مادې څخه د بېلابېلو بڼو خاوند توکيو د جوړولو توپير د سبکپوهنې لپاره غوره بېلګه ګڼله. دوی فکر کاوه چې که موږ ويلې شوي موم ولرو او همدا ويلې موم د بېلابېلو شکلونو په قالبونو کې تويې کړو، نو شېبه روسته به يو اس، بله کوتره، يوه ونه او ښايي بلخوا يوه پياله يا صراحي ولرو. که څه هم اصلي ماده (موم) يو دی، ښايي رنګ يې هم هماغه يو رنګ وي، خو ترې جوړې شوې بڼې بېلابېلې دي، ولې؟ ځکه قالبونه بېلابېل وو. ژبه، تخييل، تفکر او ان وزن و اهنګ به ګډ وي، خو د يوه شاعر له قريحې به مرغۍ الوځي او د بل شاعر له ذوق څخه به د اسونو يو خېل په منډو وي. مهمه دا ده، چې تخييل خوځښت ولري. د روسي فورماليزم يو مخکښ ولاديمير پروپ په دې باور و، چې که د يوه شعر يا کيسې جوړښتي عناصر په يوې لرغونې عقيدوي سرچينې کې ريښه ولري، همدغه عقيدوي رنګ به له ورايه ځان څرګندوي، که دا شعر په حماسي بڼه کښل شوی وي يا عاشقانه يا مثلاً عرفانی. د ده له نظره ذهني موتيف په خپله په يوه داسې شکل بدلېږي، چې د اثر رغښت يا فورم جوړوي.

د فورماليزم له نظره په سبکپېژندنه کې دوه نومونې مهمې دي: «اشنايي‌تورنه» او «رابرسېرونه».

اشنايي‌تورنه؛ شکلوفسکي په دې باور و، چې زموږ درک د بيا بيا ځله تکرار له امله له ګڼو مفاهيمو سره عادت کيږي، داسې لکه د سيند غاړې هستوګن، چې د سيند له غږ سره اشنا دي او داسې وي لکه نه يې چې اوري، خو که له بلې سيمې نابلده څوک راشي، نو د سيند غږ به له ورايه اوري او فکر به کوي، چې يو غږ نوی دی. په دې توګه که موږ ژبه داسې وکاروو، چې زموږ ادراک نوښت ته ورسيږي همدغه بهير ته «اشنايي تورنه» وايو. په سبکپوهنيزه څېړنه کې که څېړونکی د يوه شاعر په متن کې رابرسېره شوې اشنايي‌تورنې تشخيص او وشني، همدې ته رابرسېرونه ويلای شو:

زړونه پټ په نور لکه ليده وي په کالو کې پټ

مرګ و په خندا بانګ د زرکو په نارو کې پټ

خيال به د نسيم په شان ګلونو له ماښام له ته

عقل مرور د حورو ساز له او خیام له ته

تن کې مې زړګی نه و، یو لال و د شغلو نه ډک

سترګې د هر رنګه، هر اندام د ولولو نه ډک

اول داسې وګڼئ، چې غنيخان ځه وايي؟ همدغه څه په عادي خبرو کې بیا ووایاست یا یې ولیکئ، وګورئ، چې غني څه بدل کړي دي، ستاسو له «اشنا» وینا سره یې توپیرونه کوم دي؟ زړونه څنګه په نور پټېدلای شي؟ داسې پټ لکه لیدل په جامو کې. مرګ څنګه په خندا کیږي؟ او بیا د زرکو په نارو کې پټیږي؟ خیال څنګه لکه نسیم ماښام مهال د ګلونو لیدو ته ورځي او مرور عقل خیام او حورو ته ورځي [ په یوه ژبني قالب یا فورم کې خیام، حورې، ساز، مرورعقل] څنګه سره یوځای کیږي؟ سترګې څنګه له رنګونو ډکیږي؟ او... اساسي پوښتنه دا ده، چې ولې شاعر داسې ژبه د خپلې وینا لپاره ټاکلې ده؟ هر ترڼګ څه ډول نوې (مانا) رامنځته کوي؟ داسې مانا چې پخوا زموږ په عادت شوي ادراک کې نه وه؟ همدغه نوې ماناوې او نښې رابرسېره کړئ، ګورئ چې ستاسو له اشنا ادراک سره څومره توپیرونه لري؟ دا ټولې هغه ځانګړنې دي، چې د غنيخان سبک ټاکي. کاشکې د دکتورا یا ماسترۍ کوم تکړه محصل ته د ماناپوهنې او ژبني فورمالیسم له نظره د غنيخان د سبک پېژندنې تیزس وروسپارل شي، دا ډېر اوږد علمي بحث دی او په دې وړه لیکنه کې نه ځاییږي.

د غنيخان سبک دومره ممتاز او ځانګړی دی، چې د ادبیاتو یو مبتدي زده کوونکی هم کړلای شي، د لوستلو له یو څه ریاضت روسته د هغه شاعري – پرته له دې چې نوم یې پرې کښل شوی وي – وپېژني.

د غنيخان لویه سبکي ځانګړنه د هغه د شعرونو ژبه ده. شډله، بومي، ناسولېدلې او ډېره ګړدودپاله هشنغرۍ ژبه. د غنيخان د ژبني سبک پر ځینو ځانګړنو به وړاندې هم وغږیږو، خو دلته یې د ژبني سبک دا ځانګړنې وګورئ:

غني په ژبه کې له متلونو، ګړنو، کړنو، ولسي اصطلاحاتو او په خلکو کې دود کنایو او استعارو ځخه کار اخلي:

د تهمت نه په جهان کې څوک خلاص نه شي چې اسمان وي کله کله وي وریځې

چې کم‌اصله په هېڅ هم نه خپلیږي چا غړلی دی د شنو شګونه مزې

د قالین برابري به کله وکا که هزار رنګه شي رنګ بوڼ او بروزې

که د وچو په ډېرۍ کې ته یو لوند یې ګومان مکوه چې ته به اونه سوزې

د مردانو کار د پلک څواب په سوک دی    هسې نه چې کړي ژړا لکه د ښځې

چې وخت راشي ښه زړه تش کړه غني‌خانه    څو د قهره به لړمون کې پټ پټ سوزې

«چې اسمان وي کله کله به وي وريځې» «کم اصل په ډېر څه نه خپليږي» «چاغړلي دي د شنو شګو نه مزې»، «رنګ و بوڼ او بروزې د قالين برابري نه کا» ، « د و چو له زوره به خامخا لامده سوزي»، « مېړونه د پلک څواب په سوک ورکوي»، « په لړمون کې پټ پټ سوزېدل» ټول په زړه پورې ولسي – فولکلوريک اصطلاحات او متلونه دي. د غني‌خان  شعرونه له پښتني فولکلور څخه مالامال دي.

د دود ادبي معيارونو په تېره بيا قافيې، رديف او ان قراردادي وزني رکنونو په وړاندې ناژمنتيا؛ په دې شعر کې وريځې، مزې، بروزې، سوځې، ښځې، بياځلې سوځې سره قافيه شوي دي. په قافيو کې روي توری يوازې د تلفظ په اعتبار کارول شوی دی. قافيه يو بيت روسته تکرارشوې ده. دا ټول هغه څه دي، چې غني پخپله هم اعتراف پرې کوي، چې ډېره يې پروا نه ساتي.

 غني‌خان د ژوند چاپېريال تر اغېز لاندې له بغاوت ډکه شاعري کړې ده، باغي فکر د هغه د سبک يوه محتوايي ځانګړنه ده. له قشري ملايانو او سياسي شويو شيخانو سره يې ورانه ده. يوځانګړی عرفاني ليد لري. د سېمبولونو، استعارو، تشبيهاتو، کنايو او تمثيلونو رنګارنګي او بډايه زېرمه يې د شعرونو بله سبکي ځانګړنه شمارلای شو.

د کلاسيکې شاعرۍ رګونه يې په هماغه پخوانۍ زمينه کې ساتلي، خو د دې ترڅنګ يې ګڼ شاعرانه موتيفونه، اصطلاحات او مفاهيم نوي او نومهالي دي. د هغه له شعرونو سرې له ورايه پوهېدلای شي، چې د شلمې پېړۍ يو هيندوستان ليدلی پښتون شاعر دی، چې په انګريزي ژبه، عربي او اسلامي علومو برلاسی دی، خو باور يې د انسان له موډېرنيتې سره تړلی. انسانمحوريت يې د تفکر بله سبکي ځانګړتيا ګڼلای شو.

د منځپانګې له نظره د غني‌خان سبک ټولې هغه ځانګړنې شمېرلای شو، چې په دې مرکه کې به وار په وار  پرې خبرې کيږي.

د غني‌خان سبکي ځانګړنه داسې ده، چې دی تر ځان وړاندې د بل هممهالي پښتون شاعر د رغښتوالو ځانګړنو تر اغېز لاندې نه دی، خو تر ده روسته ګڼ  شاعران په ځانخبرې يا ځان ناخبرې ښه د ده د سبک تر اغېز لاندې راغلي دي.

مسعود: غني‌خان  وايي:

ستوري ته اسمان کې یوه ورځ ووې هلال

خدای آدم له مینه ورکړه مور له تش جمال

زه به په خندا ورکړم دا خپل ښایست د کمال

ماله که یو څاڅکې مینه راکړي څوک په سوال

مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده

حسن له زوال شته مینه نه لري زوال

تاسو د غنيخان ښکلاییز درک، احساس او پوهه د ده په شعرونو کې او په تیره بیا په دا پورتني شعر کې د مینې، حسن او ښکلا په اړوند څه ډول ارزوئ؟

همدا راز، تاسو مطلقه مینه، حسن او ښکلا، طبیعي او هنري ښکلا، او معنوي ښکلا د غنيخان په شعرونو کې او د ده دیالکتیکي تفکر په دې برخو کې او د ښکلا پېژندنې په تړاو څه ډول ارزوئ؟ مهرباني وکړئ په دې برخو کې د ده د شعرونو څو بیلګې راته په ګوته کړئ.

لېوال: یو څه چې ښکلی وي، مور وایو: «ښه ښکاري!» دلته (ښکلی) له (ښه) سره په یوه مانا اخیستل کیږي. بل ځای وایو، پلانی ښه انسان دی. یعنې د خیر ښېګڼې سرې دی. له خورا لرغونیو زمانو د خیر و شر په مخامختیا کې ښکلی د خیر او ناښکلی (بدرنګه = زشت) د شر په کتار کې شمارل شوی دی. دا د نوې زمانې کیسه ده، چې ځینې زهرجن مارونه هم خلکو ته ښکلي ښکاري او بدرنګه شوپرک (اسمانځکالی) ګټور او ښه مخلوق بولي. ښکلا دومره د لرغوني بشر لپاره مهمه وه، چې ډېر ځله یې د (خیر) او (ښکلا) مفاهیم سره ګډ کړي دي، لرغونیو بابلیانو، سوریانو او مصریانو ښکلا مطلق خیر ګڼله او هیندیانو د تناسخ د باور په لړۍ کې فکر کاوه، چې شریر انسانان په راتلونکیو معادونو (بیاځلې ژوندپېر) کې د بدرنګه موجوداتو په بڼه نړۍ ته راځي.

لرغونیو انسانانو ښکلا د ښېګڼې په کتار کې شمارله، خو د یونان په طلایي دوران کې فیلوسوفانو ښکلا د یوه بېل او خپواک ارزښت په توګه راوپېژندله.

تر دې روسته، ښکلا پېژندنه Aesthetics [ په فرانسوي Esthétique ] یو پراخ فیلوسوفیک، اروپوهنیز، هنري او ټولنپوهنیز مفهوم شو. ښکلا د بشریت په رواني او ان فیزیولوژیک تکامل کې ډېره ونډه لرلې ده. ګڼو پوهانو پخپله

هنر د ایستیتیک بچی ګڼلی دی، بشریت د ځان تر ښکلا روسته د چاپېریال او بل «انسان» د ښکلا په اړه پریمانه خبرې پنځولې دي، روسته د افکارو او تخییلاتو ښکلا هم پرې وراضافه شوې ده. د انساني – فیلوسوفیکو پوهنو په بحثونو کې اپلاتون ښکلا د لومړني ایډیال په قالب کې راپېژندله، هغه د مُثل نظریې پر بنسټ باور درلود، چې ښکلا پخپله یوه بېله هستي یا وجود دی، چې د لومړنیو مثُلونو په بڼه یې هستېدل له لومړي سره د هستندوی په اراده کې وو. اپلاتون هم ښکلا له خیر سره ورته یا نږدې ګڼي. اپلاتون د (مېلمستیا) تر سرلیک لاندې خبرو اترو کې وایي: « پر دې نړۍ ښکلي څیزونه د ریښتیني ابدي ښکلا له مثال څخه تومنه اخلي.» اپلاتون نظم او تناسب (انډول) د ښکلا فضیلت او بنسټ بولي. روسته په انځورګرۍ، مهندسۍ او اناتومي کې پر تناسب ټینګار د اپلاتون د دغې لومړنۍ نظریې مخینې ته وررسیږي. بل یوناني ستر فیلوسوف ارستو که څه هم، چې په ځینو برخو کې خیر او ښکلا سره ګډوله. ده د (کالون) اصطلاح د خیر او ښکلا دواړو لپاره یوشان کارولې ده، خو دی د ښکلا جوهر تر یو بریده د (څیز) په ذات کې پلټي، حال دا چې خیر له ذاته را بهر د کړنې په پایله کې زیږي او حادث دی. ارستو هم ښکلا په نظم، تناسب، تقارن او [هرڅه په خپله اندازه] کېویني. ارستو په شعرپوهنه یا پویتیکس (بوتیقا= بوطیقا) رساله کې وایي: د توکونو (جزُونو) د سم او منظم ترکیب پربنسټ شعر ښکلا مومي.

اپیکور بیا خبره ارواپوهنې ته راکاږلې، دی وایي: ښکلا فضیلت دی، او هغوی، چې غریزه او (خوند) د ښکلا لپاره مهم ګڼي، له ښکلا نه به تلپاتې ګټه ترلاسه نه کړي. نیو اپلاتونیانو هم د اپلاتون خبره سره بیا شاربله او داسې شننه یې ترې اخیسته، چې حقیقي ښکلی واحد ذات دی او دنیوي ښکلا یې انعکاس دی: (الله جمیل و یحب الجمال) ښایي نړیوال عرفان ته دا مفهوم هم له دې باوره راېږدېدلی وي، چې مجازي ښکلا کړلای شي موږ حقیقي ښکلا ته ورسوي.

له کلاسیکانو څخه پر تناسب و تقارن ټینګار تر نومهالې فیلوسوفي پورې راروانه وه، تر دې چې جرمني فیلوسوف ایمانوېل کانت په دې اړه د ټولیز ذوق خبره رامخکې کړه. کانت (د حکم د ځواک کره کتنه) کتاب کې ښکلا له میتافیزیک څخه رابېله کړه او د ښکلاخوښوونې انساني ذوق یې د ښکلا د هستۍ لپاره مهم وګاڼه. ده وویل: « هغه څه ښکلي دي، چې د ټولو خوښ شي» که څه هم روستیو ښکلاپوهانو د «ټولو» قید رانرم کړ او ویې ویل، چې (ټول) اړ نه دي، خامخا دې یوه واحده ښکلا خوښه کړي، خو که ګڼ (اکثریت) ذوقونه یې خوښ کړي، ښایي د اجماع وړ ښکلا یې وګڼلای شو. کانت تر ذوق ورهاخوا د ښکلا د عینیت (Objective) او ذهنیت (Subjective) مسئله هم راپورته کړه او پر دې یې ټینګار وکړ، چې هرڅیز په عیني بڼه د خپلې ذاتي ښکلا په اعتبار ښکلی ګڼلی شو، خو کله چې ذهني کیږي، هلته یې نو بیا زموږ د ذوق په هینداره کې انعکاس مهم دی، چې موږ یې ښکلا منو که نه؟

تردې را دېخوا نويو فيلوسوفانو د ښکلا مسئله نوره هم پېچلې کړه، ګنې انتزاعي فرضيې يې ورپسې وتړلې او په يوه ديالکتيکي بحث کې يې ښکلا او ذوق دواړه سرګردان کړل. ستونزه دا وه، چې د پوهنو له څانګيزه کېدو سره په دې اړه نوې پوښتنې راپورته کېدې؛ يوه واحده ښکلا د ټولو لپاره ښکلې ده؟ ايا زموږ په ذهن کې وار له مخه جوړ شوي چوکاټونه د ښکلا په تثبيت کې ونډه لري؟ ايا ښکلا له زمان، مکان، ژوند چاپېريال، اقليم، ټولنيز اندواکر، عمر او اروايي حالت سره بدليږي؟ ولې په تاريخ کې کله لوړه پوزه او کله کوشنۍ هغه، کله لويه خوله او کله په نشت شمار خوله ښکلې بريښي؟

تنګه خوله يې په مثال د ميږي سترګه
نه غلط شوم چې مثال يې نه پيدا دی

په هيندوستان کې د جام په شان غټې سترګې ښکلې وې، حال دا، چې تورکتوکمو شاعرانو به نېغه دارې بادامي تنګې سترګې خوښولې. کيسه يوازې له زمان و مکان سره د ښکلا د بدلانه تر بريده هم لانجمنه نه وه، د نوې اروايوهنې او لاشعوري زېرمو راڅرګندېدا د ښکلا خوښوونې خبره نوره هم پېچلې کړه او بشريت ورو ورو د حضوري – وجودي فيلوسوفانو ښکلا په داسې پيښو، غريزو، خاطرو، غوښتنو او هيلو پورې وتړله، چې زموږ په ګډ – قومي لاشعور کې زېرمه شوې، نه زموږ په اراده کې دي او نه يې هم د راڅرګندېدو پر وخت پوهيږو. که د امريکا د لويې وچې د بومي هستوګنو (سورپوستو اينډينانو) لرغونې موسيقي زموږ خوښيږي، ښايي ورسره ګډې زړې خاطرې لرو، حال دا چې تر څو لسيزو مخکې پورې دغه وګړي د بلې دنيا موجودات ګڼل کېدل.

پوهېږم د ښکلا خوښوونې په اړه مو سريزه اوږده شوه، خو مجبور يو، کله چې د يوه مهم فيلوسوفيک هنري مفهوم په اړه خبرې کوو، بايد سره پوه شو، چې پر څه غږيږو.

غني‌خان په پښتنو کې له په ګوته شمېر شاعرانو څخه دی چې ښکلا ته هم په عيني ارزښت ګوري، هم ذهني – عرفاني او الهی.

حسن دی بس حسن، چې هم خدای دی هم جانان دی

دې فاني مکان کې بل مشال د لامکان دی

غني‌خان د اپلاتوني مُثل په شان خپله او د دونيا ښکلا د ښايست د درياب يو څاڅکی ګڼي:

دا زما بې‌خودي واړه يو نظر ستا د قرار دی

دا زما درياب  د حسن ستا يو څاڅکی د خمار دی

يا:

اوه تېوس د حسن مکړه           سمندر شي څوک تللی؟

څوک سپوږمۍ شي رانيولی      څوک زهرا شي ښکلولی

حسن پلار د مينې او مور د عشق

په کې پټ دی ټول سپين او تور د عشق...

زموږ شاعر ټوله هستي ښکلې ګڼي، د ده له نظره ښکلا لکه پټه مانا په هر توک کې نغښتې ده، چېرته د (رڼا) او چېرته د (رنګ) په بڼه. کله کله د (سرور = خوښۍ) په شان حسي شوې، يا لکه عطر په ګل کې پټه. غنيخان  هر هغه څه د ښکلا ښکارندوی (مظهر) ګڼي، چې موږ د خلقت په راز يا د خالق په شتون باوري کوي. غنيخان  فکر کوي، چې ښکلا د هستۍ پرتم (عظمت) دی.  غنيخان خپلې ايډيالې ښکلا ته (خيشت = ښايست او حسن) وايي. ګل، رنګ، رڼا، څاڅکی، شمع، لمر او نور د ښکلا لپاره استعارې او سېمبولونه دي.

دغه سترګې چا کړې جوړې خيشت ته وړې او حيرانه

په ګلونو کې چا خور که دا خايشت د «لامکانه»

چا که جوړ ځان له مکان خپل روک زما د ګل امکانه

زه په څاڅکي کې ډوبېږم، سمندرِ بې پايانه

ايا د غنيخان  له نظره د ښکلا اخلاقي پېژاند هم د کلاسيکو فيلوسوفانو په شان د (خير) په مفهوم اخيستل کيږي؟

اوس نو دا جدي پوښتنه ده.

اړ يو، چې په دې اړه د دوو بېلو نظريو يادونه وکړو.  ښکلا که يوه معنوي مفهوم وي، نو بايد هر هغه څه چې وار له مخه د اخلاقي ارزښتونو پر بنسټ (ښه) را پېژندل شوي وي، هغه (خير) او په پايله کې (ښکلی) دی. ختيز عرفان له دې لارې ځان (خيرمطلق) يا خدای ته رسوي. معشوق ښکلی دی، خو خالق يې تر دې/ ده لا ډېر ښکلی دی. مجنون د ليلی د حسن له برکته په خدای مېين شو او دواړه په اسمانونو کې ستوري شول.

خوشال بابا فرمايي:

صورتګر چې ښه صورت په ديوال ساز کا

کل عالم يې په صفت زبان دراز کا

د هغه نقاش په صنع نظر نه کا

چې له څه ځاځکي نه دا نقش و طراز کا

خوشال فکر کوي، چې خدای هستي د ښکلا د يوې تابلو په شان انځور کړې ده. د خلقت موخه (غايه = هدف) حسن، ښايست (خير) دی. موږ پر ديوال انځور شوی تصوير (هستي) ګورو، خو د نقاش کمال ته نه ځير کيږو. خوشال غواړي، له جمال څخه حقيقي جميل ته ورلوړ شي. عارفانو همدا لاره و سلوک ټاکلی دی.

نيشاپوري عطار فرمايي:

نقاش صنع را همه لطف تو بود قصد

بر ګل نوشت نقش تو و بر ګلاب بست

د اپلاتون د مُثل تمثيل وايي: څو کسان په يوه مغاره کې مخ پر ديوال ناست دي، د مغارې مخې ته اور بل دی او ناست کسان يې رڼا پر ديواله ګوري، د غار له خولې چې هرڅه تيريږي، سيوري يې پر ديوال ښکاري. د اپلاتون له نظره دا مجازي تصويرونه د حقيقت مثالونه دي. رڼا بهر ده او موږ يوازې د حقيقي هستي سيوري وينو. عرفاني تفسير يې دا دي، چې موږ د دغو خوځنده تصويرونو له مخې ريښتيني (نور) ، (خوځښت) او د ټولو خالق وپيژنو.

غني دا پيښه داسې تمثيلوي:

ستوري ته اسمان کې يوه ورځ ووې هلال

خدای آدم له مينه ورکړه موږ له تش جمال

زه به په خندا ورکړم دا خپل ښايست د کمال

ما له که يو ځاځکی مينه راکړي څوک په سوال

مینه حقیقت، حسن سایه د حقیقت ده

حسن له زوال شته مینه نه لري زوال

غنيخان  هم د حسن په دوو ځاځکو پسې ګرځي او په دې لټون کې یې دریاب موندلی:

زه وم غل د دوو ځاځکو تا د حسن دریاب راکړ

ما په چل چونګ ډکولو تا د مینې سیلاب راکړ

جام مې وړی و یو ګوټ له ډوب دریاب کې د سرور شوم

د منصور له پښو له لاړ وم، لیونی شوم، زه منصور شوم

(زه) + (منصور) = (شوم).  هماغه د (اناالحق) تکرار دی.

خو  د ښکلا په اړه دویمه نظریه هم له غنيخان سره شته او هغه د ښکلا عیني شتون او د (خوند) د معیار له مخې یې د (خیر) له مقولې خپلواک حضور دی.

نوموتې ایراني شاعرې فروغ فرخزاد مجنون ( د مجنون پرسوناژ)  یو (ځانځوری) مازوخیست ګڼې، چې د لیلی په مینه کې یې بېځایه ځان د مرګ کندې ته ګوزار کړ. دا وایي: د نن زمانې لیلا ګانې نور نو د هغو مجنونانو لپاره جوړې نه دي، چې تر اوسه د ولې سیوري ته ژاړي، خو لیلا بیخي خبره نه ده، چې ځوک پرې مبین دی.

د ښکلا په اړه نوې نظریه وایي: ښکلا په ګل کې شته، په معشوقه/ معشوق کې شته، په طبیعت کې هم. موږ حس او عواطف لرو، چې له دغې ښکلا خوند واخلو، نه دا چې هغه دومره ذهني کړو، چې هم ځان او هم ښکلا راځخه ورکه شي.

غنيخان  له دې دویمې نظریې سره هم بلد دی او د دغې ښکلا لپاره تر ټولو ژوندۍ استعاره (خوند) ګڼي:

چې نه خوند لري نه جوش، نه سرور او نه خمار

تش خمونه اغشتل وي، د جنون او د دلدار

غني له خدایه غواړي چې همدا دونیا ورته جنت کړي او ښایست د (خوند) په بڼه کې پرې وځښي:

اې د لوی فضل مالکه ما له دا دنیا جنت که

فارموله یې ده اسانه، د درې توکو نه جوړېږي

لکه ویلي مې دي سرکې، بس جانان، ځواني او جام

چې زما لیوني سر پې کله کله مشغولېږي

غني هغه بله (ایډیاله) ښکلا د ملا لپاره غوره بولي:

او هغه بل د مرګه پس مې ملاجان پسې خیرات که

تش د حورو په خوبونو که د خوار ګذاره کېږي

ما له دلته یوه راکه غونډه، مسته، تکه سپینه

مینه ناکه، سپینه شمع، چې لمبې وهي بلېږي

یا:

وایي: ملاجان چې په جنت کې حورې پنډې دي

غټې غټې سپینې سپینې، مستې او بربنډې دي

تر پایه

ښکلا د (خوند) پر زمکه او ښکلا د (خیر) او معنویت پر زمکه که تیس او انتي تیس و ګڼو، نو غني‌خان ورڅخه یو په زړه پورې سېنتیسس راباسي. دی وایي: که یې (خیر) ګڼئ یا (خوند) خو (مینه) په کې ارزښت دی او مینه د ښکلا له خالق سره ده، نه د جنت لپاره.

تا له ملا جانه رب دې درکړي جنتونه ډېر

اوس یوه شوم چې ولې دا اوږده کوې لمونځونه ډېره

له دې اړخه د (وايي ملاجان) شعر ټول د غنيخان  په زړه پورې سېنتيسس دی، چې د ځان او ملا ترمنځ يې د ښکلا په پېژندنه کې د پورته يادو شويو دواړو نظريو له ليدلوري توپيرونه ښوولي دي.

مسعود: ګران ليوال صاحب تاسو په ښکلا پېژندنه کې د رنګ او رنګونو فکتور څه ډول ارزوئ،  او دا راته ووياست چې غنيخان  په خپلو شعرونو کې له دې فکتور څخه څه ډول ګټه پورته کړې ده؟

ليوال: غنيخان  انځورګر (نقاش) دی. د ده له نظره (رنګونه)، (سيوری) او ( نور = رڼا) ځانګړي او خورا ارزښتمن مفاهيم دي.

رنګ رڼا د خپل ځيګر پرې خورو نه

دومره ښايست وي چې زما دی طلب څومره

غنيخان  رنګونه استعاره کوي، د مانا په مانا يې غږيږي. دا جمله به ګونګه درته ښکاره شي، خو راځئ د بلاغتپوهنې له نظره ورته وګورو. ويل کيږي، چې ادبيات د مانا مانا ده.  او دا په تشبيه، استعاره، کنايه، تلميحي اشارو، سېمبول او د مجاز په ډولونو کې د مفاهيمو دويم (ثانوي) مانا ته ځان رسول وي.  تاسو يو بوټی وينئ، چې شين ډنډر او شنې پاڼې لري، په سر کې يې له تکو سرو پاڼو يوه ټولګه جوړه شوې ده. دغه بوټي ته په ټولنيز قرارداد کې – چې موږ يې ژبه بولو – د (ګل) نوم ايښوول شوی دی، همدا چې تاسو دغه بوټی ګورئ، ماغزه مو درته وايي، چې دا ګل دی. شين بوټی مانا (ګل) . دا يوه مانا شوه. خو کله چې حمزه شينواری وايي:

ګله خير دی، چې مې ستا په زړه کې ځای شته

که د بوی غوندې وحشي او پريشان يم

دلته نو (ګل) هاغه شين او سور بوټي نه دی، دلته د ګل مانا (معشوقه) ده. ګل د پرسونيفېکېشن (شخصيت ورکولو) د تشبيهي - استعاري پروسې په مټ په معشوقې بدل شوی دی. ژبې او بيا ادبياتو زموږ ذهن د يوه بوټي له تصور څخه يوه ښکلي انسان ته راورساوه، ادبيات مانا دغه ذهني پروسه.  د مانا مانا يعنې دا.

د غنيخان  په شعرونو کې راغلي رنګونه يوازې په طبعيت کې نغښتي ګلونه نه دي، چې له ګډون او ترکيب څخه يې ليدنی ښکلا زيږي. د غنيخان  رنګونه استعارې او سېمبولونه دي، چې موږ د دوی تر شا يوې پټې شوې بلې (ثانوي) مانا ته وربولي.

یو ټکي د رنگ کې          دریاب رنگارنگ

یو څاڅکي د ساز کې          هم سوز او هم شرنگ

موږ په شعرونو کې د رنگونو دوه ډوله حضور وینو:

لومړی؛

غنيخان:

گونگټ د سوټو په ډېری پورته، زېړې لولکې ته د نور بیان کئ

چینجی د خاورې په ممبر بره، کیسې د حورو او د اسمان کئ

دلته زېړ (ژېړ) رنگ د لولکې لپاره د څرگندوی ستاینوم (صفت تشخیصیه) په توگه کارول شوی دی. زېړ دلته یوازې رنگ دی. که څه هم د بلاغتپوهنې له نظر له (نور) سره چې روسته راغلی یو ډول تناسب یا مراعات النظیر جوړوي. خو د لولکې د تشخیص لپاره یو وصفي قید دی، تر دې هاخوا کومه بله هنري مانا نه ښندي.

دویم؛

غنيخان:

دا لکها زره کتابه، موږ دا یو ټکی زده کړی

که تک تور وي هم خیسته شي، یار چې ستا د زنې خال شي

دلته تور رنگ خپل سېمبولیک ارزښت لري. په دې بیت کې «تور» تر «خال» ځانگړی دی. خبره په تور رنگ کې ده. په لومړی مېسره کې «ټکی» ورسره مانیز تجنیس لري، چې یو ځل بیا تناسب او مراعات النظیر جوړوي. د سېمبول یو ارزښت د هغه هنري موقعیت دی، چې په کې راځي. د یار د زنې خال تور دی. که څه هم تور په عامه مانا د تیارې او بدمرغی نښه ده، پخپله غنيخان هم په نورو شعرونو کې له تور رنگ څخه گڼې منفي استعاري ماناوې اخیستې دي، خو که همدغه تور رنگ د یار د زنې خال شي، بیا نو د ښکلا په سېمبول بدلیږي.

پخپله «رنگ» هم د غنيخان په شعر کې یو عرفاني مفهوم لري. راځئ وگورو دغه عرفاني مفهوم څنگه کارول کیږي؟

د فاطر سورې په ۲۷ م آیت کې لولو:

**أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا ۚ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ.**

ژباړه:

ودې نه لیده، چې خدای له اسمانه باران راووراوه او له هغه مو بېلابېلې او رنګارنګې مېوې راوپنځولې؟ او په غرونو کې مو لارې و رګونه رنګارنګ؛ سپین، سره، تور او رنګین هست کړل.

رنګ او نور سره تړلي دي، نور دی، چې رنګونه د لیدو وړ کوي، په بله ژبه رنګ د نور یا رڼا غبرګون او تجلي ده.

شیخ اشراق شهاب الدین سهروردي او ابن عربي باور درلود، چې هرڅه د خدای له نوره رامشتق شوي دي. مخلوقات د مطلق نور او تیارې تر منځ هغه هرڅه دي، چې د تیارې، تروږمی او رڼا ترمنځ د رنګونو په مرسته لیدل کېدلای شي.

«رنګ» په یوون/ یووالي (وحدت) کې د ګڼون (کثرت) د تجلي سېمبولیک تمثیل دی. کامل وحدت بېرنګه دی، چې د رڼا/ نور ذات دی. بېرنګه رڼا د رنګونو په مرسته لیدوړ کیږي. ګڼون د رنګونو په مرسته ګورو، رنګونه موږ له ګڼون څخه یوون ته وررسولای شي.

دهلوي بېدل فرمايي:

خیال مایل بی رنګی و جهان همه رنګ

چو غنچه محو دلم بوی آشنا اینجاست

غنيخان د یوون و ګڼون دغه مفهوم بيخي زيات کارولی او د رنګ په عرفاني مفهوم يې تمثيل کړی دی:

زه يو تور د تیارې سوری، ته د زمکې اسمان نور

بې کنار دریاب د رنګ ته زه يو خاشکی د سرور

یا

دا مسته رڼا دا مینه حورې او مابنام

څه رنګين سراب دی د ليدلو پوهېدلو

يا

زه يمه مخلوق خو د خالق د رنګه ډک يمه

زه کامل کمال، زه سُر رباب يمه د ټولو

يا

اې د مينې فرشتې                اې د نور او رنګ قصې

ښاپېرۍ ته چا بندي کړې             د غمونو د کوڅې

او

دلته دې تور رېګستان کې زه د رنګ او نور لمبه يم

د ښايست چپه نغمه يم، کرشمه د لا مکان

د غني په شعرونو کې د «رنګ‌محل» مفهوم ډېر ځله له رڼا او ليدلو سره پيوست راغلی دی. رنګ‌محل د رڼا او تيارې تر منځ د شهود برزخ دی:

محفل شوه رڼا شمعې له سوز روکېدل شو

او چا له رنګ‌محل کې پټې سترګې ړندېدل شو

يا

شوم نصيب کړي جوړ توره پنجره د رنګ محله

مينه او غرور کله ساقي کله امام شي

له (ړوند) – نه ليدلو، تياره، رکود، نيستي ، هېڅ څخه  تر ليدلو، هستۍ، پيدايۍ او رڼا پورې يو پول شته، چې هغه له رنګونو جوړ دی، غني‌خان دغه رنګين پول ته د بوډۍ ټال استعاره هم کارولې ده:

تیاره تندر، روکېدل دي　　　زه لټوم د بوډۍ ټال

د امید نه جوړومه　　　کله رنګ کله وصال

زه د ځان کل مرضونه　　　خپل حکیم یم د کمال

اې زما مغروره یاره　　　زه خالق ستا د جمال

مسعود: ویل کېږي چې غنيخان  یو ریالیست او رومانتیک شاعر دی. دی په خپله شاعرۍ کې خپل نوښتونه لري او د بیلابیلو ادبي مکتبونو ځانګړتیاوې لري، خو د رومانټېسیزم رنګ یې ډېر پوخ دی. تاسو په دې اړه څه لید لرئ؟

لېوال: په اول سر کې باید ووایم، چې  په ختیځ کې شاعري او نور ادبي اثار هو به هو او کټ مټ په هغو مکتبي ځانګړنو خامخا نه شي تول پارسنګ او ارزول کېدای، چې په لویدیځ کې رامنځته شوي او تعریف شوي دي. د رېنسانس په فرهنګي انقلاب کې اروپا د یو شمېر ټولنیزو بدلونونو شاهده وه، چې له دې بدلونونو سره هممهاله ادبیات او فرهنګ هم بدلون مونده او له علمي، تخنیکي، هنري، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو انقلابونو سره نوي ادبي مکتبونه هم د ټولنیز ذوق اړتیا ته په پام او هم هغو فکري – رواني بدلونونو ته په کتو، چې په لیکوالانو کې بدلېدل، رامنځته کېدل.

د دې لپاره، چې د لویدیزو هنري – ادبي مکتبونو له نظره د غنيخان شاعري وارزولای شو، راځئ له مشهورو مکتبونو څخه دغه مکتبونه دلته وپېژنو، چې تاسو یې یادونه کړې ده. دا به هم نه هېروو، چې دلته د هر مکتب هغه تر ټولو ساده او اسانه پېژند رااخیستل کیږي، چې لوستونکي ژر پرې وپوهېدلای شي:

د اتلسمې پېړۍ په پای کې د اروپا یو شمېر رومانتیکو لیکوالو د رومانتیک یا خیالاتي (خیالپاروونکي) مکتب بنسټ کېښود.  Romanesque  په اروپايي ژبو کې افسانهيي مانا لرله،  د رومانتیسیزم پلوي شاعرانو عقل د کلاسیکو اثارو ځانګړنه ګڼله او دوی د عقل په وړاندې ډېر د «احساس» ، «ولولو» او خیالپنځوونې پلویان وو. [ همدلته ده، چې موږ وایو د لویدیزو مکتبونو ځانګړنې پرختیزو هغو د تطبیق وړ نه دي، ځکه په ختیځ کې کلاسیک اثار هغسې عقلاني نه دي او نومهالي یې دغسې احساسي یا خیالپنځوونکي] کلاسیسیزم  د یونان و روم د زړو اثارو پلوي کوله، خو رومانتیکانو- مثلاً - د شکسپیر اثار د استناد وړ ګڼل. کلاسیکان د څرګند او روڼ بیان پلویان وو، خو رومانتیستانو به د منظرو په رنګونو او پرتم کې خپلې ویناوې پېچلې. د رومانتیسیزم پلوي لیکوالو دعوه کوله، چې د خپلو احساساتو د بیان لپاره یې د

بیان نوی ډول پنځولی او د زړو لیکوالو په شان  د ماتو شویو احساساتو د بیان مړ او خوبولی بیان نه خوښوي. د رومانتیسیزم لومړني ځرکونه په انگلستان کې ځرگند شول او د نولسمې پېړۍ په رابرېدو جرمني، فرانسې، اسپانیې او روسیې ته ورسېد، خو ډېره وده یې په فرانسه کې وکړه. لامارتین، الکساندر دوما، ویکتور هوگو، آلفره دوموسه او ژرژساند یې نومیالي څېرې دي. د رومانتیسیزم په تاریخ کې ۱۸۳۰ میلادي کال د اروپا د ادبي انقلاب کال گڼل شوی، ویکتور هوگو او ملگرو یې رومانتیسیزم د ازادۍ، هنر او شخصیت مکتب اعلان کړ. دوموسه دومره د ازادۍ او هرراز پولو د ماتولو پلوي وو، چې ویل یې: پرېږدۍ د عقل او او طبیعت ترڅنگ خپل احساسات او ولولې هم راځرگندې کړو، باید پرتې ووایو، د شاعر ولولې د خلکو ولولې دي.

خو دغه وگړنۍ ولولې ډېرې ونه پایېدې، احساساتي رومانتیسزم ورو ورو په ټولنیز رومانتیسیزم بدلېده، د سوسیالیستي تمایلاتو په زیاتېدو سره ادبیات د پرگنو د غوښتنو او احساساتو د بیان التزام ته اوړده ورکوله. بالزاک دغه اوښتون چټک کړ او د «انساني کومېډۍ» په لیکلو یې ټولنیز رومانتیسیزم د ریالیزم تر درشله ورساوه. ځیني خلک بالزاک د ریالیزم له مخکښانو گڼي. هغه په دې باور و، چې د یوه وگړي شخصي احساسات او د هغه د فردي ژوندپېښې هرڅومره که ډراماتیکې هم وي، د ټولنې په درد نه خوري. ریالیزم ټولنیز ارزښتونه تر فردي ولولو غوره گڼل او په دې توگه «هنر د هنر لپاره» دوران چې د رومانتیسزم په لمن کې زېږېدلی و، خپل ځای «هنر د ژوند لپاره!» ته پرېښود، چې د ریالیزم د نوي مکتب بنسټ یې پیاوړی کړ. په ۱۸۴۳ کې (شانفلوري) په خپلو لیکنو کې د ریالیزم مانیفیست اعلان کړ او ځان یې ریالیست وگاڼه. شانفلوری او دورانتي روسته په رومانتیسیزم او رومانتیکو مخکښانو کلک گوزارونه وکړل او هغوی یې سادگان وبلل، د دوی په نظر لیکوال باید ټولنیز ژوند، د خلکو دود دستور او حقایقو ته پام وکړي. په ادبي ځیلونو کې ریالیزم په داستاني ادبیاتو ډېر تمرکز کاوه. ځکه د ټولنیز ژوند واقعیتونه په داستانونو کې ښه ترا انځورېدلای شول. ریالیستیکو ادبیاتو د خپلې هممهالې ټولنې جوړښت، ستونزې او اړتیاوې بیانولې او د ټولنې د بېوزلو کارگرو دردونه او ژوند پېښې یې تمثیلولې.

اوس که د داسې لنډې پېژندنې (ځرگنده ده، چې پر دغو مکتبونو باید ډېرې خبرې وشي) روسته، وغواړو د غنيخان په اثارو کې د دغو مکتبونو ځانگړنې وڅېړو، خبره بدلیږي، ځکه موږ د یوه ختیځ میشتي شاعر په اړه خبرې کوو، چې که څه هم په لویدیځ کې یې ژوند کړی، د انگریزي ژبې له ادبیاتو سره اشنا دی، لویدیځ هنري – ادبي مکتبونه پېژني، د لویو لویدیزو شاعرانو اثار یې لوستي، خو روح یې شرقي دی. عرفان ته یې تر لویدیزې فیلوسوفي تمایل زیات دی او د خپلو کلاسیکانو متون یې هضم کړي دي.

ډېر خلک به مې ګنهګار وګڼي که ووایم: په ختیزو ادبیاتو کې ریالیستیکه شاعري تقریباً نه شته. ان دیداکتیک یا تعلیمي نظمونه (نه شعرونه) هم ریالیستیک نه دي، ځکه ان تعلیمي نظمونه هم په ایډیالي راتلونکي کې پېښېږي.

په داسې حالت کې پایله اخلو، چې غنيخان یوازې په خپلو ځینو هغو نظمونو کې څه ناڅه ریالیست دی، چې ټولنیزه کره کتنه په طنز کې بیانوي. تر دې هاخوا په ځینو شعرونو کې رومانتیسیست او نور بشپړ سېمبولیست شاعر دی.

روسته به د غنيخان په شعر کې یو شمېر رومانتیکو رګونو ته اشاره وکړو، خو کله چې وایو هغه تر ډېره بریده سېمبولیست شاعر دی، نو ښايي په دې برخه کې تم شو.

خو لومړی راځئ، له سېمبول او سېمبولیسم سره اشنا شو.

لرغونیو انسانانو د هر شي، پدیدې او مفهوم لپاره قراردادي غرېز سېمبولونه وټاکل د غږونو یوې سېمبولیکې مجموعې د یو څه مفهوم رساوه او بیا چې د غږونو دا مجموعې سره منظمې شوې ژبه یې رامنځ ته کړه، روسته یو څه پرمختللیو انسانانو د دغو غږونو لپاره لیکني ( انځوریز) سېمبولونه ( اشکال) وټاکل او چې سره یو ځای یې کړل نو لیک ترې جوړ شو، بیا ټولنیز شویو انسانانو هنري او مذهبي سېمبولونه او نښې رامنځ ته کړې چې د دوی د فرهنګ او تهذیب نښه شول، په دې توګه وینو چې سېمبولونه له ډېر پخوا څخه له انسانانو سره مل دي او انسانان د هغو له رامنځته کولو، پرې پوهېدلو او ورڅخه د ګټې اخیستنې له منطق سره اشنا دي .آنیه لا یا فه د خپلې لیکنې ( په لیدنیو هنرونو کې سېمبولیزم) په پیل کې لیکي : د سېمبولیزم تاریخ ښيي، چې هر څه سېمبولیک ارزښت موندلای شي ... انسان د هغه تمایل له مخې چې سېمبول جوړونې ته یې لري، اشیا او شکلونه په سېمبولونو بدلوي ( او هغوی ته زښت ډېر ارواپوهنیز ارزښت ورښي). هم په مذهب او هم په لیدنیو هنرونو کې کاروي په دې توګه سېمبول او سېمبول جوړونې یوازې په لیدني (بصري) هنروونو کې نه، بلکې روسته په شعر او ادبي اثارو کې هم خپل پامور ځای وموندہ. د یوه انتزاعی قرارداد په توګه سېمبول تر وګړنیز ( فردي) ارزښته ډېریو ټولیز ( جمعي) ارزښت دی، نو د همدې لپاره له نورو ټولیزو پوهنو سره اړیکي لري . پخوانیو یونانیانو به د خټو یا ګچو یوه لیکلې لوحه ټوټې ټوټې کړه او پخپلو منځونو کې به یې وویشله چې بیا روسته یو بل سره د همدغو ټوټو د بېرته سره یو ځای کولو له لار وپېژندلای شي او یا هم د خپل ګډون د نښې په توګه به یې له ځانه سره ساتله یونانیانو همدغې لوحی ته سوم بولون (Sumbolon) ویل. او د سېمبول (Symbol )اوسمهالې نوم هم له همدغې یوناني ریښې څخه اخېستل شوی دی. په دې توګه وینو چې دغه اصطلاح لا له جوړښت او پیدایښت څخه ټولیز ارزښت لري، په یوه بل روایت کې داسې هم شته چې پخوانیو یونانیانو به خپلو مېلمنو ته د سوم بولون د لوحو ټوټې ور ویشلې او په دې توګه له هغو سره د مېلمه پالنې او مینې نښې شریکولې، له

ځانګړتیا څخه عمومیت ته د ورتلو همدغه نښه د سېمبول په تاریخي پېژندنه کې مرسته کوي. خو د مهال په تېرېدو سره د سېمبول له کلېمې څخه د مانا اخیستل پیچلي شول او بېلا بېلې پېژندنې یې رامنځته شوې. په ادبیاتو کې د سېمبول ځانګړې اهمیت هغه وخت ډېر د پام وړ شو چې په نولسمه میلادي پېړۍ کې د سېمبولیزم ادبي مکتب رامنځته شو.

دغه مکتب د نولسمې پېړۍ د پای په لسیزو کې د درېیو سترو شاعرانو هر یو ه شارل بودلر Charles Baudelaire ۱۸۲۱- ۱۸۶۷، آرتور رمبو Arthur Rimbaud ۱۸۵۴ – ۱۸۸۹ او ستفان مالارمه Stephan Mallarme له خوا مطرح شو، دغو درېیوواړو شاعرانو د اروپا په معاصره شاعرۍ کې یو د پام وړ بدلون راوست. همدوی د ( نوي

شعر) د پېلوونکو په توګه هم ګڼل کېږي، که څه هم تر دوی وړاندې نامتو امریکایي شاعر ادګار الن پو Edgar Allan Poe ۱۸۰۹ – ۱۸۴۹ په شعر کې د نویو سېمبولونو کارونه لوړې څوکې ( اوج ) ته رسولې وه، تردې بریده چې د اروپایي سېمبولیزم پلار شارل بودلر د هغه( پو )له اثارو سره د بېکچې مینې له امله د هغه یو شمېر شعرونه او کیسې فرانسوي ته وژباړلې.

د سېمبولیزم مخکښان په پېل کې په ابهام تورن وو، ځینو ویل : هغوی هغه څه چې غواړي ویې وایي نه یې شي ویلی او هغه څه چې نه یې غواړي ویې وایي داسې یې وایي چې نور پرې نه پوهېږي. خو د دوی د اثارو په اړه قضاوتونه ژر بدل شول ډېر ژر هغوی مینه وال وموندل او ډېرو هڅه وکړه چې د هغوی شعرونه تفسیر او تعبیر کړي.

کټ مټ داسې یوڅه د غني‌خان د شعرونو په هکله هم ویل کېدل، خو روسته روسته د سېمبول له فرهنګي زمینې سره د خلکو د اشنا کېدو سره سم د هغه د شعرونو نوې ماناوې راڅرګندېدلې او مینه وال یې زیاتېدل. موږ به دا نه وایو، چې غني‌خان لومړنی پښتون سېمبولیست شاعر دی، خو ښایي دا وویلای شو، چې په نومهالي ادبي پېر کې دی له هغو لومړنیو سېمبولیستانو څخه دی، چې «سېمبول» پېژني او شعوري یې کاروي.

دغني‌خان ګڼ سېمبولونه سنت ماتوونکي او نوي دي. دغه شاعر د خپلو افکارو د تمثیل لپاره په ځینو داسې سېمبولونو اتکا کوي چې ترده وړاندې نه دې کارول شوي. راځئ وګورو د غني په دې شعر کې ځینې نوي سېمبولونه کوم دي:

یو ښار یې روان کړی د نرو نرو کوڅو دی

یو خیال یې روان کړی د زړګي د تلوسو دی

یو سر یې روان کړی ټکی سوز او ټکی ساز

یو عشق د حقیقت جوړ د عشقونو د مجاز

یو کور یې روان کړی د خوبونو د رنګونو

د تورو تهترینو ګړنګبدونکو سرنګونو

او خاندي لیونۍ سترګې یې ډکې د مستونه

وحدت یې روان کړی د لکها بت پرستو نه

او کله لیونتوب فلسفه ګل او صنم وایي

او کله د مستۍ خبرې ډېرې په غم وایي

سرې پاڼې ګل غوړ یې مخ د شبنم پرې پټوي

اوربل مست خوروي د سترګو غم پرې پټوي د دې شعر پټ فاعل ( د ټولو خوځښتو تر شا ورک فاعل) پخپله سېمبول دی غني څه غواړي ووایي دا هر څه چاروان کړي؟ معشوق؟ څه ډول معشوق؟ او بیا ښار، خیال، سر، عشق، کور، لیونی، وحدت، ګل، صنم، د ګل سرې پاڼې، شبنم او ... نور سېمبولونه د غني‌خان  د شاعرۍ ځانګړتیا همداسې ده، د ډېرو تعبیرونو او څو اړخیزو تفسیرونو شتون دسېمبولیک هنر یوه ځانګړتیا ده. شاعران ډېر ځله د اساطیرو له بیا را ژوندي کولو څخه د خپلو فکرونو د تمثیل لپاره کار اخلي، د اساطیرو دا ډول ګومارل هغوی په سېمبولونو بدلوي، دلته اسطورې خپل تاریخي روایتونه ساتي خو د شاعر په سېمبولیکه کارونه کې نه یوازې دا چې په خپله په سېمبولونو بدلېږي، بلکې خپل تاریخي روایتونه هم له ځانه سره کاروي، غني‌خان  له اسطورو سره دا ډول سېمبولیک چلند کوي:

څوک د عیسی په شان

مستي د دار اخلي

څوک د غرور کاله کې

د موسی لار اخلي

څوک د رقیب په محل

نوم د دلدار اخلي

 څوک ټول جهان غورځوي

سترګې د يار اخلي

غماز لړ وپېژنه

اياز لړ وپېژنه

اې د کنو وطنه

اې د ړندو وطنه

که څوک وغواړي د غني‌خان پر ټولو سېمبولونو، سېمبول جوړونو، او په شاعرۍ کې د سېمبوليکو موقعيتونو پر ايجاد کار وکړي، زه بارو لرم چې يوه ځانګړې رساله پرې کښلی شي.

د بلاغت او بيان پوهان فکر کوي، چې سېمبول هم د استعارې په شان پر تشبيه تکيه کوي، دلته هم مشبه‌به ذکر کيږي او اراده ورڅخه مشبه وي. خو توپير يې دا دی، چې سېمبول په صراحت پر يوې ځانګړې مشبه دلالت نه کوي، بلکې د سېمبول دلالت په څو سره نږدې مشبه [ګانو] دلالت کوي او د ماناګانو او سره اړوند او نږدې مفاهيم ښندي.

سېمبولونه دوه ډوله دي:

۱- قراردادي/ عمومي سېمبولونه/ Conventional / Public Symbols

۲- ځانګړي/ شخصي سېمبولونه / Private / Personal Symbols

قراردادي سېمبولونه هغه دي، چې د زمانو په اوږدو کې د ګڼو شاعرانو له خوا کارول شوي وي، خو د يوه شاعر هنري کمال دا وي، چې په نويو هنري موقعيتونو کې يې بيا استخدام کړای شي.

حال دا، چې ځانګړي يا شخصي سېمبولونه هغه دي، چې د يوه شاعر له خوا د لومړي ځل لپاره وکارول شي او د ده د ماهرانه کارونې له برکته ورو ورو عام شي.

غني‌خان دواړه ډوله سېمبولونه ښه ډېر کارولي دي:

تا پتنگ له مستي راوړه د نورونو د زهرا

تا د سرو گلو باغ جوړ کړ په ځيگر کې د صحرا

«پتنگ» د ميني او په مينه کې د قرباني (ځان سيزلو) يو قراردادي سېمبول دی، چې په ختيزه شاعري کې د يوه ډېر تکرارېدونکي سېمبول په توگه کارول کيږي. غنيخان په دغه بيت کې پتنگ له دوو نوښتونو سره بيا تکرار کړی دی. لومړی، پتنگ ته مستي راوړل شوې ده، پر ډيوه د پتنگ د الوتلو «نڅا» د عشق مستي تمثيل شوې ده، چې نوښت لري، بل د هغه معشوق ډيوه يا شمع نه ده، دلته د لوستونکي د تمې پر عکس وايي: د زهرا (ستوري) له رڼا گانو يې مستي اخيستې ده. يو تکراري/ قراردادي/ عمومي سېمبول په يوه بيخي نوي شاعرانه موقعيت کې، مخاطب له زهرا څخه رڼاوې راوړي او پتنگ ته يې مستي وربښلې ده.

همدا د پتنگ سېمبول بل ځای وگورئ:

زه پتنگ ستا په رڼا يم مېين ستا په تورو نه يم

که کافر که مسلمان يم يمه ستا د نورو نه يم

بلاغتپوهنه وايي: که د معشوق/ معشوقې مخ له شمعې سره د سپين والي يا رڼا و ښايست په اعتبار يا وجهه شبه تشبيه شي، نو رابطه يې د تشبيه ده.

که ډيوه يا شمع داسې ياده شي، چې مشبه ( د يار مخ) په کې ذکر شوی نه وي، نو وايو چې شمع / ډيوه استعاره ده. غنيخان عجيبه کار کړی دی، تر تشبيه او استعارې دواړ وړاندې تللی دی، وايي: « ستا رڼا» دا په زړه پورې سېمبوليک موقعيت دی، « زه پتنگ ستا په رڼا يم» ايا معشوق/ معبود/ مخاطب خپله رڼا لري؟ دلته د «پتنگ» ذکر قرينه ده او موږ پوهوي چې درې پړاوه بلاغي اړيکي بايد وپېژنو، ۱- د مخاطب مخ، ۲- ښکلی او روڼ دی لکه ډيوه يا شمع، ۳ـ دغه شمعه يا ډيوه رڼا لري او ۴ـ شاعر د دغې رڼا پتنگ دی. کيسه هلته لا نوره هنري شي، چې په دويم بيت کې مخاطب پېژنو چې معبود دی. غنيخان اشراقي شاعر دی او باور لري، چې: «الله نور السموات والأرض» دلته نو زموږ تشبيهي فرضيه ببرته ځان راټولوي او رابطه يوازې سېمبوليکه ده. ځکه په دې منځ کې نه ډيوه شته او نه شمع. پخپله نور مطلق مخاطب دی. او د «پتنگ» قراردادي / عمومي سېمبول په يوه متفاوت شاعرانه موقعيت کې کارېدلی دی.

اوس به راشو د غنيخان دويم ډول ځانګړي/ شخصي سېمبولونو ته. زموږ شاعر ګڼشمېر نوي، نادر او ځانګړي سېمبولونه لري. ټول ژوي، چې ده په خپلو شعرونو کې د سېمبولونو په توګه استخدام کړي، نوي او په ځانګړې بڼه د غنيخان سېمبولونه دي. «لنډی چرګ» همداسې يو سېمبول دی:

نن چرګ د انقلاب وهي نعرې «قوقو» جوړ وخت شو د سبا

خو نه ځي د جومات نه انګازې د الله هو ويده پروت دی ملا ...

... لنډيه چرګه زورکړه دا نعرې د قوقو راويښ به شي ملا

دا ښکلی شعر سر ترپايه سېمبوليک شعر دی، ملا، طالب، چڼی، بادرنګ، بيديا، ټېپر، حلوا، مصلا، رڼا، دجمعې شپه، تالی، ويښ، ويده... ټول سېمبولونه يا سېمبوليک حالتونه دي. ملا ( د ټولنې ايډيولوژيک پوړ) ويده او له انساني تکامل څخه روسته پاتې دی. شاعر لنډی چرګ رابولي، چې راويښ يې کړي. په ختيزه شاعري کې دود و، چې د سبا له چرګ څخه به شکايت کېده، چې ولې يې وخته اذان وکړ او د عاشق و معشوقې ليدنه يې لنډه کړه، دراني شاه شجاع وايي:

صبح دميد و روز شد، يار بدين بهانه رفت

مرغ سحر تو ګم شوی، يار بدين بهانه رفت

روی سحر شوی سياه، يار بدين بهانه رفت

مګر غنيخان چرګ ته مکلفيت سپاري، چې ويده راويښ کړي.

زموږ شاعر دوه ترکيبونه په زړه‌پورې ټاکلي دي: اضافي ترکيب«چرګ د انقلاب» او توصيفي ترکيبِ «لنډی چرګ» .

ولې «لنډی چرګ» ؟

دا توصيفي ترکيب تصادفي نه دی. شاعر کوم ځانګړی مخاطب لري. لنډی چرګ خامخا د کوم انقلابي پرسوناژ لپاره سېمبول ټاکل شوی دی، هغه څوک، چې شاعر غواړي ټولنيزه ويښتيا رامنځ ته کړي او ټولنه له ارتجاعي خوب څخه راويښه کړي.

غني‌خان  کارولي سېمبولونه دومره ګڼ، هراړخیز، په زړه پورې او ځانګړي دي، چې که څوک پرې کار وکړي، یوه بشپړه خپلواکه څېړنیزه رساله پرې کېنبل کېدلای شي.

مسعود: ښاغلی لېوال صاحب ستاسو پر اند، غني‌خان  په خپلو شعرونو کې تر تشبیهاتو، استعارو، سېمبولونو رادېخوا تمثیل ته په کومه سترګه ګوري؟

لېوال: د تمثیل (Allegory)  هنري ښکارنده په شعر کې د نویو بلاغتپوهانو له خوا مطرح شوې ده.  په قرآن کې لولو:

**مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ**

سورة الجمعه، پينځم آية

ترجمه: لکه هغوی  چې تورات ورسره دی، خو پرې نه پوهیږي، مثال یې داسې دی، لکه پر خره چې کتابونه بارشوي وي.

بلاغتپوهان په قرآن کې ګڼ تشبیهي تمثیلونه څېړي، چې یو یې دغه دی. په شعر کې هم تمثیلونه د مشبه او مشبه‌به ترمنځ د دوه اړخیزې اړیکې یو ډول دی، چې د فعالو شعري کرېکټرونو له خوا تمثیلیږي. تمثیل په حقیقت کې د یوه حکایت یا روایت بشپړه شاعرانه ارایه ده، چې په هغه کې کرېکټرونه ( سېمبولونه) د فکر، څیز یا حالت څرګندوی وي. په شعر کې د داسې حکایتونو یا روایتونو ظاهري مانا نه، بلکې ثانوي مانا، چې د سېمبولیکو اړیکو ترشا پرته ده، موخه وي.

لویدیزوال تمثیل ته  Extended metaphor  یا پراخه شوې/ پرانیستې استعاره وایي.

د خان دغه بشپړ تمثیلي شعر وګورئ:

چرګ

خوراک کوي د سپي  او مسئلې د ملایانو
بانګونه د بلال  او لنګوټې د چنګړیانو
پرتوګ دي یاره نشته  او شمله نیغه د خان
شل ښځې د ساتلي  خو سحر وایي اذان

په جنګ کې بهادر                او مستانه لکه چنګېز

په مینه کې بې شرمه               بې پروا لکه انګرېز

اوربوز دې د قاضي دی             طبیعت دې د هټلر

اواز دې د پخنیو دی               او انداز د منسټر

انجام دې تبخی دی                 اې مجنونه د ډېران

یوه ورځ به روستی بانګ            وکړې، ډوډۍ به وکړي خان

د غني‌خان  دا شعر یو بشپړ تمثيلي شعر دی، چې ګڼ سېمبولیک پیغامونه لري. هر کرکټر د یوه فکر، حالت، څیز یا شخص سېمبول دی. پخپله چرګ د سیاسي، انتقادي، ټولنیز او دیني ریاکارۍ لپاره په بېلابېلو نقشونو کې لوبیږي.

د غني‌خان  په شاعرۍ کې دا ډول تمثیلونه بیخي زیات وینو. په تمثیل کې د ژویو او انسانانو کرېکټرونه وینو. دا  د کلاسیکو ادبیاتو یوه ځانګړنه ده. د بلخي مولانا مثنوی د دواړه ډوله تمثیلونو یوه بشپړه ممتازه مجموعه ده. تر هغه پخوانۍ هیندوستاني کرتکا /کرینکا و دمنکا یا پنچاتنترا/ پنجه تنتره د فیلوسوف بېدپا کتاب دی، چې زموږ په فرهنګي حوزه کې د «کلیله و دمنه» په نوم پېژندل کیږي. د ساسانیانو پرمهال برزویه پهلوي ته راوژباړه او روسته یې پارسي او پښتو ژباړې هم وشوې. دا ټول کتاب د ژویو په وسیله تمثیلیږي، ټول کرېکټرونه یې ژوي دي، خو هر یو یې په انساني ټولنه کې د یوه پرسوناژ لپاره سېمبول ګڼلای شو.

لویدیزوال هغو کیسو ته، چې کرېکټرونه یې ژوي وي، فابل  Fable  وایي. خو هغو تمثیلونو ته، چې کرېکټرونه یې ژوي نه انسانان وي بیا پارابل Parable وایي.

د غني‌خان په شاعري کې فابل او پارابل دواړه تمثیلونه ښه پرېمانه دي. غني‌خان د معاصرې تمثیلي شاعرۍ له سرلارو څخه دی.

مسعود: غني‌خان  وایي:

اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما

سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه

عقل مې ایرې شه ستا د پاره د فکرونو نه

ځار شمه، قربان شم ستا د غرونو د سیندونو نه

ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما

اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما

***

د وطن په اړه د غني‌خان  فکر و عاطفي ترون په دغه ترانه کې څپې وهي، ستاسو له نظره د غني‌خان  لپاره وطن څه مانا؟

او همداسې تاسو د غني‌خان  انقلابي، حماسي او رزمي شعرونه او ترانې د خپل وخت د نسلونو او د راتلونکو نسلونو په راپارولو، ویښولو، روزلو او روښانولو کې څه ډول ارزوئ؟

لیوال:  زه نه پوهېږم، چې د دغې مشهورې ترانې موتیفونه به تصادفي داسې راغلي وي، که غني‌خان به شعوري همداسې راوستي وي، چې زموږ د معاصر ژوند اړتیاو ته ګوته نیسي. د خان په دې ترانه کې  تر حماسي هغه عقلاني رنګ زیات پاموړ دی. په دې شعر کې یو ځای لولو: «ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما». دا مېسره ډېره تاریخي ده. شاعر غواړي ووایي، چې نیکونو او پلرونو مو تورې وهلي او دا وطن یې موږ ته راپرېښی دی. تر دې ورهاخوا د شاعر ټینګار پر دې دی، چې وطن یوه لویه خزانه ده او په فکرونو ښایي وساتل شي.  په دغې ترانې کې د غني مهم پیغام دا دی:

ته چې خوار و زار یې زه به خوب و راحت څه کړمه

ستا سر چې وي ټیټ، نو زه به شان و شوکت څه کړمه

د غني‌خان او هر بل شاعر و لیکوال په اړه د کره کتنې یو اصل باید دا وي، چې د هغه د فکر نوښت د هغه له زمانې سره سم وارزوو. غني‌خان په کومه ادبي زمانه کې ژوند کوي؟ په داسې یوه زمانه کې چې د وطنپالنې Patriotism موتیف، د هغه په نومهالې مانا، لا ډېر نوی دی. هغه زمانه، چې له دیواني شاعرۍ څخه د خط و خال ستاینه په میراث راپاتې وه

او د نوې زمانې له عرفاني اړخ ور هاخوا لا د نورو موتيفونو بيان لومړنۍ تجربې وې. دغې زمانې ته په کتو خان په دې ترانه کې عجيبو افکارو ته پام رااړوي. غنيخان وايي: که وطن او ملت خوار و زار وي، د يوه وګړي (زه = ټولنيز موړ) نېکمرغي ريښتينې نه ده. «زه» هغه و خت هوسا ژوند لرلای شم، چې «موږ» يا ټولنه هوسا شي. «يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان!» په دې پيغام کې شاعر د هغې زمانې اړتيا – ښايي په لومړي ځل ـ راپورته کړې ده. وطن بايد د نړۍ سيال شي! هغه څه چې تر نن پورې موږ پرې جدي فکر کړی نه دی.

زه به دړې وړې شم، خو تا به کړم ودان

نر يمه پښتون يم تا ته يادې افسانې زما

اې زما وطنه د لالونو خزانې زما ...

په دې درېيو کرښو کې د وطنپالنې له يوه نوي فکر سره [ دهغې زمانې په تناسب بيخي نوی] مخامخ يو. د درېواړه کرښو منځټکی (ودان افغانستان = ودان وطن) دی. د پښتنو په ټوليز ذهنيت کې د «نر» مفهوم خورا منفي پيغام له ځانه سره لري. «نر» توب او «غيرت» دواړه مفاهيم موږ له «قتال» او وژنو سره تړلي دي. منم، چې دا مفاهيم به ځينې مثبت اړخونه هم ولري، لکه مېلمه پالنه، ريښتينولي، ژمنتيا او په سخته کې په کار راتلل. ولې«نر»؟ ولې «ښځه» نه؟ راځئ نه له فيمينيستي اړخه، بلکې له انساني اړخه يې وسنجوو، چې ولې موږ په خپلو ورځنيو خبرو اترو کې «نارينتوب، مېړانه، نارينه، سړيتوب، نرغوندې...) چې له اره بيولوژيکي توپير دی، له «انسانيت» لوړ ګڼو؟ زه دا منم، چې دا ټول استعاري مفاهيم موږ د هغو تر شا پرتو يو شمېر انساني صفتونو ته هم کاروو، خو ماشومان او د نورو ټولنو خلک په دې نه پوهيږي. موږ د تربورګلوۍ ټولنه يو او نارينتوب د خپل تربور په وړاندې حماسي مېړانه ګڼو. دا ذهنيت زموږ له تربورګلويز ټولنيز ژوند څخه رازېږېدلی دی او بار يې منفي دی، هسې که خواري کوو او په لوی لاس يې په استعاري – کنايي کارونې پېټوو، هغه نو بېله خبره ده. او که نه موږ اړ يو، چې له نارينتوب څخه واوړو او «انسان+توب» ته ورسيږو. غنيخان هم د همدغه استعاري – کنايي دود (سنت) ښکار شوی دی، وياړي چې : «نريمه پښتون يم...» مګر لږ ترلږه د هغه د وياړ معيار يو څه انساني دی. دود خو دا دی، چې د نرتوب او پښتونولۍ په معيار د تربور او دوښمن د سر پرېکولو، وژلو، وينې بهولو او سترګو راايستلو يادونه شوې وای، خو غنيخان دغه وياړ په يو بل څه پورې تړلی دی: « زه به دړې وړې شم خو تا به کړم ودان!» دا مېړانه تر وژنو او خونړيتوبه يو څه انساني ده. کاشکې لږ ترلږه موږ ټولو خپله مېړانه په همدې محک تللې وای.

مسعود: ویل کېږي چې غنيخان  سنت ماتوونکی شاعر او لیکوال وه. ده د خپل چاپېریال د ستونزو، ناخوالو او ناوړو دودونو پر ضد چې په ټولنه کې وو،  په پوره زړورتیا سپېڅلې مبارزه کړېده. له خوشاله خان خټک روسته  د غنيخان  په شعرونو کې حماسه په یوه نوې بڼه ځان ځرګندوي، او هغه د «هرڅه سپین ویلو اتلواله» ده. ده په ډېر بې باکه ډول د خپل زړه خبرې او فکر د خپل ولس په ژبه څرګند کړی وو. تاسو په دې تړاو څه لید لرئ.

لېوال: د خوشال خان او غنيخان دوه ځانګړنې سره ورته دي، لومړی؛ دواړه خانان دي او په ختیزه - په تېره پښتني - ټولنه کې «خان» له چا څخه نه ویرېږي، « په ښکاره نارې وهي، چې خوله یې راکړه!». دا  نهوېرېدل هم سیاسي دي هم دیني. نه سرکار ورته څه ویلای شي او نه دینچاري. خوشالخان د تورې سړی هم و او غنيخان له خپل ټول عاطفي و شاعرانه شخصیت سره سره، د خپلې سیاسي مفکورې لپاره  د عدم تشدد سیاست کامیاب نه بولي. دی انګریز او بیا روسته پاکیستاني ښکېلاک و استبداد د ولس په عملي پاڅون او تر پایه درېدا کې ویني:

خښتګ د پښتون شلېږي باچاخان ورته ګیندې وهي

ګاندي لېوني شوی دی سنډا  ته سریندې   وهي

د دواړو خانانو ترمنځ دویم ورته والی دا دی، چې د دود ټولنیزو تابو ګانو او قراردادي بندیزونو پروا نهساتي او شعر ته هغه خبرې ورننهباسي، چې نورو شاعرانو ته یې ځرګندول د دود دستور خلاف ښکاري. د ښځو او جنسي غریزې په اړه د خوشالخان او د زاهد و ملا په اړه د غني سپینې سپینې ریښتیاوې تر دوی وړاندې مخینه او تر دوی روسته بیاځلې تکرار نه لري.

له دې ورته والیو سره سره غنيخان تر خوشالخان خټک ډېر زړور او (رند) شاعر دی. خوشال له مذهبي پوړ سره یوڅه احتیاط کوي، خو غنيخان مخامخ د تذویر، ریا، تکفیر او په دین د سیاست و تجارت عاملانو شیخانو او دینپلوریو په سترګو کې ګوتې ورننباسي. له دې اړخه غنيخان له پیله تر نن پورې په پښتو ادبیاتو او پښتنو کې لومړنی او روستنی استثنأ ده. د سنت ماتوونې په برخه کې ښایي ووایو، چې غنيخان  له دوو اړخونو دود ماتوونکی شاعر دی:

۱- شکلي – قالبي دودماتوونه

۲- منځپانګیزه (محتوایي) دودماتوونه

په پښتونخوا کې تر سید رسول رسا او غنيخان پورې غزلبوله شاعري او په ټولیزه توګه کلاسیک فورمونه دود وو. رسا او غني یو تر بله وړاندې روسته قالبونه مات کړل. دوی دواړه په انګریزي ژبه پوهېدل او انګلیسي شاعري یې لوستې وه.

غني‌خان په پښتونخوا کې د ازادې شاعرۍ ( چې دوی یې په ناسمه بڼه نظم بولي) له راپیلوونکیو څخه و.

غرمه د اوړي

لکه شپه د ژمي

یو خاموشي

او قلاري خور دی

د کور کوړکو ګو ګو

او چوپ چاپ عالم هو

وخت خپه نیولی

په رکاب سور دی

دونیا د خپل زړګي ته غوږ نیولی

د مرګ او ژوند حساب کتاب اوري

فضا کې ګڼ یو مسکی توب شان دی

لکه په خوب کې څوک رباب اوري

او زه یوازې

په خیالونو کې ډوب

د خپل ارمان

تلاش کې ګرځمه

یو ورک

مجبوره

مساپر

یم روان

په مزکه پروت

په اسمان گرځمه ...

[ترپایه]

موږ کله، چې وایو غنيخان شکلي قالبونه مات کړي، موخه مو یوازې قراردادي قالبونه او ازادې یا سپینې شاعرۍ ته مخه کول نه دي، بلکې له شکلي پلوه د قراردادي وزنونو، بحرونو ترڅنګ د بېقالبه شاعرۍ کول دي. غني منځپانګې ته اهمیت ورکوي، د شکل پروا ډېره نه ساتي، غواړي خپل فکر بشپړ ولېږدوي. د ده په هغو شعرونو کې، چې ظاهراً په کلاسیکو قالبونو کې لیکل شوي، هم د هغو قالبونو بشپړ مراعات شوی نه دی:

| | |
|---|---|
| پېښ په لیوني باندې شو پېښ لیونی یو | وې روره په یورپ کې سړی کئ د سړولو |
| بانګ کې د سبا مې پرون نوی ټپه واورېده | تلی وم خالصې ته راته یې اووې «تهکی ناو» |
| پرېږده باچاخانه دا د جېل قصې د خوشی دي | دال مې نه هضمیږي نه عادت یم په پولاو |

د دغه شعر هندسي جوړښت داسې انځوریږي:

| | |
|---|---|
| XY ____________________ | XA____________________ |
| AB ____________________ | XC ____________________ |
| DE ____________________ | XC ____________________ |

د غنيخان د خوښې وړ قالب ترکیب بندونه دي، چې پکې له څو همقافیې بیتونو روسته پیلیز بند بیا تکراریږي، یا یې قافیه بیا تکراریږي. که څه هم دوه دوه بیته روسته د پیلیزې قافیې تکرار یې په ډېرو شعرونو کې لیدل کیږي، خو د پیلیزې قافیې تکرار تر متفاوتو بندونو روسته [ کله درې، کله څلور یا ان پینځه] بیته روسته هم لیدل کیږي.

په زړه پورې خو دا ده، چې غنيخان ترکیب‌بندونو یا ترجیع‌بندونو ته ورته ځینې قالبونه پخپله جوړ کړي، یا راپیل کړي دي، چې زما له کتنې سره سم یوازې د غنيخان منحصر په فرد قالبونو یې ګڼلای شو. د هغه د کابل‌چاپ کلیاتو په ۲۴۹ مخ کې یو همداسې شعر لوستلای شئ، دا شعر «شان او شرنګ» نومیږي او د فلسفي و شاعر تر منځ خبرې اترې دي:

دا سوز او ساز، دا شان او شرنګ

یو سوری د وخت او خیال او رنګ

دا اوښ کاروان، دا سحر ماښام

دا ګوتې او شونډې او مې او جام

امید او خندا، او ژړا او خیام

داګل، دا ساز، داشان او شرنګ

یو سوری د وخت، دخیال او رنګ

دا زور، دا زر، د تورو پړق

دعا او جزا او د حورو پړق

دا پړق د سرو شونډو مغرورو پړق

دا چال او جمال دا خیال او رنګ

اړنګ دوړنګ سپاري ټنګ

دا ښکلي کاته، په نیاز کاته

دا ورو نازک، په انداز کاته

دا لړو کې تا، دسپوږمۍ دمخ

نرگس کې نیازبین د ایاز کاته

دامینه رنگینه ، دا شان او شرنگ

یوسوری د وخت ، دخیال او رنگ

ترپایه

داسې نور ګڼ قالبونه هم شته، چې تر غني مخکې چا نه دي تجربه کړي او که تر ده روسته تکرار شوي وي، خامخا به يې له غني‌خانه اخيستي وي.

د غني‌خان بله بېدودي د تلفظونو ده. ښايست (خيشت)، ورو (رو)، ژوندون (جمدون)، سپړل (سپړدل)، بيړي (بهيړي)، کوهنېدل، لمغږو، بيلات (بايلل) او داسې لسګونه نور ګړدوديز تلفظونه، چې يوځه خو يې د غني‌خان د سبک په توکيو بدل شوي او ځينې يې څرګنده ده، چې تر هغه وخته د معيار په ژبه کې لا دود شوي نه وو او ښايي زموږ شاعر به په لومړي ځل په ليکنۍ ژبه کې کارولي وي.

تر دې ورهاخوا راځو منځپانګيزې دودماتوونې ته.

غني‌خان بې پروا ګڼېږ که زړور، رند يې بولئ که بغاوتګر، خو له ګڼو «ځيزونو» سره ريښتينۍ چلند کوي. د غني‌خان په شاعرۍ کې جام، ساقي، شراب، بزم و معشوق هرڅه ريښتينۍ وجود لري او د زاهد پېشه شاعرانو په شان مجازي او استعاري نه دي. که څه هم چې غني‌خان عارف شاعر دی، د هغه پر عرفاني باورونو او افکارو به بېلې خبرې وشي، خو د «خوند»، «رنګ» او «شرنګ» په اړه د هغه ګڼې شاعرانه تجربې د هغه فردي – عملي تجربې دي.

د خان د شاعري کلونه له ۱۳۰۸ لمريز څخه راپيليږي، تاسو فکر وکړئ، چې د ده د شاعرۍ د اوج او پخوالي کلونه ۱۳۳۰-۱۳۲۰- ۱۳۴۰ لسيزې دي.

د غنيخان د خپلې دعوې پربنسټ د هغه شاعري الهامي – شهودي سرچينه لري. ده ته، چې شعر راشي يا پرې وورېږي، هله نو قلم راواخلي او هغسې يې وليکي، لکه راغلی چې دی او بنايي له همدې امله يې د شکلي جوړښت، وزن او قالب پروا ډېره نه ساتي. بلخي مولانا جلال الدين هم داسې و، په يو غزل کې هغه هم له شکلياتو او وزن څخه بې‌پروايي څرگنده کړې ده:

رستم از اين بيت و غزل ای شه و سلطان ازل

مفتعلن مفتعلن مفتعلن کشت مرا

قافيه و مغلطه را گو همه سيلاب ببر

پوست بود پوست بود درخور مغز شعرا

مرد سخن را چه خبر از خمشی همچو شکر

خشک چه داند چه بود ترللا ترللا

غنيخان د خپلې شاعرۍ الهامي چينې ته داسې اشاره کوي:

د سگرټو ښخ مې وښکه سر مې خوږ که په گرولو

ډېر سرونه مې راياد کړه يو هم نه دی د يادولو

نه ټپه شوه نه چاربيته نه غزل نه نيمکۍ شوه

نه قصه شوه نه بدله نه ساقي شوه نه کوکۍ شوه

شاعري هم يارانه ده نه په زور نه په زارۍ شي

نه په چل نه په هنر شي نه په مال نه په خوارۍ شي

شاعري لکه باران دی کله تندر گړ زهر شي

ناگهانه داسې شړق شي چې صحرا هم سمندر شي

ترپایه...

مخکې مو ووېل، چې هر هنري – ادبي اثر باید د خپلې زمانې له تجربې چاپېریال سره وارزول شي. په هغو کلونو کې د ژوند چاپېریال او ورځنۍ پېښې شاعرانه کول، یوازې نوښت نه، چې لا ادبي بدعت ګڼل کېده. د غني یوه ځانګړنه همدغه بغاوتګرانه بدعتونه دي. دی په زندان کې له مچ سره خبرې کوي، له یوه سپي سره دیالوګ، یوه چونګښه (چینډخه) خپله شاعرانه پرسوناژ ټاکل، خپلې مېرمن ته عاشقانه خطاب، خپل پلار ته سیاسي کره کتنه، د جناح او ګانديجي نقد، له ملا سره ګپ شپ او په سلګونو داسې پرهغه مهال ناشاعرانه موتیفونه شاعرانه کول دا ټول د غنيخان منځپانګیزه دودماتوونه ګڼلای شو:

کارغه

تور دې مخ دی غلچکیه تور دې زړه تور دې آواز دی

سپی یې خېټه ډکول بس ستا انجام او ستا آغاز دی

چاټوری که د ماستو وي که دیکچی د کچالانو

که پولاو د خان لاله وي وظیفه د ملیانو

ستا په هرڅه کې حصه ده ټول جایداد دی ستا د پلار

یا ټونګې وهې یا ټغیږې نه آرام کړې نه قرار....

ترپایه

په بېلابېلو ځېلونوکې د ادبي – متني تجربې له نظره د پښتو په شان په یوه ځوانه ژبه کې شاوخوا اویا اتیا کاله پخوا داسې پرولوګ‌کښنه، سېمبول ټاکنه، تمثیل او انځوریزه شاعري یوازې د غنيخان ځانګړنه ده. غني په دې پسې نه دی ګرځېدلی، چې څوک یې د شاعرۍ په ژبه، خیال، ظرافت او ښکلا څه ډول قضاوت کوي؟ داسې شاعران په ټولو ژبو کې تر مړینې روسته کشفیږي، لسیزې روسته پېژندل کیږي او بیا بیا لوستل کیږي.

مسعود: غنيخان وایي:

اې شهیده، اې عاشقه، اې بچیه د منصور

په خنداجانان له لاړې، ډوب دریاب کې شوې د نور

منصور د غني‌خان  د سپيڅلي بغاوت اتل دی، غني‌خان  د ازادۍ د لارې شهيد ته د منصور د بچي خطاب کوي. تاسو د غني‌خان  فکر او تخيل په دې شعر کې څه ډول څېړئ؟

لېوال: په اسلامي عرفان کې منصور د رېښتيا ويلو اسطوره دی. خورا ګواښمنه رېښتيا « زه حق يم!» د وجودي وحدت پرېڅلونو روانو مبصرانو د منصور خبرې استعاري ګڼلي او توجيه کړې يې دي، خو راځئ لومړی منصور وپېژنو:

حسين بن منصور مشهور عارف و، چې اناالحق يې ووېل او د څواکمن عباسي وزير حامد بن عباس په حکم په ۳۰۹ هجري کې په بغداد کې په دار وځړول شو.

خبر پرې ملايان شو، وې منصور ځان ته الله وايي

دا کفر دا غرور چې يې هر چاته برملا وايي

وې کافر دې شي، سنګسار دې چې پليت نه شي جهان

بادشاه د ليونيو زولنو کې دی روان

د  منصورحلاج په اړه ګڼ روايتونه راغلي، وايي: پر دار يې ځړولی و، خو: «حق حق حق اناالحق» يې نارې وهلې. بيا وايي: لاس و پښې يې ورپرې کړې، وېې سېزه او ايرې يې دجله کې واچولې، خو ده لاهم د «اناالحق» نارې وهلې.

منصور چېرته ليدلی د مخ نور وه د جانان

دا مست چې پرې منصور شو دا سرور وه د جانان

وې د حسن ارماني نه يم زه د حسن سمندر يم

زه مست ليونی نه يم زه مستي د بحر و بر يم

شيخ عطار په خپله تذکرةالاولياء ليکي: حلاج پنبه‌وهونکي ته وايي او هغه ته ځکه حلاج وايي، چې يوځل يې د پنبې يوه انبار ته اشاره وکړه، په يوه شېبه کې دانې له پنبو څخه راووتلې او خلک حيران شول. عطار له حلاج څخه دا روايت هم رااخيستی، چې ويل يې: « رکعتان فی العشق لايصح وضوءهما الا بالدم» په عشق کې دوه رکعتونه دي او بس، خو اودس يې ښايي په وينو وشي...

عطار هم هغه د عشق استازی یادوي او لیکي: « آن فی الله فی سبیل الله آن شیر بیشهء تحقیق آن شجاع صفدر صدیق آن غرقهء دریای مواج حسین منصور حلاج رحمةالله علیه کار او کاری عجب بود و واقعات غرایب که خاص او را بود که هم در غایت سوز و اشتیاق بود و در شدت لهب و فراق مست و بی‌قرار و شوریدهء روزگار بود و عاشق صادق و پاک‌باز و جد و جهدی عظیم داشت و ریاضتی و کرامتی عجب و عالی همت و رفیع قدر بود او را تصانیف بسیار است.»

حقیقت دا دی چې د مسلمانو پوهانو اختلاف او د نظرونو راټولول یوازې د حلاج پر شخصیت نه راگرځي، بلکې د هغه د نظریاتو او افکارو په ځانگړې توگه د حل (حلول) او د وجود د وحدت شاوخوا راگرځي.

منصور خو پخوا ډوب شو دا تش نور دی د جانان

دا نه دی منـــــصور نه دی دا سرور دی د جانان

یا:

منصور وې خلقو واورئ چې زه نور او زه ربنا یم

زه گل یم زه بلبل یـــم، زه وصــــال زه محبوبا یم

په شرقي شاعري کې د منصور او دار ته د ختلو تلمیح یوه له ډېرو تکرارېدونکیو تلمیحاتو څخه ده، چې ښایي هر ادب لوستي ته څرگنده وي.

شیرازي حافظ څومره ښکلی یاد کړی:

گفت آن یار کزو گشت سرِ دار بلند

جرمش این بود که اسرار هویدا می کرد

او بلخي مولانا وایي:

منصور بُد آن خواجه که در راه خدا

از پنبهٔ تن جامهٔ جان کرد جدا

منصور کجا گفت اناالحق می گفت

منصور کجا بود خدا بود خدا

رحمان بابا ویل:

هر وګړی چې منصور غوندې په دار شي

دار يې پس له مرګه نخلِ ميوه دار شي

يا

که مې سر لکه منصور غوندې په دار شي

دغه دار دی و رحمان و ته معراج

خوشال بابا فرماييلي:

منصور چې مست وو له هغه جامه

جرعه يې راغله زما تر کامه

منصور په دار شه زه به لا نور څه شم

که رازمې ورسي تر خاص و عامه

شمس‌الدين کاکړ ويل:

که دې راز د اناالحق په زړه کې پټ کړ

څوک به تا څکوي و دار ته د منصور

د غني‌خان په شاعرۍ کې منصورحلاج له درېيو اړخونو ډېر تلميحي حضور لري:

۱ـ غني‌خان  وحدةالوجودي او وحدةالشهودي دواړو عرفاني مکتبونو ته نظر لري، چې روسته به ورته اشارې وشي.

۲ـ منصور د غني لپاره د مينې يو ژوندی سېمبول دی، مست دی او دومره مست، چې په ځان نه پوهيږي. غني، ډېر ځله منصور د ځان لپاره سېمبول ټاکلی. ښه به وي ووايم، چې د غني په شعر کې ګڼ ځله منصور پخپله د شاعر پرسوناژ دی.

۳- د غنيخان له نظره منصور د «تکفير» په وړاندې د ودرېدلو، قيام او پاڅون اتل هم دی. شاعر د تذوير د لښکر په وړاندې له منصور سره څنګ ترڅنګ جنګيږي او باور لري، چې دی او منصور په حقه دي.

غني کله کله هغې پايلې ته رسيږي، چې شيرازي حافظ وررسېدلی و: «جرمش آن بود که اسرار هويدا می گفت»

منصور يو لېونی و د معشوق اداب يې هېر کړه

منصور يو لېونی و د مستۍ شراب يې ډېر کړه

وې مستي دا زما نه ده د جانان د سترګو نور دی

زما د خولې خبرې هم تورات او هم زبور دی

دا رنګ زما د سترګو نه دی رنګ دی د جانان

دا شړنګ زما سينه کې د ښپو شړنګ دی د جانان

منصور چرته ليدلی د مخ نور و د جانان

دا مست چې پرې منصور شو دا سرور و د جانان

عالمه راشئ واورئ چې زه نور او زه رڼا يم

زه ګل يم، زه بلبل يم، زه وصال، زه محبوبا يم

منصور خو پخوا ډوب شو دا تش نور دی د جانان

دا نه دی منصور نه دی دا سرور دی د جانان

يا

نه و ليونی منصور خپله چې په دار وخوت

څه خو يې ليدلي و، ځکه په تلوار وخوت

غني ډېرځله خپلې خبرې د منصور له خولې کوي:

خدای مکه کې نشته د منصور د خولې مې واورېده

لاړ شه ليونيه، شه د ځان په تماشه

زموږ شاعر له منصور سره داسې اړيکه لري، لکه جرمن شاعر و فيلوسوف فرېدريش نيچه چې له زرتشت سره لرله، نيچه په «داسې وغږېد زرتشت» کې خپلې خبرې د زرتشت له خولې کوي.

خوب وينم چې پورته لکه چغه د منصور شومه

يا يوموټی خاوره وم يا لوی درياب د نور شومه

خو بانګ د سحر وشو زه راويښ شوم کر و کور شومه

خوب يوړه خوبونه را ژوندی شوه زمانه

وې پرېوځه لېونيه تيروه دې زمانه

له وحدةالوجودي او وحدةالشهودي عرفاني – کلامي بحثونو سره د غني‌خان  پر اړيکو به روسته خبرې وکړو، هله به يې له منصور سره د روحاني اړيکيو د باريکيو په رمز و راز پوهېدنه هم اسانه شي.

مسعود: غني‌خان مينې ته څنګه ګوري؟ مينه د هغه له نظره څه ده؟ او په شعرونو کې يې څنګه انځور شوې ده؟

زه چې ګورم، د غني‌خان  په خيال او افکارو کې د يو روښانه او ځليدونکي لمر په توګه مينه خپل ځای، پوړی او مقام لري . لکه چې وايي:

سترګو د جانان کې زما ښکلي جهانونه دي

واديخله دنيا زه وړی ستا د دنيا نه يم

ګوره د فقیر کچکول کې تاج د سکندر پروت دی

زه یم د سخیانو د شومانو ګدا نه یم

زه یې په غرور درته د مینې په نوم غواړمه

زه ملنګ بې نیازه ستا  د ویرواویلا نه یم

یو د سپوږمۍ څاڅکی درنه ټیك له د جانان غواړم

زه یم د خوبونو د لعلونو ګدا نه یم

هغه مستي غواړم چې یې مرګ نشي وژلی

زه دې د غمونو د بیګا او سبا نه یم

تشه دنیاګۍ که دې ببنې نو اې امیره

ستا شوه ستا دنیا زه وړی ستا د دنیا نه یم

لیوال: مینه د بشریت په تاریخ کې یو داسې حس او غریزه ده، چې د بشریت نیمایي خپلمنځي خبرې اترې (تکلم) پرهمدې حس راڅرخي. که ټوله مادي هستي نه وي، نو د ژوند هستي خامخا له مینې سرچینه اخلي. په اسماني ادیانو کې هم په خورا سېمبولیکه بڼه دې پایلې ته رسیږو، چې ادم د حوا او حوا د ادم د مینې لپاره (هست) شول او بیا نوره بشري هستي ترې راوزېږېده.

ستوري ته اسمان یوه ورځ ووې هلال

خدای ادم له مینه ورکړه موږ له تش جمال

زه به په خندا ورکړم دا خپل ښایست د کمال

ما له که یو څاڅکی مینه راکړي څوک په سوال

نږدې ده ووایم، چې هغه ممنوعه میوه (خواږه) چې څوک یې غنم، څوک یې مڼه او څوک یې بل څه بولي، په حقیقت کې د ادم اوحوا تر منځ مینه ده، چې دا نور توکي یې سېمبولونه دي.

لنګه تیاره شوه، رڼا یې راوړه

ادم چې مست شو حوا یې راوړه

او:

د ادم د نوم بس یو دا ســـبب

د بهار سبب د رڼا ســـبب

د حوا د ژوند او ارمان قیصــه

د ســـرود رقص او د ژړا سبب

عشق یا مینه د بشریت له ټولې هڅو سره سره ناپېژانده ده، تعریف یې ستونزمن او دځینو له نظره ناشونی دی. ارواپوهان یې یوډول، طب و بیولوژي یې بل ډول، عارفان یې بیخي په بېله مانا او فیلوسوفان یې په متفاوته بڼه تعریفوي. ښايي د یوه عادي زلمي شپون تعریف تر ټولو دقیق تعریف وي، چې پخپله مبین وي او مینه یې تجربه کړې وي. خو بیا هم راځئ وګورو، چې د مینې لپاره کوم پېژندونه موندلای شو:

مینه یو شدید احساس دی، چې یو «هست‌شوی» موجود د بل هست‌شوي موجود خواته ورکاږي. مینه له ځان‌میینتیا (نارسیسیزم) څخه راپیلیږي، څکه انسان محبوب یوازې ځان ته غواړي. پر محبوب د راخپلولو افراطي ورکاږنه د عشق ریښې په (زه) کې خښې ویني.

زه یم زه یم رنګ سرور اور او شرنګار زه یم

د جانان سترګو کې مړاوې خمار زه یم

دا خو زه د ځیګر سوز په هوا سور کړم

روح، مطلب، مانا، اواز د ستار زه یم

چې زه نه یم بې مانا جنت اسمان دی

د جهان د سوز او مینې مختار زه یم

فرانسوي فیلوسوف رنه دکارت فکر کوي، چې مینه یو نفساني شور او عاطفه ده، چې حیوانی روح له خپل مطلوب سره د یوځای کېدو خواته وربولي. دکارت لږ وړاندې فکر کوي، چې د مینې دواړه خواوې د یوه کُل توکي دي او دا توکي غواړي سره یوځای شي او نیمګړی شوی کُل بشپړ کړي.

په یوناني ژبه کې د مینې لپاره درې مفاهیم کارېدلي: اېروس، (Eros)، فیلیا (Philia) او اګاپې (Agape) . اېروس د مینې غریزي (نوریز=جنسي) اړخ مانا کوي. فیلیا یې ټولنیز اړخ او اګاپې یې اخلاقي – دیني اړخ راپېژني.

اپلاتون مینه له ښکلا سره تړلې ګڼله. ده فکر کاوه، چې د ښکلا ورکاړنه (جاذبه) مینه ده. هغه مفهوم، چې روسته بیا په عرفان کې هم ډېر تکرار شوی دی، یعنې له مجازي مینې څخه حقیقي مینې ته سیرو سفر هم د اپلاتون په افکارو کې ریښه لري. اپلاتون ویل: حس‌کېدونې ښکلا د معقولې او حقیقي مینې کاپي یا مخلیک دی.

مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده

حسن له زوال شته، مینه نه لري زوال

یا:

وه تپوس د حسـن مـکوه
سـمندر شـي څوک تللی
څوک سـپوږمۍ شـي را نیولی
څوک زهرا شـي ښکلولی

حسن پلار د مینې او مور د عشـق
پکې پټ ټول سپین او تور د عشق
د ده د خیال، نظر همه زور د عشـق
په سرو شونډو بلوي ښکلی اور د عشق

دا بابا د سـر او سـرور دی
دا تعبیر د جـلال او نور دی
دا مکه د سـترګو خندا کې
دا په هره کوځـه کې طور دی

دا جواب د لکونو سـوالونو دی

نشته هیڅ د ژوندون بل ځواب

اپلاتون په خپلو دریګونو رسالو ( مېلمستیا، لوسیس او فایدروس) کې د حقیقي مینې او ښکلا تر منځ پر معقولو اومحسوسو اړیکو تم شوی دی.

حسن دی بس حسن چې هم خدای دی هم جانان دی

دې فاني مکان کې بل مثال د لامکان دی

له خدای سره مینه د عرفان منځټکی دی. عارفان له خدای سره د «ذات» مینه کوي، نه د «تمې».

په جنت او په دوزخ مې څه کار نشته

د دې دواړو بره ما لیدلې لار

د جزا او د سزا نه بې پروا یم

خو پوهېږم په فراق او په دیدار

عارفان وايي: د جنت په شوق یا د دوزخ له ویرې څخه نه، بلکې پخپله د خدای د طلب د اشتیاق لپاره ښايي مینه وکړو.

عشق یو وجد د رب دی په وجدونو د انسان کې

روح د ړوکي ګل د سپرلي، سترګو د خزان کې

نومیالۍ عارفه رابعه عدویه (بصري) چې په عرفاني ادب کې د اُم‌الخیر او تاج‌الرجال په القابو یاده شوې ده، یوه ورځ په بازار کې په داسې حال کې په منډو سر وه، چې په یوه لاس کې یې د بل اور مشال او په بل لاس کې یې د اوبو کوزړۍ وه، دا په دې مانا، چې غوښتل یې جنت ته اور واچوي او د دوزخ اور په اوبو مړ کړي، پیغام یې دا و، چې خدای غواړم، له خدای سره مینه کوم، خو نه د دوزخ له ویرې یا د جنت له شوقه.

دا دماغ زما چرې نه مني

چې د ګل خالق به سقر کړي جوړ

ځنګ خوږې به پرې زما کړیکې لرې؟

چا چې ما له نرګس او دلبر کړ جوړ

غنيخان له ملا سره یو اختلاف په همدې لري، چې د ملا ټول هل وهول د جنت مادي شهوت او د خوند اخیستنې لپاره دی، نه د خدای د مینې او حقیقي محبوب ته د رسېدلو د «جنون» لپاره:

ستا جنت د جنون بې خبره ژوند

ستا جنت یو هوښیار شان تصویر د ځان

ستا جنت د شهوت او د تندې ډک

ستا جنت ستا د لوږې د تاوان مکان

له محبوب سره مینه یعنې پخپله محبوب او بس. له محبوب سره د بل «هیڅ» څه لپاره مینه کېدلای نه شي. ځکه خو په عرفان او ادبیاتو کې مینه او مینه (عشق او معشوق) سره مترادف شوي دي.

سوکرات هم مینه له ښکلا سره تړله، خو موږ وړاندې هم ویلي وو، چې د یوناني فیلوسوفانو له نظره ښکلا او خیر هممانیز دي. ښکلا یعنې خیرمطلق، یعنې ټول (ښه).

یو د ګلاب مخ کې چې پراته کوم ځوابونه دي

نشته دی یو نشته د منطق په کتابونو کې

یا:

ژوندون څه دی یو باغ دی لویږي

ورکېدل دي د ښایست زیاتېدو له

خپل ژوندون خپل سینګار ورکول دي

سوزېدل دي ژوندون خورېدو له

د لرغوني يونان نامتو ډرامه ليکونکی او د يونان د لرغونيو کومېډيو هستوونکی اريستوفان د مينې په اړه يو په زړه پورې تمثيل لري، چې تر ډېره بريده له نومهالې ارواپوهنې سره د مينې پر مفهوم په راڅرګندونوکې مرسته کوي: اريستوفان په يوه اسطوره‌يي کيسه کې مينه داسې تمثيلوي: په لومړي سرکې انسانان بشپړ هست شوي وو او لکه غونډاري داسې بڼې يې وې. په يوه سر کې يې دوه مخونه لرل. د سر دوو خواووته يې مخونه ول، دوه جنسي غړي يې لرل يو مخته او بل يې شاته. دې بشپړ انسان د خدايګوټيو له احکامو څخه سرغړونه وکړه او خدايګوټيو يې د جزايي کولو پرېکړه وکړه. لومړی يې وغوښتل، چې بيخي يې نيست کړي، خو بيا له دې پرېکړې تېر شول، ځکه بيا به د دوی پرښتنه(عبادت) چا کاوه؟ نو دويمه جزا يې ورته وټاکله. هو، بشپړ انسان يې له منځه سم نيم کړ. خدايګوټيو انسانان داسې سره بېل کړل، چې له هر غونډاري انسان څخه يې دوه انسانان جوړ کړل. له هغې ورځې تر نن پورې هره نيمايي په خپلې بېلې‌کړای شوې نيمايي پسې ليونی دی او ګرځي، چې ويې مومي. هر انسان په خپلې نيمې ورکې پسې ګرځي او همدا تلوسه، همدا ليونتوب، همدا اشتياق و ليوالتيا «مينه» ده.

دا تعبير زما د مست زړه د تالاش دی

يار زما د زړه ارمان دی دلدار زه يم

دا زما زړه چې د ښايست او رنګ شي وږی

سپرلي سره ګلونه راشي بهار زه يم

دا چې زه شم د مسکو شونډو لېواله

ليلی جوړه کړم د حسن معمار زه يم

دومره پوه شوم په دې ړوکي غوندې ژوند کې

يار زما کمال، کمال د دلدار زه يم

غني‌خان وايي: زه د يار او دلدار زما د کمال (بشپړتيا = تکميل) لپاره يو. هماغه نيمه ورکه ده، چې ښايي يو بل ته په رسېدو يو بل کامل کړي او دواړه کمال ته ورسيږي.

د بلخي مولانا په قول:

هرکسی کو دور ماند از اصل خویش

باز جوید روزگاری وصل خویش

په نومهالي ارواپوهنه کې د «انيما او انيموس» مفاهيم له همدې فکر څخه سرچينه اخلي. انيما او انيموس ( Anima and Animus) د کارل گوستاو يونگ د تحليلي ارواپوهنې په ښوونځي کې، د هر شخص غير شعوري برخې يا رېښتيني باطن ته اشاره کوي، کوم چې د يوې څېرې (ماسک) يا د شخصيت بهرنۍ بڼه څرگندوي. انيما د نارينه په غير شعوري ذهن کې د ښځينه داخلي شخصيت په توگه او انيموس د يوې ښځې په غير شعوري ذهن کې د نارينه داخلي شخصيت په توگه څرگندېږي.

د نومهالي ارواپوهنې له نظره په هرنارينه کې د ښځينه ځانگړنو او په هره ښځينه کې د نارينه ځانگړنو يوه برخه خامخا شته، چې يو پر بل مېين دي. د دغو لاشعوري ځانگړنو جاذبه هغه وخت په بل (ډېر ځل مقابل نوړي = جنس) کې موندل کيږي، چې لومړنی انسان ورکاږي، د مينې لومړنۍ ورکاړنه له همدې ځايه پيليږي.

د مينې داسې عجيب پېژاند په پښتو شاعرانو کې تر هربل شاعره د غني‌خان په شعرونو کې څرگند موندلای شو:

زما پټ کله شغله کې د سپوږمۍ شي جانان

کله لاله شي کله بيا ښايست اولۍ شي جانان

کله رامبېل کله د سور گلاب غوټۍ شي جانان

ورته به وايم چې بيا ماسره يوځای شي جانان

ښکلا، د ښکلا ټول مظاهر او بيا د خپل ورک شوي نيمايي وجود (جانان) د بېرته له (ما) سره د يوځای کېدو تلوسه يعني مينه.

مسعود: د غني‌خان  په افکارو او شعرونو کې مستي، بغاوت، سرکشي او عصيان، ياغي توب، ازاد او سرشار طبعيت او فلسفي زړورتيا له ورايه ښکاري. تاسو د ده  په شعرونو کې دا  لاملونه او فکتورونه څه  ډول ارزوئ ؟

لېوال:  شعر، بلکې هنر پخپله د طبیعت په وړاندې د بشریت ذوقي بغاوت دی. د ښکلا پنځولو یو پېژاند دا دی، چې موږ له هغه څه سره مخامخېږو، چې ورسره عادي نه یو. انځور ګر د تک‌سره ګلاب په منځ کې د اور یوه شنه لمبه انځوروي موږ حیرانېږو. هنر هغه ځواک دی، چې زموږ حیرت راپاروي.

یو ګلاب ځان له روان دی، تک تور سوي بیابان کې

یوه سپینه شمع خاندي، د یو قهر په توپان کې

هنر موږ ته دا زباتوي، چې هستي زموږ له عادته برخلاف نور رنګونه هم لري، دا رنګونه او ترنګونه چې زموږ ذوقي حیرت راپاروي د طبعیت له عادي وضعیت څخه بغاوت دی.

سترګو د جانان کې زما ښکلي جهانونه دي

وادې خله دنیا زه وړی ستا د دنیا نه یم

غني‌خان چې ځان لیونی بولي، هم یو دلیل یې دا دی، چې له معمول عادت سره خپل توپیرونه پېژني:

یا زه جوړ یم دا کل خلك لیوني دي

یا دوی جوړ دي، بس یو زه یم لیونی

حقیقت تل زموږ له تمې سره سم نه وي. هغه څه چې موږ پرې باور لرو، که بل یې مات کړي، موږ ته بغاوت ښکاري، دا بغاوت له (غلط معمول) سره سرچپه خوځښت دی، لکه څوک چې د سیند د اوبو د روان بهیر په مخامخ تګلوري کې لامبي.

څنګه څنګه په یو ګوټ کې دا جهان او اسمان واچوم

د شنبم څاڅکو کې څنګه د سیندونو دوران واچوم

که له هنري بغاوت څخه یو پوړ ورپورته شو، نو له ټولنیزو قرادادونو (متعارفو اخلاقو، ادابو، قوانینو، تابوګانو، دودونو او ان دین و مذهب) څخه هنري بغاوت د غني‌خان د شاعرانه سبک یوه لویه ځانګړنه بللی شو:

شرم دستور، رواج اسلام او پښتو

ټول ستا له شونډو مې ځار کړي دي

یا:

ښکلې چې شي ورانه لا مزه په کې پیدا شي

شیخې داړه ورې نه ښایسته کاسیره ښه ده

د «دود پېژند، شناخت متعارف» په وړاندې هنري یا فکري بغاوت هغه مهال پېژاندلی شو، چې د پېژند تیوري Cognition وپېژنو.

موږ سطحي یا عمومي پېژند لرو، علمي پېژند، فیلوسوفیک، عرفاني، مخامخ، نامخامخ یا «د هیندارې»، فطري یا لاشعوري، وهمي او څېړنیز پېژندونه لرو. حقیقت کېدلای شي، تر دا ټولو بېل وي. هر ډول پېژند زموږ په ذهن کې د حقیقت انعکاس دی.

تر کوپرنیک او بیا روسته ګالیلو پورې دود یا متعارف پېژند دا و، چې زمکه ولاړه ده او لمر پرې راڅرخي. کوپرنیک له دې متعارف پېژند څخه ووت او په علمي استدلال یې زبات کړه، چې نه زمکه هم پرځان او هم پر لمر راڅرخي، چې په پایله کې یې شپه و ورځ او میاشتې وکال رابرېږي. ګالیلو د کوپرنیک دا نظریه اعلان کړه او هڅه یې وکړه، چې دفاع ترې وکړي. کشیشانو او کلیسا تکفیر او توبې ایستلو ته یې اړ کړ.

حقیقت ته د رسېدو یوه لاره دا ده، چې له دود یا متعارف پېژند څخه ووځې، هستي ته له پاسه وګورې او هڅه وکړې د حقیقت هغه بڼه اعلان کړې، چې ورته رسېدلی یې. کټ مټ لکه د کوپرنیک و ګالیلو تجربه.

هله یار وته نږدې شوم چې د یاره شومه لرې

هلی پوی شوم په خبرو چې یې ناورمه خبرې

غنيخان په پښتنو شاعرانو کې همدا کار کوي، له معمول او متعارف پېژاند څخه وځي، نوي حقیقت ته رسیږي او د ویلو جرئت یې لري. موږ همدې کار ته بغاوت وایو.

خلق وایي راته چې شته دی

زړه مې هم وایي چې یې!

خو جهان دې داسې ښکاري

لکه بې مالکه کور

ستا د خپلې خولې دښمن له

خوشحالي، مينه، ارام دی

ستا اشنا له تنهايي ده

تهمتونه او پېغور

يا:

دا چې زه ځان ليونی کړم، دا زه تنګ شمه د ځانه

شيخ بابا راته لګيا دی، مسئلې کړي د عذاب

زه خو دلته په عذاب يم، د دې خپل خود او احساس

ځکه کله په سجده شم، کله وڅښمه شراب

چې بې حسه شم، ورکيږم، چې احساس لرم سوزيږم

نه طاقت شته د سکون او نه همت د اضطراب

چې چاپېره نظر وکړم، همه پټ او ښکاره زه يم

دا شراب دي ما جوړ کړي، ما جوړ کړی دی محراب

مذهب څه دی، څو رسمونه، مسئلې او منطقونه

او د هغې سوال جواب دی، چې يې نشته دی جواب

ترپايه

د غنيخان د باغي فطرت بله ځانګړنه «پوښتل» دي. په پښتنو شاعرانو کې هيچا دومره پوښتنې کړې نه دي ، لکه غنيخان . دا چې د ده پوښتنې ولې مهمې دي، په بل ځای کې پرې غږيږو.

مسعود: د ډيرو ليکوالو او څېړونکو په ليکنو کې غنيخان ته فلسفي او يا ليوني فلسفي او همداسې نور اصطلاحات کارول شوي دي. تاسو د دې القابو دک و دليل او بنسټيز لاملونه او فکتورونه په څه کې وينئ، او دا راته وواياست چې دی په رښتيا سره د فلسفي تخيل او تفکر شاعر دی او که نه؟

لېوال: مهمه پوښتنه ده. له ډېرې مودې مې پام دی، چې مبصران پر دې بحث و شور لګيا دي، چې غنيخان يو فيلوسوفيک (فلسفي) شاعر وګڼي که نه؟ هغه يو عارف شاعر دی، که يوازې يو رند دی؟ ځينې خو دومره وړاندې ځي، چې نه يوازې يې فيلوسوفيک شاعر پېژني، بلکې لا فيلوسوف يې ګڼي، پرته له دې چې ووايي: څه ډول فيلوسوف؟ او د کومې فيلوسوفيکې نظريې خاوند يا د کوم مکتب پلوي فيلوسوف؟

دا اختلافات او بحثونه ځکه روان دي، چې موږ د فيلوسوفي او فيلوسوف په اړه هم خورا دوديز او سرسري پېژاند لرو.

هر انسان فيلوسوفيک فکر لري او له هرچا سره فيلوسوفيکې «پوښتنې» پيدا کيږي، خو فيلوسوفان هغه کسان دي، چې کړلای شي دغو پوښتنو ته په سيستماتيکه بڼه د ځواب پلټلو لارې چارې ومومي.

زه ولې په ختيزو ژبو کې دود (فلسفه) فيلوسوفي ليکم؟ دا ځکه، چې د هغې يوناني ( philosophia φιλοσοφία "فيلوسوفيا) ته ورنږدې ده. په پښتو کې يې که ټکی پرټکي راوژباړو مانا يې ده « پوهنپالنه» ، خو لوړی راځئ فيلوسوفي وپېژنو.

په لومړي سر کې فيلوسوفي داسې يوه فکري کړنه (فعاليت) دی، چې د څيزونو د پېژاند پلټنه کوي. له دين سره يې څرګند توپير دا دی، چې د ايمان له مخې څيزونه له نورو نړيو څخه د راغليو پيغامونو له مخې نه، بلکې د شته حقيقت پر بنسټ د پېژندلو وړ ګڼي. غنيخان دا حقيقت (عشق) نومولی:

د مُلا خبرې خوشې، معامله زما او ستا ده

دا داستان د لوړې نه دی، دا قصه د عشق او ساه ده

له اپلاتون څخه را په دېخوا فیلوسوفي د دوو پوهنپالو ارزښتونو پر بنسټ راڅرخي: «حقیقت»، چې د تیوریکې څېړنې ټاکونکی دی او «ښه‌والی = خیر» چې د عملي یا پراتیکې څېړنې ټاکونکی دی. دغه پوهنپاله کړنه نه د څیزونو بڼې و ظاهر ته پام ساتي او نه هم وارله مخه ګروهیزو وړاندوینو ته.

کانت ویل: فیلوسوفي درې پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه ده؛ په څه پوهېدلای شم؟ څه وکړم؟ او په څه پورې د هیلو تړلو واک لرم؟ د دې درېواړو پوښتنو نچوړ دا پوښتنه ده، چې انسان څه دی؟ له پوهنې یا ساینس سره د فیلوسوفي یو توپیر همدا دی، چې تر څیزونو زیات پر «انساني‌پېژندنه» تم کیږي. ویل کیږي، لومړنی فیلوسوف سوکرات و، چې انسان یې د څېړنې په محور کې راوست او د نړۍ پېژندنه یې پوهنې یا ساینس ته ورپرېښوده، سوکرات ویل: «نړۍ پرېږده، ځان وپېژنه!»

زما دانشمند ملګری ښاغلی امین دریځ په دې اړه په زړه پورې نظر لري:

« فیلوسوفي د دې پوښتنې د ځواب په لټه کې ده، چې نړۍ او ژوند او په هغوی کې واکمن قوانین ولې منځته راغلي دي؟ سره له دې چې هـر فلیوسوفیک سیستم هڅه کوي دغه ډول پوښتنو ته رېښتینی ځواب ومومي، خـو کله داسې هم پېښېدای شي، چې ځینې ځوابونه هېڅډول پوهنیز Scientific بنسټ ونلري. نن ورځ د ټولو فیلوسوفیکو سیستمونو د نظریو رېښتینواله او نارېښتینواله د ساینس و منطق په تله تلل کېږي او همدا د معیار په توګه ګڼل شوي دي. کله چې یوه فیلوسوفیکه نظریـه پـه همدغه تله و تلل شوه او پوره وخته نوره نو د فیلوسوفي له کړۍ راوځي او د پوهې په یوه ځانګه پورې ونښلي نوره نو بیاد پوهې دنده ده، چې د دغې نوې پېښې څرنګوالی او د هغې اړوند قوانین وڅېړي. لنډه دا چې فیلوسوفي ولې؟ او ساینس څنګه؟" ته په ځواب موندلو پسې لالهانده دي.

ویلای شو چې د فیلوسوفي په مرسته ولې؟ تـه ځواب لټول کېږي او هر هغه انسان چې په ویښه او هوښیارۍ کې دا ډول پوښتنې ورته پیدا کېږي او مینه لري چې ســم او رېښتینی ځواب ورته ومومي په یوه ټاکلي پړاو کې فیلوسوفیک دی او دا هڅه یې یوه فیلوسوفیکه بوختیا ګڼل کېږي.

هر انسان د زړه له کومې غواړي په هغه څه وپوهیږي چې لـه ده نه پټ وي د رازونو د سپړلو مانا په(حقیقت = رېښتیا) پوهېدل دي، په تېره بیا د ژوندانه او نړۍ په اړه په حقیقت پوهېدل هر چاته پر زړه پورې دي ځکه چې د ژوندانه برخلیك ورسره تړلی او هر څوک غواړي چې په هرځای کې ښه ژوند وکړي اوښه برخلیك ولري. له دې نه ښکاري چې فیلوسوفي کـوم ځانګړی امتیاز نه دی چې یوازې د ارستو، سوکرات، اپلاتون، هګل، کانت یـا بـل و بـل پـه بـرخـه رسېدلی وي، بلکې ټول انسانان ځانګړې فیلوسوفیکې وړتیا او افکار لري چې د خپلو امکاناتو ترپولې وده ورکولای شي

او ټاکلي پایلې لاس تـــه تـــرې راوړلای شي. دلته پوښتنه را ولاړېږي چې کـــه داســـي وي نـــو بـيـا ولـې د هر چا له نامه سره د (فيلوسوف) کلمه نه ليکو او د افکارو په تاريخ کې يوازې د ګوتو په شمېر څو فيلوسوفان پېژنو اوبس؟ د دې پوښتنې لنډ ځواب دا دی چې: «هر چاچې څه وغوښتل هماغه ته به ورسېږي» موږ ځکه هر چاته په علمي توګه فيلوسوف نه وايو چې ټولو دا نه دي غوښتي اونــه هـم دې ته وزګار دي چې د فيلوسوفيکو پوښتنو په اړه خپل افکار بشپړ راټول او د ټاکليو آرونو په رڼا کې ژوره وده ورکړي. خو هغه چا چې د ژوندانه په نورو چارو کې ډېر نه دی بوخت شوی او حقيقت موندلو ته يې کار ويلی او د دغه کار له پاره يې يو سيستم غوره کړی، موږ هماغه ته فيلوسوف وايـــو.»

دا يوازې د فيلوسوفي ځانګړتيا اولوښه نه ده، ټولې پوهې، او ورځنۍ چارې همداسې وګڼه. د بېلګې په توګه موږ ټول څه ناڅه پـه شـمـېـر پوهېږو، په ژبو غږېږو، ناروغۍ پېژنو، په يوه يـا بـل ديــن ګروهمن يو او داسې نور، خو ټول شمېر پوهان، ژبپوهان، ډاکتران، دينپوهان يا داسې نور نه يو. ځکه چې دا هره يوه بېلابېله څانګه ده او ځانګړې زده کړې او هڅې غواړي.

موږ وويل، چې فيلوسوفي له پوښتنو سره نږدې اړيکي لري. سوکرات به پوښتنې کولې، د سوکرات فيلوسوفيک مکتب پر پوښتنو ولاړ و. د هغه يوه برتري دا وه، چې په ناپوهي يې اعتراف کاوه: «پوهېږم، چې نه پوهېږم!»

خدايه! وکړم د غنچې سره خندا؟ که د خوار غريب بلبل سره ګريان

خدايه وګورم د خپل يار ښکلي مخ ته که د خپل سوي زړګي شم تماشان

خدايه وويرېږم ستا د لوی دوزخه؟ يا که تمه کړم شروع د حور غلمان

ته مې پوه کړه، ته مې پوه کړه نه پوهېږم

چې زه تا کړمه خوشاله او که ځان؟

د سوکرات ميتود د فيلوسوفي په تاريخ کې په (سوکراتي پوښتنې) مشهور دی. سوکرات به خبرې په سوال او ځواب پيلولې.

او په پيل کې به يې خپل ځان د هغه څه سره همغاړی وښوده، څه چې به يې مخاطب ويل. دا خبرې به اوږدې شوې، خو دا بحث به داسې ځای ته ورسېد، چې مخاطب به يې په خپله ناپوهی يا بېخبری وپوهاوه او هغه به ومنله چې نه

پوهيږي. سوکرات په مخاطب کې دا زړورتيا روزله، چې خپله ناپوهي کشف کړي، اعتراف پرې وکړي او دا ور وښيي، چې پر ناپوهۍ اعتراف تر ټولو ستر علم دی.

غنيخان ځکه ګڼو مينه‌والو ته فيلوسوف يا فيلوسوفيک شاعر ښکاري، چې پوښتنې کوي.

دا زه څه له؟ ولې جوړ شوم؟
خبر نه يم، نه پوهېږم

ولې سوز شم؟ ولې ساز شم؟
يو اواز يم چې غږېږم

يا:

خدايه! عقل چې و زړه دې ولې راکړ؟

په يو ملك کې دوه خود سره بادشاهان

بادشاهي او فقيري دې ولې يو کړه!

د ژوندون په هره سا کې مرګ پنهان

ولې غم لکه آسمان په جهان خور دی!

خدايه ولې خوشحالي دې کړه نايابه؟!

ولې جوړ دې کړه اننګي د ګل د پاڼو؟

خداې ولې نشه بيايي له شرابه؟

ولې ښايست او رنګ دې دواړه خور او ورور کړه

ولې ولې دې جهان کړ ډك په رنګ!؟

ولې کوڼ دې زه پيدا په جهان نه کړم

خدایه! ولې دې آواز پوست کړ د چنګ؟!

ولې ما ته دې عطا کړ فکر و خیال؟

ولې ولې په رڼا ورځې خوبونه؟

خدایه! ولې دې ځواني هر چا له ورکړه؟

خدایه!ولې دې پیدا کړل امیدونه؟!

ولې جوړ دې د یار سترګو کې جنت کړ؟

ولې تریخ دې کړ بېلتون او خوږ وصال؟

خدایه ولې دې سپوږمۍ له رڼا ورکړه؟!

چې زنګوي مې د مستۍ په مهین تال؟

ولې جوړ دې کړ ازغی د ګل په خوا کې؟

ولې زړه مې پاك خو جسم مې ناولی؟

ولې ما له دې د ولې طاقت راکړ؟

خدایه ولې، خدایه ولې، خدایه ولې؟!

او:

څوک دې ماته ووایي، چې څرنګه شیدا شي څوک

څوک چې چاته وخاندي، نو ولې په خندا شي څوک

غنيخان ته «ولې؟» او «څه دپاره؟» ترټولو مهمې شاعرانه پوښتنې دي. شاعر غواړي ووايي، چې د انسان یوه لویه ځانګړنه، چې په ټوله هستي کې یوازې او یوازې د ده په برخه ده د «ولې؟» پوښتلو توان دی:

ولې ما له دې د «ولې» طاقت راکړ؟

خدایه ولې، خدایه ولې، خدایه ولې؟!

د هرڅه په وړاندې پوښتل او د دې پوښتنې شاعرانه کول، د غنيخان ځانګړنه ده او په پښتنو شاعرانو کې لومړنی شاعر دی، چې جدي پوښتنې مطرح کوي.

چا د ځانه جهان جوړ کړه د عالمو

ډک د لوړو د ژورو ورانو سمو

زرغون شوی په امید ژوندی په تمو

شو پیدا د کومې موره د کوم پلاره

څه دپاره، څه د پاره ، څه د پاره

موږ بربنډ له کومې راشو په تش لاس

ولې واغوندو د ننګ شرم لباس

ولې جوړ کړو دین ایمان ویره وسواس

په تش لاس کوم خواته ځو چې ژوند شي خلاص

په کوم ملک په کوم وطن په کومه لاره

دا ویرونه دا غوغا دا شور د څه دی؟

اوه، دا سوزي چې عالم دا اور د څه دی؟

زندګي څه ده، مرګ څه دی کور د څه دی؟

چا پسې؟ څه پسې؟ څه بې قراره؟

عزت څه دی؟، طاقت څومره؟ دولت څه دی؟

ولې ماته چې وي ښه بل ته ښه نه وي؟

څه وي څوک چې جهان نه وي عالم نه وي؟

کوم خوا تښتي مړه رڼا ګلونه سوي؟

یو وړوکی سر او دا قیصې بې‌شماره

څه دپاره؟ څه دپاره؟ څه دپاره؟

زموږ شاعر له هغو فیلوسوفیکو پوښتنو سره، چې د ده په ذهن کې ګرځي دوه ډوله چلند کوي:

لومړی: یوازې پوښتنې مطرح کوي، پوښتنې یې هم په خپل ځان کې د ځوابونو څه عناصر لري، ځینې یې عارفانه تجاهل ته ورته دي، ځینې یې د طنز مالګه لري، خو ډېرې یې جدي پوښتنې دي، چې شاعر یې په نه پوهېدو کې ریښتینی دی.

دویم: د سوال و ځواب په توګه. ډېر ځله شاعر د دوو داسې پرسوناژونو ترمنځ پوښتنې طرح کوي، چې هم یې پوښتنه او هم یې ځواب خپل دي. په داسې شاعرانه دیالوګونو کې ډېر زور پر پوښتنو دی او پوښتونکی لوری تل تر ځواب ویونکي هغه غوره او مهم دی. د پوښتنو ځوابونو دوه اړخیز ( او کله ګڼ اړخیز) پرسوناژونه یا «لیونی» وي یا «ملا» یا « فلسفي» یا (ان کوم ژوی». کله داسې پېښیږي، چې د شاعر (لیوني) پوښتنې بېځوابه پاتې شي:

د سپرلي شپه وه مسته مستانه

ستوري کېدل ډېر روښان روښانه

سپوږمۍ ولاړه وه ښکلې حیرانه

لیوني سوال وکه د خپل جانانه

رڼا مې پوهې له د لامکانه را

مستي مې سترګو له د خپله ځانه را

د خپله ځانه یاره خپله ځانه

ليوني سوال وکه د خپل جانانه

ناګاه برق شو درياب د نور راغی

څه په مستۍ راغی څه په سرور راغی

هستي شوه ګونګه مستي ګويانه

لېوني سوال وکه د خپل جانانه

او ليوني ورته زړګی که لرې

ډېر په خوارۍ په کې ځای شو يو بڅری

نور ډک د ځانه و ډک د جهانه

لېوني سوال وکه د خپل جانانه

درياب د نور لاړه ښېست او رڼا لاړه

او د جانان مستي جانان له بيا لاړه

لېونی پاتې شو څېرې ګريوانه

د سپرلي شپه وه مسته مستانه

کله کله دا سوالونه د مخاطبې په بڼه وي، مخاطب هم يا معشوقه وي يا خدای، يا کله کله دواړه. پوښتنې جدي او فيلوسوفيکې وي، خو ځوابونه هيڅلکه ژور او فيلوسوفيک نه دي، ان پر عقل لا تکيه نه کوي. جدي پوښتنو ته د غنيخان ځوابونه عارفانه دي. ځکه خو غنيخان د فيلوسوفيکې پوهې دعوا نه کوي او هيڅکله ځان فيلوسوف نه ګڼي. د ګڼو نورو عارف‌مشربه شاعرانو په شان غنيخان له عقل سره ښه اړيکي نه ساتي، نه غواړي ځوابونه يې عقلاني وي. غني عقل نابينا ګڼي:

نابينا عقل مې مست زړګي ته پرېښود

اوس تياره کې د غم شو رهبر زما

یا:

عقل له سرور کې سر له عقل کې کور نشته دی

دا خبرې ماته مې رو رو کړي ابې دي

موږ ورو ورو دې پایلې ته نږدې کیږو، چې ووایو: غني نه فیلوسوف دی او نه فیلوسوفیک شاعر، بلکې داسې یو شاعر دی، چې په هنري ژبه فیلوسوفیکې پوښتنې کوي، پرته له دې، چې پخپله ورته ځواب ووایي. غني‌خان غواړي خپل لوستونکي (موږ) ځواب موندلو او فکر کولو ته اړکړي.

دې پوښتنې ته د ځواب په لټه، چې: غني فیلوسوفیک شاعر و؟ که نه؟ داسې رڼې پایلې ته رسېدلای شو، چې غني‌خان د ګڼو نورو ختیزو شاعرانو او عارفانو په څېر د جدي فیلوسوفیکو پوښتنو ځواب د فیلوسوفیکو سیستمونو او مکتبونو په تیزسونو کې نه، بلکې د عرفان په دودیز سیرو سلوک کې لټولی دی. غني‌خان تر دې چې فیلوسوف شاعر وبولو، غوره به وي، چې داسې عرفان مشربه شاعر یې وبولو، چې فیلوسوفیکې پوښتنې یې شاعرانه کړې دي:

په نیلي د خیال اوچت شوم له جهانه
و د عقل فانوس لاس کې مې روښانه

له وریځو چې شوم تېر فانوس مې مړ شو
په تیارو مې نیلی لاړ تر نیم اسمانه

د فلک شهزادګی ناست و باغچه کې
ما له یې راکړ بل فانوس ښکلی روښانه

د سپوږمۍ په رڼا تلم مخمور عاشق شوم
خو تیارې راغلې شو پټ مشال زما نه

چې د ستورو د رڼا نه هم اوچت شوم
ماکړه قرض یوه شغله له خپل ایمانه

ما د دې په رڼا خپل غلیظ ځان ولید

په ژړا مې سر کړ پورته له ګریوانه

مسعود: نو اوس به راشو، د غني‌خان د شاعرانه شخصیت عرفاني اړخ ته، څکه تاسو وویل: غني عارف مشربه شاعر دی، چې فلسفي پوښتنو ته هم عرفاني ځوابونه پلټي. که تاسو د دې ترڅنګ چې د عرفان، تصوف د پېژندنې او له غربي فلسفې سره یې په اړیکو او توپیرونو بحث وکړئ، نو دا مسئله به نوره هم روښانه شي.

لېوال: عرفان له لغوي اړخه د عَرَفَ له مصدر څخه د پېژندلو په مانا دی. په اصطلاح کې هغه پېژند دی، چې له روحي تذکیې، الهام او له نفس سره د مبارزې او سیروسلوک له لارې ترلاسه کېږي.

عرفان (Mysticism) په عامه مانا؛ داسې ګروهیز (اعتقادي) چارچلند دی، چې موخه يې د شهود ( Intuition)، دروني تجربې یا «حال» له لارې حقیقت ته رسېدل او یا له حقیقت سره یوکېدل وي. بېلابېلو ګروهیزو مکتبونو دغه لار په سره ورته یا لږ و ډېر توپیر وهلې ده، د هیندوستان له برهمنانو رانیولې، تر اسلامي نړۍ و رواقیونو او ان د نړۍ د بېلابېلو بومي قبایلو تر ځانګړو عقیدو پورې. په عرفان کې حواس د دې وړ نه ګڼل کېږي، چې حقیقت ومومي، بلکې دا روح دی، چې ځان به حقیقت ته رسوي. په هغو ادیانو کې چې پر وحدانیت ولاړ دي، کامل حقیقت خدای دی. د دغو ادیانو عرفاني مکتبونه د هغه سیروسلوک پړاوونه راپېژني، چې انساني روح دغه کامل حقیقت (خدای) ته رسولای شي.

په جومات کې مې ونه مونده په مکه کې رانه ورک شو

خدای مې زړه کې را پیدا شو چې مې مخ دیار کړو ښکل

د عرفان او فیلوسوفي ترمنځ د بېلتانه او بېلتون په برید کې خورا نازکې پردې شته. ځینې پوهان د «مشاء» او «اشراق» مکتبونه د تصوف، عرفان او فیلوسوفي له ګډون څخه رازېږېدلي ګڼي.

تصوف د عرفان اسلامي بڼه ده، چې له دویمې هجري پېړۍ څخه رادېخوا په اسلامي فرهنګ کې دود شوې ده، څوک يې له صوف = سوف (سوړې یا سمڅو) سره تړلې بولي، چې صوفیان به په کې مراقبه کېناستل او څوک يې هم له هغو وړینو جامو سره چې صوفیانو به اغوستې. ځینې بیا دا ګڼي، چې صوفیان اهل صُفه دي، یعنې پر وچ هوار ډاګ مراقبه کېناستونکي.

په هر صورت زموږ لپاره د غني‌خان په اړه بحث کې عرفان مهم مفهوم دی.

د اتمې هجري پېړۍ دانشمند شرف الدین داوود بن محمود قیصری د پېژند (شناخت = Cognition) په اړه بحث کې عرفاني کشف مهم ګڼي:

«عرفاني کشف، تر پردو ورهاخوا د غیبي ماناوو او حقیقي چارو هغه پوهه ده، چې د وجود له مخې (حق‌الیقین) او د شهود له مخې (عین‌الیقین) وي.

هوش دې د علمونو نه جدا جدا روان شو

خدایرو لیونیه! جوړې سم لیونی کېږې

مرگ کې راښکاره راته ژوندون یو جاودان شو

زه ورپورې خاندم دنیا ته ورته ژړېږې

عرفان ټوله هستي یو کامل وجود گڼي، چې خپل توکي (اجزاء) او ذرات ځان ته ورکاږي، دا توکي او ذرات د ځان معرفت نه لري، مگر دا چې کامل وجود یې ورته الهام کړي.

عارفان وايي: هغه څه چې د کشف و شهود له لارې موږ ته حق تعالی راپېژني، بشپړ حقیقت او رد یې ناشونی دی.

اې د ازلـــونـــو ابـــدونـــو لـویـــه خـدایه

مـاتـه یـې د مـاشي او مـیـږي پـه ژبــه وایــه

دا دریاب دَ حـسن چې پـه واړه دنـیا خور دی

څه خو لـږ اوایــه چــې راځـــي د کومه ځایه

څـاڅکي د شبنـم کې حافظې دي د سیندونو

پربشـې دي او غـــیـــږه کې پرتې دي د گلونو

گرځم مـاښـامي کې د زهره هلال شغلې لټوم

زه د شـبنم څاڅکي لـه جلوې او سلسلې لټوم

کوم خوا ته کاروان د میني خود مسته روان دی

دا په چا مېین دی که خپل حسن یې جانان دی

داسې حقیقت د عقلي او نظري برهان په مرسته د پېژندلو نه دی، بلکې پېژندلو ته یې د (عشق) زور بویه:

سوز نه دی عشق،ساز نه دی عشق، اه او گریان نه دی عشق

مسته رنگیني دا نه‌ده، غم دجانان نه دی عشق

عشق یو وجد د  رب دی په وجدونو د انسان کې
یو د مینې ساز د زړه په سوي قبرستان کې

مرگ عشق ته حیران دی خو مرگي ته حیران نه دی عشق
سوز نه دی عشق ، ساز نه دی عشق، اه اوگریان نه دی عشق

یا:

حسن پلار د مینې او مور د عشق

پکې  پټ دي ټول سپین تور د عشق

معني د نور دا د عشق وجود

دا د مینې راز دا د سوز خوند

دا مستي دا ساز

په عرفان کې د وحدت دواړه مفاهیم (وحدةالوجود) او (وحدةالشهود) د غنيخان  په شعرونو کې موندلای شو:

حسن ښــکاریــدو لــه یــو وجود یو شکل غواړي

حسن چې ښکاره شي مینه یې ویني  ائینه شي

بــې وجــوده حــسن مــیــنه نــه شي جــوړولې

میـنـه هــله جــوړه شي چــې حسن راښکاره شي

حســن ســره مــیــنــه د روح ژونـــــد دی د آدم

حسن هـــلـــه ښــکاري چې رنــگونه شــراره شي

خو راځئ، لومړی دغه دوه مفاهیم وپېژنو:

وحدت = یوون له واحد  = یو څخه راځي. یو / واحد/ احد/ یگانه / یکتا/ Un او Unus  له ماوراءالطبیعي (میتافیزیکي) لیدلوري هماغه د لومړني پنځوونکي یا مصدر په مانا ده (سرچینه، ار، اصل، منشاء، بنسټ) يې هم گڼي. دا «یو» ټول عالَم په ځان کې رانغاړي. دا یو مانا هرڅه، مانا ټوله هستي.

هاتف اصفهاني ویلي وو:

که یکی هست و هیچ نیست جز او

وحده لااله الا هو

دا «یو» تر شمېر وتلی دی، مانا په شمېر کې نه راځي. فېثاگورسیانو/ فیثاغورس الساموسی Pythagoras  دا «یو» د ټولو شمېرو سرچینه هم گڼه.

په دې باور کې دغه «یو» د زمان او مکان له پولو/ محدودیتونو څخه ډېر ورپورته دی، هلته، چې نه زمان شته و نه مکان، بس «یو» شته او هرڅه همدا «یو» دی:

وخت خو تا جوړ کړی دی نو وخت به تا ته څه ووایي

وخت خو زما ځان دی چې د نشت کور له مې بیایي

یا:

دا مکان او لامکان

دواړه جوړ زما د ځان

دا جانان او بت او رب

زما تنده او ایمان

اپلاتون دغه «یو» د ټولو صورتونو تومنه گڼله او ځرگند گڼون (ظاهری کثرت) يې مجازي باله، چې په پایله کې دا ټول ځرگند گڼون په هماغه «یوه» کې ورټولیږي.

یو ټکي د نور کې دریاب رنگا رنگ

یو څاڅکي د ساز کې هم سوز او شرنګ

د ژوندون یوه لمحه کې سوونه عمرونه

یو چونګ کې  د خاورو مستي او غمونه

د یوون یا وحدت د پوهنې بنسټ په عرفان کې (د یو وجود حقیقت) دی. همدا چې مور، وجودي یوون یا توحید منو، نو ښايي دغه وجودي یوون له ټولو ذاتي صفاتو او کړنواله/ فعلي/ یوون سره هممهاله ومنو. ورو ورو دې ته نږدې کيږو، چې ووایو هرڅه همدغه یوون ته ورګرځېدونکي دي. ټول مانا یو، له ګڼون/ کثرت څخه یوون/وحدت ته! همدغه ته وایو وحدةالوجود. وحدةالوجودیان د هستۍ د توکیو تلپاتېوالی/ بقا په بشپړ وجود «یو» کې ورکېدل ګڼي. (په حق کې فناکېدل د بقا په مانا ده!).

وحدةالوجودي باور وايي: **(هرڅه «هغه» دی!)**

وحدةالوجودي سالک هغه پردې او پولې، چې د ده او کامل حقیقت یا «یو» ترمنځ شته څېرول او په حق کې فنا کېدل و ورکېدل غواړي:

څومره مینه مستي درکړم، ادب څومره؟

څومره تا دلدار جانان کړمه، رب څومره؟

نه زه ستا په حد د ځان په حساب پوه شوم

ستار پوهيږي په خپل هنګ او طرب څومره؟

تورانۍ په ساز، سرود تر کومې رسي؟

ګلاب پوه دی د ښایست په مطلب څومره؟

دا سپوږمۍ چې کل جهان حیران حیران کړي

دا پوهيږي د خپل نور په سبب څومره؟

رنګ رښا د خپل ځيګر پرې خورومه

دومره خښت وي چې زما وي طلب ځومره

دا چې سرې شونډې يي اور، سرور روښان کړي

معشوق پوهيږي د عاشق په مطلب ځومره؟

زما مينه د ادب د پنجرې ووځي

وايه ځومره دې جانان کړمه، رب ځومره؟

د وحدةالشهود پلويان بيا دا ګڼي، چې سالک د حق په پلټنه کې يو مهال داسې دريځ (مقام) ته رسيږي، چې د هر (غير) او (اغيار) وجود له منځه ځي او يوازې د «يو» / احديت له ذات ځخه پرته به هېڅه نه ښکاري (يا هو يا من ليس الا هو!).

| | |
|---|---|
| يو تصوير دی د جانان | چې نه کېږي بيان |
| د هر چا د سترګو پټ دی | خو ښکاريږي هر زمان |

خوشال خټک بابا فرماييلي وو:

په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم

چې له ډيرې پيدايبه نا پديد شو

او غني د داسې مخ ليدلو لپاره سترګې غواړي:

اول سترګې ستا د ليدو خو را

بيا کوه د ميينبدو تمه

يا:

څه وو چې هېڅ نه وو

نه سبا و نه ماښام و

نه  رب د چا رب و

نه  بنده د چا غلام و

بس یو بې پایانه عشق

ورک په خپل خمار کې

خوب د خپل وصال و

په ښکلو ښکلو دیار کې

دا دریځ ډېر لوړ دی، چې عارف په کې له ورایه حقیقت په سترګوویني.

یو توپیر دا پاتېږي، چې په وحدةالوجود کې سالک په خپله په بشپړ حقیقت کې فنا کېږي، بیا نو د ده وجود کومه مانا نه لري. دی پخپله ځان «نشت» ګڼي، ټیک همدا ځای دی، چې منصور چیغه کوي: «انا الحق!» ځکه نور نو دی نشته، چې له ځانه غیر څه ویني.  خو وحدةالشهودیان د لیدلو پر وحدت ټینګ دي او تر دې یوون بهر د لیدونکي (سالک) وجود هم مني.

وحدةالشهودیان پایلې ته رسیږي، چې: **(هرڅه د «هغه» دي!)**

کله مخ زه پـه قبـله کـړم کلـه کــړم مخ و جـانــان تــه

هېڅ په فرق یې پوه نه شوم ربه! خیر مې کړې ایمان ته

هـغـه ورځ چــه خلق پــیدا شو دخالـق په تجــلا شــو

زه وم پروت مخمور مشکوره په سجده مخ د جانـان ته

اوس زما په بـېکسی کـې د مســتی لمغړی ویـنــې

زه د زمکې قابل نــه وم ولې تـا بـوتــلم اسـمــان تـــه

د خــبرو يــې څــوک نــشــته ځان سره غي ګو نيږې

لــيو نی يې هـله بـولې چـه يې وګـورې جا نـــان تــه

مسعود: د «حسن» او «ښايست» ترڅنګ غنيخان ځينې نور مفاهيم، لکه «ژوند»، «مرګ»، «رڼا»، «ليونی» او داسې نور ډېر او په تکرار کارولي دي، له دغو مفاهيمو څخه څه تعبير او تفسير لرلای شو؟

لېوال: مهمه پوښتنه ده، ژوند د غنيخان لپاره مهم دی. د ګڼو عارفانو پرخلاف، غنيخان پر «ژوند» مېين دی او مهم يې ګڼي. سره له دې چې له مرګ څخه هم هېڅ وېره نه لري او ان هغه د يوه نوي ابديت په لوري د ورلوړېدو لومړی منزل ګڼي.

غنيخان د ژوند په پېژندنې او تعريف پسې ګرځي، په زړه پورې خو يې لا دا ده، چې پخپله يې ښه رنګين او ښکلي پېژندونه هم وړاندې کوي:

ژوند خو تله دي يو په مخه        غورځېدل او پاڅېدل دي

ټکی سوز او ټکی ساز دی        څه خندل دي، څه ژړل دي

ژوند په سترګو د عاشق کې        پلوشه ده د خمار

په صحرا کې لټول دي        د اشنا د کوځې لار

يا:

ژوندون څه دی؟ يو باغ دی لوېيږي        ورکېدل دي د ښايست زياتېدو له

خپل ژوندون له خپل سينګار ورکول دي        سوزېدل دي ژوندون خورېدو له

ژوندون څه دی؟ یو خوب دی لیدی شي　　د خندا او ژړا واک د بل دی

ژوندون څه دی؟ یو ساز دی غږیږي　　کله پوست، کله زیر، کله بم

کله اور سوزېده شور غوغا شي　　کله غلی، قلار، شومه دم

کله شرنګ د ګونګرو شي خمار شي　　کله یخ اسویلی او ماتم

کله تال مستانه د خیام شي　　کله سپور ماښامونه د غم

که وي تریخ، که وي خوږ تېرېدی شي　　ژوندون څه دی؟ یو خوب دی لیدی شي

خو همدهاله «مرګ» هم د بشپړې نیستۍ په مانا نه بولي او ترې وېره بېځایه ګڼي. غنيخان نه د ژوند په ناستالژیک حسرت کې تم کيږي او نه هم د مرګ له موهومې ویرې څخه پېښه نیسي، ښایست، عشق او مستي یې ملګري دي او پر مخ ځي:

چغې وهي اجل ملا ته اورې که نه اورې

تشه خاوره نه ده غنی څنګه به شې خاورې

غنيخان د ژوند په یوه عجیبه استمرار باوري دی. یوه اساسي پوښتنه یې هم دا ده، چې که کیسه روسته نه اوږدیږي، نو د دې لنډې مودې ژوند پای خو انجام د هستۍ نه شي کېدلای.

نه منم نه منم یاره مرګ انجام د هستۍ نه دی

خلاصیدل شراب په جام کې  اختتام د مستۍ نه دی

چې ماښام د کومې شپې وي نو د هغې سبا هم وي

چې رڼا وي تیاره وي، چې تیاره وي رڼا هم وي

که یو نه وي نو بل هم نه وي، او چې وي نو وي به دواړه

دې دریاب له چېرته شته دی لرې بله یوه غاړه

زر سحره د بهار دي يو مابنام کې  د خزان

شل خمونه ډک د عطرو يو دانه کې  د ريحان

چې يوه غوټۍ شي خاورې تخم وکړي ټول گلزار له

د خپل رنگ او بوټي پنډو نه شکرانه يوسي بهار له

بل ځای وايي:

مرگ لويه نيکي ده چې تا وکړه د انسان سره

مرگ ستا کور له يوړو گنې و به تل د ځان سره

مرگ هغه نېټه ده، چې جانان کېښوه جانان سره

مرگ پېته نکاح ده د مکان د لا مکان سره

د شاعر تمه هماغه د وحدةالوجودي عرفاني منطق پربنسټ دا ده، چې انسان له خپل اصل سره يوځای‌کېدونی دی او اصل ته د ورگرځيدو د اوږده سفر لومړی منزل و دروازه «مرگ» نوميږي.

او بالاخره:

مرگ کې رابنکاره راته ژوندون يو جاودان شو

زه وربورې خاندم دنيا ته ورته ژړيږې

او:

مرگ چې د خپل ژوندون تلاش کې ووت

ژوندون يې راوړ او ساه يې راوړه

د مرگ و ژوند په اړه د غني‌خان یو تمثیل ماته له دې اړخه ډېر په زړه پورې ده، چې د استاد مجروح د شهکار اثر په شان دا دواړه د یو دریاب د ساحلونو په شان گوري:

مرگ کې د ژوندون د دریاب پټه کناره ده

مرگ مجبوره ځان له د خپل حسن ننداره ده

په ځانځاني ښامار کې هم د «حسن» شاه لیلا د ورک سمندر پرغاړه د ژوند و مرگ د مساپر په تمه ده:

تا به وې چې:

له کوم وخته چې عالم راپیدا شوی

دغه پېغله نازنینه هلته ناسته

د خپل ورک مساپر لاره یې څارله

د خپل ژوند او د هستۍ له ژور تل نه

تمه تمه منتظره وه دیدار ته د دې هسې سرگردانه مساپر خپل

لاروي ناڅاپه ولید

چې د ورک سمندر غاړې

د هغو آبي چشمانو په دریاب کې

نږدې هلته رابښکاره شوې...

«رڼا» د غني‌خان لپاره یوازې د هغې روښنایي په مانا نه ده، چې موږ یې د ژوند د ښېگنو لپاره سېمبولوو او په شعر کې یې کاروو. په عادي خبرو کې وایو: ورځه په مخه دې رڼا!

«نور» او «رڼا» د غني‌خان په شعرکې په بشپړ اشراقي مفهوم کې کارېدلې ده. انسان هلته په خپله هستي «پوه» شو، چې هرڅه یې د «رڼا» په مرسته وپېژندل، ښایي یو مهال یې پام شو، چې پخپله هستي رڼا ده او تیاره د «هېڅ» یا بشپړې نیستۍ په مانا ده:

تیاره شوه لنگه رڼا یې راوړه

ادم چې مست شو، حوا یې راوړه

ترهستي مخکې بشپړه تیاره وه، لومړنۍ رڼا لومړنۍ هستي وه. له بشپړ «هېڅ» څخه هستېدل[ تیاره شوه لنگه رڼا یې راوړه] په زړه پورې تمثیل.

په عرفان کې «اشراق» د دروني رڼا خورېدو ته وایي. د روح رڼا. شیخِ اشراق شهاب الدین سهروردی د خپل نامتو کتاب حکمةالاشراق په سریزه کې لیکي: « اقل درجات قاری هذا الکتاب أن یکون قد ورد علیه البارق الهی و صار و روده ملکة و غیره لاینتفع به اصلاً»

ژباړه: هیڅوک د دې کتاب ریښتینی لوستونکی نه دی او گټه نه شي ځنې اخیستلای، مگر هغه چې د الهی رڼا وړانگې یې پر زړه ورخورې شوې وي.

دا چې څومره اخلي نور دا زما خاکي وجود

د مشائی پوهنې پرعکس اشراقیون په باطني پوهه « رڼا» ډېره تکیه کوي. هغه پوهه چې کسبي وي، له منځه ځي، خو باطني رڼا تلپاتې ده.

شیخِ اشراق سهروردی د قرآن کریم د الرعد سورة د ۱۲ اية :

**هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا**

په استناد لیکي:

« اول بریدی که از حضرت ربوبیت رسد بر ارواح طلاب، طوالع و لوایح باشد، و آن انواری است که از عالم قدس بر روان سالک اشراق کند، و لذیذ باشد، و هجوم آن چنان ماند که برق ناگاه درآید و زود برود. خوفاً من الزوال و طمعاً فی الثبات»

که څه هم چې شیخ سهروردي دا وینا د مشائیحکیم بلخي ابن سینا پر هغه مقوله ولاړه ده، چې په (الاشارات و التنبیهات) کې یې کړې ده.

په هرصورت، په پښتنو نومهاليو شاعرانو کې تر هر بل چا غنيخان په خپلو شعرونو کې له همدغه اشراقي منطق څخه رڼا اخيستې ده:

ما وې اې د هوش او عقل د رڼا بله مشاله

يو بې خوده ليونی دی، هر يو ساز يې د ماتم

ستا د پوهې د درياب نه يو قطره د رڼا غواړي

څه سوب د خندا غواړي، څه مطلب غواړي د غم

فلسفي کړې سترګې پورته، خوله مسکې سترګې روښانه

خړې خړې د غم لړې په کې راغلې ناګهانه

وې اې: زما غمګينه زويه! ښايست وجود لري نه سيوری

د ده نور به هله وينې، چې په پټو سترګو ګورې

علم سپين روښان مشال دی، خو پرې نه شي ليدی ستوری

د نور سترګې دې په زړه که، د نورونو دنيا ګورې

زموږ د شاعر په ګڼو شعرونو کې «رڼا» او «نور» ان په استعاري توګه ستوری، سپوږمۍ او شمع هم د هغه دروني رڼا له اشراق سره تړلي دي، چې سرچينه يې نورالانوار او «نورعلی نور» دی:

**اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ۖ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ ۖ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ ۗ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ)**

نور: ۳۵

ژباړه: خدای د اسمانونو او ځمکې نور دی. د هغه د نور مثال هغه ډيوټ (څراغدان) دی، چې په هغه کې څراغ وي، په ښيښه کې څراغ. هغه ښيښه ګواکې يو ځلانده ستوری دی، چې د زيتون له داسې مبارکې ونې ځليږي، چې نه ختيزه ده

او نه لویدیزه. نړدې ده، چې غوږ یې رڼا وکړي، په داسې حال کې، چې هېڅ اور نه دی وررسېدلی، رڼا پر رڼا. خدای له خپل نور څخه هرچا ته، چې وغواړي، لارښوونه (هدایت) ورکوي. او دا ټول مثالونه دي، چې خدای یې د خلکو [دپوهولو] لپاره یادوي. او خدای پر هرڅه پوه دی.

اوس نو راځئ، وګورو، چې د غني‌خان په شعر کې «لیونی» څوک دی. لیونی زموږ له نظره هغه څوک دی، چې زموږ (هوښیارو!!!) په شان نه دی. دا جدي پوښتنه ده، چې موږ په کوم حق او کوم استدلال ځانونه هوښیار ګڼو؟ چې بیا زموږ په نسبت «هغه» چې زموږ په شان نه وي، لیونی باله شي؟ څوک خبر که موږ ټول (اکثریت) لیوني یو او هغه هوښیار وي، چې موږ ته لیونی ښکاري؟ په دري ژبه کې یو عامیانه ګړنه ده، چې وایي: « دِه به دیوانه می‌خندد، دیوانه به دِه»

هو شته، داسې ډېر لیوني، چې زموږ په هوښیاري پورې خاندي. د غني‌خان لیونی همداسې یو څوک دی. د غني‌خان لیونی هماغه «فلسفي» دی، او په لوی سره کې پخپله غني‌خان دی:

زه لیونی یم، لیونی یم ریښتیا

د مرګ په سترګو کې ژوندون ګورم

زه لیونی یم لیونی یم ریښتیا

په میخانه کې افلاطون ګورم

یا:

لیونی زما په شان شه　　　چې په راز د خودۍ پوی شې

سر او زړه دې د ماشوم کړه　　　لیونیه چې سړی شې

زموږ هوښیارو په منطق کې له عادي کړای شوي (یا عادت کړای شوي) ټولنیز قرارداد څخه بدل هر انسان لیونی ښکاري، د همدې لپاره هغوی چې زموږ د مصلحتي او قرارداد شویو دروغو پر خلاف څه وایي، لیونی یې بولو، ان که هغه ریښتیا خبره هم کړې وي. هغوی چې د تکفیر له تورې سره مخامخ وي، د دې لپاره چې ځان وژغوري، وایي لیونی دی. ځکه ماشومان او لیوني له شرعې معاف دي. غني‌خان هرکله چې له دود ټولنیز قراردادونو څخه بغاوت و سرغړونه

کوي، «لیونی» کیږي. هغه خپلې ټولې ستوغې خبرې د لیوني له خولې کوي. هغه ترخې ریښتیاوې د لیوني له ژبې بیانوي:

په پښتني معاشره کې داسې ستوغه یوازې «لیونی» ویلی شي:

راشه راشه ساقي راشه    درې درې ملا درې
په ما باندې بدې لګي    ستا پخې پخې خبرې
غټه پګه دې شه خاورې    عجیبه ته ځناور یې …
… ماشوم نه یم چې جنت پرېږدم    ستا د سور دوزخ د یرې…
د جومات په چارچوپې کې    یادوه پردی تورسرې
ډک ګلزار کې ته ولاړ    په ډېران لکه د خر یې
راشه راشه لیوني له    جام اوچت که مسلمان شه
د رندانو په مذهب شه    جنتي په دې جهان شه

یا:

سپین ګمبت کې د جومات    دي پراته لات او منات
دا په شکل ادم ذات    په هډ وینه اژدها
د ده دا شیرین ګفتار    کفر کفر او انکار
پروت یې زړه ته دی زنار    د ده هوش توره لمبه
دغه علم د جهان    ورته ښوولی دی شیطان
د ده دا رنګین بیان    اړولې بسم الله
دغه ښکلی سپین صورت    مقبره ده د نفرت

دغه پند او نصيحت دی د زهرو پټاسه

د دلال دی د تيارو د سکروټو د سکارو

دغه سپينو منارو کې ده بلا توره بلا

هم آفت دی هم وبا

غني خدای دې تې ساته

يا داسې اعتراف:

زوړ شومه زوړ شومه مسلمان نه شومه

ارماني ډېر شومه خو پښيمان نه شومه

د ليوني بله ځانګړنه د هغو «ارزښتونو» په وړاندې بې‌پروايي ده، چې زموږ ژوند يې بيخي راسخت کړی دی. بېدل ويلي وو: « ترک آرزو کردم، رنج هستي آسان شد»

د غني‌خان ليوني هم ځان ته ژوند بيخي اسانه کړی دی، ځکه:

ليونی د خټو لوټو په ډېرۍ کې

اکثر تويې کړي ملغلرې عجيبه

د غني‌خان ليونی يو بل کمال هم لري، هغه څه ويني، چې موږ هوښياران يې ليدلای نه شو، حقيقت ويني. هغه حقيقت، چې موږ نه ورک دی:

مخ يې و قبلې ته، ليونی ترې خبر نه و

سترګې يې وې وازې د انسان په تماشا

عکس د سپوږمۍ يې د شبنم څاڅکي کې وليده

ځکه په سجده شو د جانان په تماشا

څه پرتمين دی، د غنيخان «ليونی» ځومره برميال او هسک دی، دغه پخپله په غنيخان کې نغښتی بل غنيخان.

مسعود: د غني خان په شعرونو کې له خوبونو سره ډېر مخامخيږو، د نوې ارواپوهنې له نظره خوبونه مهم دي، ستاسې پر اند غني خان د خپلو خوبونو له شاعرانه کولو څخه څه موخه لري.

لېوال: کارل گوستاو يونگ ويل: غريزي کړنې او هڅې د انسان په ناخبري شعور کې نغښتې دي، ځانخبري هم له ځانناخبری رازيږي. خوبليدل (خوبونه) د انسان د ځانناخبري شعور له زېرمو راپنځيږي. د يونگ په باور، هغه انسان چې لوی مسئوليتونه لري، خوبونه يې ټوليز او ټولنيز وي. هغه انسانان، چې يوازې د ځان په اړه فکر کوي، وگړني/ فردي خوبونه گوري. د يونگ په نظر په خوبونو کې ټول ليدل کېدونکي توکي سېمبولونه دي او دا سېمبولونه د انسان لپاره مهم دي. کله کله د انسان شخصيت، غوښتنې او تمايلات له همدغو سېمبولونو پېژندلی شو:

خوب وينم عالمه که يې څوک راکړي معنا

پروت يم سر مې ايښې د خپل يار په زنگانه

خوب وينم چې پورته په هوا لکه د باز شومه

کيناستم په بام د محمود سترگې د اياز شومه

پورته د خاموش زړگي نه خوږ د مينې ساز شومه

خرڅه مې په حورو کړه د ډمو زمانه

خوب وينم چې ناست يم د جيندي په يخه غاړه

شا مې اسويلو کې لکه سره شمع ولاړه

سرې شونډې مسکی شوې راته يې وې چې ژاړه ژاړه

څکه دې د زړه وينې دا شراب دي مستانه

خوب وينم عالمه که يې څوک راکړي معنا

خوب وينم چې باغ دی د گلونو او ماښام دی

سرې سترگې ساقي د ساقي سرو گوتو کې جام دی

لاس په ستار پروت ليونی مست لکه خيام دی

اړي پرې نرۍ نرۍ د مينې افسانه

خوب وينم عالمه که يې ځوک راکړي معنا

خوب وينم چې سپينه سپوږمۍ پاس په خندا راغله

ما له محبوبه په شرم شرم خندا راغله

شونډو کې شراب او په کوکۍ کې قضا راغله

سُر خمار يې راکه پيمانه په پيمانه

خوب وينم عالمه که يې ځوک راکړي معنا

خوب وينم چې پټ شوم په نسيم کې بهر لاړمه

خوا له د جانان لکه د مينې نظر لاړمه

سترگو د دلدار له لکه خوب د صحرا لاړمه

يو شرنگ کې مې لوټ کړه د عمرونو خزانه

خوب وينم عالمه که يې ځوک راکړي معنا

خوب وينم چې زه لکه لولکه په سيل اووتم

پورته د نرگس نه شوم په خوا د رامبېل اووتم

تاو د سپينې غاړې د ليلا په امبل اووتم

پټ مې ورته ووې سلامونه جانانه

خوب وينم عالمه که يې ځوک راکړي معنا

خوب وینم چې پورته لکه چغه د منصور شومه

یا یو موتی خاوره وم یا لوی دریاب د نور شومه

خو بانګ د سحر اوشو زه راویښ شوم په رکوع شومه

خوب یوړه خوبونه را ژوندی شوه زمانه

وې پریوزه لیونیه تیراوه دې جېلخانه

په دغه شعر کې غني خان ګڼ سېمبولونه کارولي دي، چې په زړه پورې استعاري ماناوې لري او د شاعر د ټولیزې ځان ناخبری څخه عالمونه کیسې راته کوي.

د شعر الهامي دونیا او خوب لیدلو ترمنځ ډېر څه ګډ او مشترک دي، ښه شعر داسې دی، لکه رنګین خوب. په خوب او شاعری دواړو کې زمان و مکان خپل منطق له لاسه ورکوي. شاعر خپل لسم نیکه سره په اوسنی زمانه کې خبرې کوي. جرمني ګویته د زاړه یونان افسانوي ملکه (هېلن) راژوندی کوي او د خپل اتل فاوست په وړاندې یې د هغه د معشوقې په توګه لوبوي. شېرازي حافظ له سکندر او دارا سره خبرې کوي او د یار هیندي تور خال ته سمرقند و بخارا وربښي. کټ مټ په خوب کې هم تاسو یو سپین ږیری لیدلای شئ، چې څوک یې ستاسو د نیکه نیکه ګڼي، داسې یو څوک چې تاسو یې په ویښه هیڅکله فکر کړی نه دی.  هم په خوب کې او هم په شعر کې ورځنی منطق ماتیږي او د شرابو په پیاله کې د معشوقې د شونډو اور سرې لمبې وهلای شي. په خوب کې هم کله کله تاسو له لوړ ځای څخه راغورځیږي او یا د میږي په سترګه کې خپله څېره لیدلای شئ.

څوک لیونی شي

څوک لیونتوب شي

څوک شي په خوب ویده

څوک رنګین خوب شي

یو څو ساعته د رنګ

د خندا تیر شي

اخر تیاره راشي

او واړه هیرشي

پخوا به شاعرانو ځکه د خوب نړۍ ته پناه وړله، چې په ورځني منطق او عقلاني تسلسل به یې خپل لوستونکی قانع کولای نه شو.په خپل روح کې یې  الهامي و اشراقي پېښې په خوبونو کې تمثیلولې.

د نوې ارواپوهنې تر تحلیلونو راروسته، په شعرونو کې د خوبونو تمثیل جدي شو. هغه شاعرانه سېمبولونه او د پېښو د تمثیل مکان او زمان، چې د شاعر له ځانناخبره ذهن څخه راتلل، پخپله په هنري توکیو بدل شول، د شاعر خوب تر ټولو ښکلی خوب وي. غنيخان په ارادي توګه کله چې غواړي، د خپلې محبوبا ښکلا تمثیل کړي د شاعر د خوب غوندې یې ښکلې ګڼي:

یو خوب د شاعر په جامه انساني

یو ساز دور- دراز ښکلی خوږ اسماني

غنيخان د شکاکیونو په شان دا هم نه هېروي، چې که همدا دونیا او همدا ژوند په خپله یو «خوب» وي او روسته، چې کله روح راویښ شي، نو ګوري به چې حقیقت یو بل څه دی؟ دا نو څوک زباتولای شي، چې دا ژوند دې پخپله یو خوب نه وي؟

د ژندون دې رنګین خوب له

یو خښته شانې تصویر را

چې ستا حُسن پرې بندي کړم

داسې لاس داسې زنځیر را

که دا اوښکې ستا شراب وي

که دا چغې ستا رباب وي

که زما ژړا د عُمر

یو لمحه ستا د شباب وي

که زما همه مستي دا

یو حباب ستا د سرور وي

زهٔ خوشحاله یم په هر څه

چې کوې زما په ځان تهٔ

عجیبه زما جانان یې

عجیبه زما ارمان تهٔ

هله زهٔ د ځان مالک شم

چې خپل ځان درکړمه تاله

هله مست خوبونه راشي

چې ګوټ وکړم ستا د خیاله

اے د کُل جهان مالکه

جواب را ستا د جماله

هغه څه چې ځوان شاعران یې له خوبونو سره د غنيخان په شان د یوه ستر شاعر له هنري اړیکو څخه زده کوي دا دي، چې د غنيخان لپاره له حقیقي نړۍ څخه خوبونو ته ورتلل له حقایقو څخه تېښته نه ده، بلکې پرعکس د حقایقو او رېښتیاوو د بیان لپاره له خوبونو او په خوبونو کې له لیدل کېدونکیو سېمبولونو، رواني موقعیتونو او د زمان و مکان، ورځني منطق او عقلاني تسلسل څخه ورپورته د لرغونې زمانې خاطرات بیا راژوندي کول او د هغو په مرسته خپل فکري تیسیسونه تمثیلول دي. غني خان په دې ډېر ښه پوهیږي، چې خوبونه چېرته او څرنګه استخدام کړي او په مرسته یې خپل شاعرانه انځورونه په مخاطبانو ووینې.

مسعود: ستاسې پر اند پارادوکسي چلند یا (د متناقض نمايي) شاعرانه شېوه و شگرد د غني‌خان د شاعرۍ په هنري ځانگړنه کې څومره ونډه لري؟

لېوال: بېيال- بېياليز (پارادوکسيک = متناقض نما) بيان د غني‌خان د شاعرانه سبک يوه ځانگړنه ده. تر دې وړاندې، چې د غني‌خان په شعرونو کې پارادوکس وڅېړو اول يې بايد وپېژنو:

په ادبياتو کې د تضاد تر ټولو مهم ډول پارادوکس يا هماغه بېيال / متناقض نما دی. پارادوکس Paradox له دوو برخو جوړ ويی دی: پارا Para مانا لري، هاغه بل پلو، له بل لوري Dox د Dokein له ريښې څخه د اند په مانا ، چې ترنگواله مانا يې کيږي، له عقل و اند څخه لرې يا هاپلو. د تمې پرعکس، پرخلاف.

مچ د زمري سترگې شکوي ماشی د اوښ وينه

خدايه! ستا دا عجيبه دنيا توره ده که سپينه

مړ لسو گېدړو ببر شبر په بونډۍ چرگه کړ

سپور شغال په پړانگ دی د غرڅو و ښکار له ځينه

او يا:

جومات ته لاړ په ميخانه گوره   په زيان کې سود دی شان جانانه گوره

نېټه ده لنډه کاروانه ډېر دي   پوره بې نه کړې ځان له بانه گوره

بلځای:

خاورو کې هغه ده، چې يې زه د زړه هلال ومه

هغه لال شو خاورې، چې يې زه وړوکی لال ومه

يا:

موتيې خاورې څنگه پټ د حسن يو جهان کړي

يو پوکی د باد دا چمن څنگه بيابان کړي

او:

مرګ او زندګی یوه ده، غم او خوشالي یوه ده

ژوند چې چرته نه وي مرګی چا هلته لیدلی دی

په ادبیاتو کې پارادوکس هغه تضاد ته وایو، چې د عجیبې و متناقضې مانا د رامنځته کېدو لامل شي. دا په تېره په عرفاني ادبیاتو کې د سره بېلیالو ماناوو د ترکیب په زړه پورې شاعرانه ګډون جوړوي.

ولې دې ورانولو له جوړ کړی سور محل دی

اور کې دې بل کړی ولې حسن الوول دی

د بدیع په علم کې، چې موږ د «تضاد» یا مطابقه، طباق، تطبیق او تکافو په نامه کوم صنعتونه وینو، له هغه سره د پارادوکس توپیرونه شته. تضاد تر ډېره بریده لفظي وي، خو پارادوکس د فکري و محتوایي تناقض لپاره کارېږي:

پریوځې په پړاو کړې بتخانه کې ډیوه بله

خپې سپینې پولۍ طمغې تاقتې د منزله

تا ته اور سرور دی یو ما ولې وژنې اور کې

اې د سپین او تور مالکه څه مزه ده تور کې

په پورتنیو دوو بیتونو کې (سپین او تور) سره متضاد مفاهیم دي، یوځای د تضاد یا طباق په بڼه راغلي ( خپې سپینې پولۍ) او (څه مزه ده تور کې) دلته سپینې او تور سره لفظي تضاد لري، چې طباق جوړوي. خو کله چې شاعر د (سپین او تور) مالک یو ګڼي او یوځل اور د سرور و خوښۍ او بل ځای اور د سیزلو او وژلو وسیله بولي، دلته له یوه پارادوکس یا متناقض‌نما ټکر سره مخامخ یو.

غني‌خان د «ژوند» و «مرګ» ، «تیاره» و «رڼا»، «غم» او «ښادي» او داسې نور متناقض نما مفاهیم بیخي زیات په پارادوکسیکو شاعرانه موقعیتونو کې کارولي، چې له خپلې ادبي زمانې سره سم په تحلیل او کره کتنه کې یې د سبک له محتوایي ځانګړنو څخه شمارل کېدلای شي.

مسعود: ګران لیوال صاحب تاسو د غني‌خان د طنزي شعرونو په تړاو څه لید لرئ، مهرباني وکړئ د ده د طنزي شعرونو څو بیلګې را ته په ګوته کړئ؟

لېوال: له زماني پلوه د نومهالي (معاصرې) پښتو شاعرۍ په تاریخ کې غني‌خان له لومړنیو لویو شاعرانو څخه دی، چې منظوم طنزونه یا د طنز په ذایقه مالګین شعرونه یې لیکلي دي.

منظوم طنز په رمز و کنایه هغه ټولنیزه کره کتنه ده، چې هنري او ښکلاییزې ځانګړنې یې ساتلي وي.

د غنی‌خان په کلیاتو کې له دې اړخه د غني‌خان شعرونه په درېیو ډولونو ویشلای شو: ۱ـ هغه شعرونه چې بشپړ طنزي دي، ۲ـ هغه شعرونه چې جدي فضا لري، خو څه برخې په کې طنزي شوي دي، ۳- هغه شعرونه چې په خپل بافت کې نغښتی پټ شاعرانه طنز لري او داسې ښکاري، لکه په تراژیدي کې د کومېډۍ نښې.

د بېلګې په توګه (د مال وزیر ته خط) یو بشپړ طنزي شعر دی:

لویه اوړده ږیره وروره! اوږد آمدن لري

صیب ولګاه وه د هر وکیل په خوله میټر

دا هم یو مشین دی تیز رفتار لکه موټر

صیب ټیکس به اخلې د بکواس او د ټرټر

زیات به په هغو وي چې ډګري څوک د لندن لري

لویه اوږده ږیره وروره! اوږد آمدن لري

صیبه! مالیه کېږده د چایو په چاینک

لوی به آمدن یې وي د ټیکس نه د ښانک

دا تپوس دې نه وي چې خانصیب دی که ملک

اخله تربنه ټیکس ارزو د صیب لوګ د دیدن لري

لویه اوږده ږیره وروره اوږد آمدن لري

کېږده يو ټيکس صيبه! په لويو لويو ړيرو

ورنه کړې معافي که څوک د سوات و يا د ديرو

ټول عالم به وايي يره ډېرهوښيار وزير و

خيال د خزانې ډېر دی د دې غريب وطن لري

لويه اوږده ړيره وروره! اوږد آمدن لري

ما يې تحصيلدار کړه صيبه واوره سفارش

ستا به ډېر ثواب کيږي زما به لږ ورزش

ډک به له روپو کړم د سرکار خمونه تش

صيبه! تحصيلدار هرځای پولاو، پالنګ، بړستن لري

لويه اوږده ړيره وروره! اوږد آمدن لري

دغه منظوم طنز د شاعر د ژوند پر مهال د ټولنيز، سياسي، اداري او دولتي چاپېريال يوه ترخه کره کتنه ده، چې د طنز په ژبه بيان شوې ده. ټول نظم طنزي دی، کنايې او اشارې، سېمبولونه يې ټول طنزي دي. شاعرانه سينګار او ښکلا يې کمه او پيغام يې پياوړی دی. ژبه يې طنزي ده او له وزن و اهنګ څخه يې د پيغام لپاره ابزاري ګټنه کړې ده، دا ډول نظمونه په فورماليستيکو هغو کې نه، بلکې په ديداکتيکو يا تعليمي نظمونو کې راځي.

«مږه»، «چينډخ» او ځيني نور هغه طنزي نظمونه چې غنيخان په کې دغه او نور ژوي په کوميډي لحن هرو مرو د خپل مهال د ځينو سياسي – ټولنيزو او ان روحاني و ديني کرکټرونو لپاره د سېمبوليک او تمثيلي پرسوناژونو په توګه کارولي د دې لپاره شاعرانه او هنري طنزونه ګڼل کېدلای شي، چې سېمبوليک او تمثيلي ارزښت لري:

اوسې په کندو کې ياره غل يې پلار دې غل و

مور دې غلچکۍ وه، ستا نيکه د بدو مل و

قوم دې حرامخور دی قبيله دې حرام خوره ده

مړ شوې په غوړو پسې لکۍ توره دې سپوره ده...                                          ترپایه

د غنيخان بل شعر «ژوند» جدي پیلیږي:

چې خمار مستي ترې ووځي          شراب ښې ترخې اوبه وي

چې سرور غرور يې نه وي          دا ژوندون ژوندون د څه وي

چې د مينې زړه شي پاتې          لکه ګل وي رژیدلې

يا شغله يوه د نور وه          يا يو موتۍ د خزلې

شاعر همداسې شاعرانه او جدي روان وي، خو ناڅاپه د طنز په کرونده ورګډ شي:

ژوند که تش فيرني څټل وي          دا خو سپی هم شي څټلی

که تش نسل زیاتول وي          دا غوايي هم شي کولای

په داسې شعرونو کې طنز د استدلالي تلقين لپاره کارول کيږي. داسې ادبي شيوه په کلاسيکو او نومهاليو شاعرانو کې ډېره مونډلای شو.

دربیم ډول هغه ښکلې شعرونه دي، چې ځای ځای د طنز مالګه لري:

دی درد لړلی ژوند کې بې خودۍ کې دی ارام

د ظلم په دې اور کې يو ساقي دی مهربانه

دا مست بېخوده سر نشه ځواني او دلارام

راواخله په شکرونو يې قبول کړه غني خانه

جنت کې شرابونه، سپين غلمان حورې مستانه

سقراط وکړو آواز وې د دې ټولو دی سرسام

هيچرته رڼا نشته، بې د عقل د جهانه

په پوهه او په فکر کې دی حسن هم آرام

دا نور دی د رب نور د آدم خاوره کې روښانه

دا خره دي نه پوهيږي وايي وهم ته الهام

د غنيخان په ځينو طنزونو کې شاعرانه صميميت له ورايه ځلېږي. د هغه داسې ظريف طنزونه بېساري ګڼلای شو: وګورئ دا بېلګه :

ما به شمع شمع کوله

تا که جوړ رانه پتنګ

تلمه ښکار له د کبوړو

تا ورپېښ کړم په نهنګ

ما د قصده وې ملنګ يم

تا رېښتيا کړمه ملنګ

ما پېښې کړې د تورزنو

تا مې کور له راوړو جنګ

زه خو غږ کولی نه شم

په ګيلو ته خفه کيږې

خو

حقه دا ده لويه خدايه!

ته په ټوقو نه پوهېږې.

داسې ټوکه له صميميته ډک ايمان څرګندوي، چې د ملا تکفير يې زيانمنولای نه شي.

د غنيخان طنزي نظمونه د هغه د زړورتیا او بې‌پروایي ننبه هم ده.

منمه د جناح کاکا چې پوخ ښانک له راغی

د ډبه، د کوتکه د ګولو نه خبر نه شو

یا:

ډېر نر زما لالا و خو چینی رانه خراب کړ    ملا پیتي ته ټینګ و، خو فیرنی رانه خراب کړ

صاحب هټلر کړ فتح خو یې خېټه فتح نه کړه    دی ترشې مسالې هیندوستانی رانه خراب کړ

او خان لالا مې ورک و په اسلام او په ملت    مرید ښه د جناح و، خو جینی رانه خراب کړ

ګوره لیوني ته به ډېر پخنې او لوی قاضي و    قصې د آدم خان او درخانی رانه خراب کړ

بل ځای:

عقل ترېنه ړېره وخوړ    خېټې ترې ایمان وخوړ

ګوره په وربشو کې    خره لال د بدخشان وخوړ

ګوړه یې نه خرخیږي    خوار لاله د غمه ځان وخوړ

قبض شو د صیب    ډېر یې هندوستان وخوړ

ځار شم د لیډر د کولو    خېټه یې د ښکلولو ده

چا مهار چا اوښ وخوړ    او ده واړه کاروان وخوړ

کوڼ ملا شهید دی    په مزار یې ډیوه بله کړه

مړي وو کم شوي خوار    د لوږې نه قرآن وخوړ

ترپایه

خو په ځينو طنزي نظمونو کې د شاعر موخه يوازې د لوستونکي خندول وي، په داسې شعرونو کې د طنز خواږه تر سياسي – ټولنيز پيغام ډېر څرګند وي:

شوق کې د وصال چې د مېس خولې ته ورنږدې شومه

خوله کې يې سګرټ و زما خوله وسوځېدله

تلی دی لندن ته مجنون اوس ډرايوري زده کئ

اوښه ليلی خرڅه کړه موټر کې ګرځېدله

ترپايه

مسعود: غنيخان په خپلو شعرونو کې په تېره بيا د (جنت) په شعر کې د فلسفي تفکر په رڼا کې (ملا) د يوکاذب او دروغجن او ډارونکي مفسر په توګه او د ملا ريا او تظاهر په باب او د ناپوهه واعظانو په اړوند ډير څه ويلي دي او د دين په ټيکه دارانو او دوکاندارنو ډير په غصه دی. تاسو د غنيخان افکار په دې برخه کې څه ډول ارزوئ، او د دې ليد دک و دليل په څه کې وينئ؟

همدا راز غنيخان د (اسلام) په نوم نظم کې ملا او هغه کسان چې له غلط او نا سم تعبير او تفسير څخه د اسلام د سپېڅلي نوم او احکامو څخه د خپلو دونيايي او سياسي ګټو په خاطر کار اخلي کلک اعتراض او نيوکه کوي. تاسو دا نظم او د ده افکار او پيغام خپلو خلکو ته څه ډول ارزوي؟

لېوال: د ملايانو په اړه د غنيخان د اشعارو او افکارو په اړه ډېره څه ليکل شوي دي، زه به يې ډېره نه اوږدوم، لويه برخه ځواب پخپله ستاسو په پوښتنه کې نغښتی دی.

اصلي کيسه دا ده، چې غنيخان يو معتقد انسان دی، د دې لويې نړۍ او هستي لپاره يو خالق پېژني او باور پرې لري.

راته ښکاري جوړ ناست په اسمان کې کيمياګر دی

کله سره زر کاندې خاورې کله خاورې زر کوي

ډېر ګلونه يې راغونډ کړل د جانان شونډې کړې جوړې

چه د دې ګلابو خاورې په کوم ګل بهر کوي

هغه يو ښکلی او مهربانه ذات ورته ښکاري او فکر کوي، چې انسانان ورته ګران دي:

دا دماغ زما چرې نه مني　　　چې د ګل خالق به سقر کړي جوړ

څنګ خوړې به پرې زما کړيکې لړي　　　چا چې ما له نرګس او دلبر کړه جوړ

پر خدای د غنيخان باور تر عقيدې وراوښتی او په مينه بدل شوی دی.

زه عاشق ځکه په رب يم　　　چې انسان له دوام نشته

رب دی هرڅه او هغه چې زما هوش پرې نه پوهيږي

رب زما د ورکېدو نه بره، لرې، سپين مقام

رب زما د هوش صحرا له يو محل دی د کمال

رب زما دې ستړي سر له د مستۍ بر پوره جام

تر دې مينې او باور راکښته د نورو ټولو مسايلو په اړه پوښتنې لري، دا پوښتنې يې هم د عقيدې روښوالی (شفافيت) نښه ده، غواړي هم پخپله پوه شي او هم د کړيو پوښتنو له لارې نور خلک وهڅوي، چې ځان وپوهوي. د غنيخان پوښتنې طبعاً چې د هغه د شعرونو مينهوال متوجه کوي، چې دا پوښتنې جدي دي او بايد په اړه يې فکر وشي. غنيخان ړنده عقيده نه خوښوي، بلکې پر هغې مينې ولاړ باور ته ارزښت ورکوي، چې د تفکر او تعقل په مرسته ورځ تر بلې زياتيږي. غني فکر کوي، چې موږ هرڅومره چې د خالق په پېژندلو کې وړاندې ځو هماغومره يې مينه زموږ په زړونو کې زياتيږي.

د تقوی زر شپې کړي جمع　　　د عشق يو ساعت ترې جوړ کړي

د دې مينې او پېژندنې لپاره بايد فکر وکړو او فکر د شته پوښتنو د ځوابولو هڅه ده.

له ملايانو او شيخانو سره د غنيخان ستونزه له همدې ځايه پيليږي، چې: اول له خدای سره يې اړيکه له هغه څخه ويره ده، نه له هغه سره مينه. غنيخان د ملا له خولې ځان ته داسې خطاب کوي:

دا د رب سره د مينې　　　تا راخيستې څه قيصه ده

وېره وېره له قهار نه　　　د ايمان اصلي حصه ده

د جنون او د جانان ستا            څه مهمله فلسفه ده

دویمه دا چې ملا له خدای ج سره د مینې پرځای له خپلو نفسي غوښتنو سره زیاته مینه لري او عبادت هم د همدې لپاره کوي، چې ځان له دوزخه وژغوري او پر دې دنیا د عبادت پلورنې له لارې او په بله دونیا کې د عبادت په مقابل کې د مزدورۍ ترلاسه کولو له لارې په جنت کې عیش و نوش وکړي.

د ملا عبادت کسب            پاځېدل او کیناستل

د حلوا په ارمانونو            تل الله الله کول

د ملا مینه عجیبه            په پیتي مینېدل

او د حورو لمړو ته            د خچو کوهنېدل

د زاهد عبادت چړ دی            سوال منت ژړا کول

په جنت او دې دنیا کې            د فایدې سودا کول

د ریا سپي جوته کړې            دلربا له ورکول

د غني عبادت مینه            ځان جانان کې ورکول

چې بې ننګه شي پښتون په سر یې دانګه            تښته تښته د سخاتي ملا د بانګه

چې په طمع د دنیا کوي وعظونه            خدای دې وچه کړي د دې خبیث غړانګه

شاعر غني‌خان د یوه دقیق ټولنپوه په توګه پوهیږي، چې د هغه د ټولنې یوه مهمه تاریخي ستونزه د اسلام سیاسي کېدل دي، داسې سیاسي کېدل، چې ګټه یې ملا او شیخ ته رسیږي، نه اسلام او مسلمان ته. د غني‌خان په نظر اسلام هغه وخت زیان ویني چې ټیکه دار (ملا) یې د سیاسي ابزارو په توګه د خپل قدرت او عیش و نوش لپاره کاروي.

اې په اسلام مېینه!            اې سیاسي مؤمنه!

نن چې اسلام ستایې            ستایه دې څوک پرون

دا هغه مخ د ټپوس            خو نوې شنه پرون

اې په اسلام شيدا!　　　اې سياسي مؤمنه!

سترګې دې برګې بهر　　　برګ دې ايمان دننه

پرون يې ځان نه ګاټه　　　نن دی اسلام ګټې

په خرڅ د ننګ د پښتون　　　خپل ننګ او نام ګټې

زما په وينو چا له　　　ايران او شام ګټې

او د شرابو تاجر　　　ساقي او جام ګټې

اې په اسلام مينه!　　　اې سياسي مؤمنه!

څه به وايې رب ته خپل　　　چې يې د ګور دننه

تا د پښتون سترګوته　　　د تيارې جال جوړ کړ

او د جناح د خره　　　دې خردجال جوړ کړ

غلاف کعبې له دې　　　د وايټ هال جوړ کړ

ما له لندن کې تا　　　نوی هلال جوړ کړ

او د بلا نه دې　　　ماته بلال جوړ کړ

اې په اسلام شيدا　　　اې سياسي مؤمنه !

ترپايه

غني‌خان د سياسي شوي ملا او سياسي کړای شوي اسلام په لوبو خبر و، پايلې يې ليدلای شوې او د جناح او پاکستان لوبه ورمعلومه وه. د انګريز په ټوله لوبه يې سر خلاص و، چې د ملا او اسلام په نامه له افغان ولس سره څه کول غواړي؟ همدا د يوه نابغه شاعر الهامي وړاندوينه ده.

په زړه پورې دا ده، چې د غني‌خان د ژوند پرمهال خلکو لا داسې یوتش په نامه اسلامي نظام تجربه کړی نه و، چې واک و ځواک ټول د ملا او شیخ په لاس کې وي، خو د داسې کېدو یو ډول نامخامخ وړاندوینه د غني‌خان په شعرونو کې موندلای شئ، چې د حیراني وړ ده. غني‌خان د ملا په بېحده اشتها پوهېږي، هغه اشتها چې له حلوا، فیرني او پولاو څخه پیلېږي:

ملا مخ زما نه واړاوه | وې دا څه دي ستا تالي کې
نه پلاو دی نه فیرني ده | نه حلوه نه فالوده ده
وی یې شرع ظاهر ګوري | او ظاهره ته فاسق یې

او د ملا دغه اشتها بیا تر سیاسي واک و ځواک او د دین په نامه د خلکو او ټولنې تر هراړخیز ښکېلاک او زبېښناک پورې رسېږي.

او د کا فر نوکر | کړي د اسلام پالنه
اې د کنیو وطنه | اې د ړندو وطنه

مسعود: تاسو د هیومانیزم د فکري او فلسفي ښوونځی په تړاو څه لید لرئ؟ د ختیځ په فرهنګونو او بیلابیلو فکري ښونځیو په تېره تصوف او عرفان کې انسان خپل ځانګړی ځای، پوړی او مقام لري. د غني‌خان په ډیرو شعرونو کې انسان او انسانیت ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. تاسو د غني‌خان دا افکار څه ډول ارزوئ ؟

او همداسې د غني‌خان په اشعارو کې په انسان او انساني ارزښتونو او فضایلو ډیر تمرکز شوی دی. تاسو د ده خیال او افکار د (نیچه) له افکارو سره د انسان پالنې په اړوند څه ډول ارزوئ؟

لېوال: ما کلونه پخوا د «هیومانیست غني» تر سرلیک لاندې یوه مقاله کښلې وه. زما د دغې مقالې پربنسټ، زما له نظره د غني هیومانیستیک تفکر یو ځانګړی رنګ څکه لري، چې هغه مهال انسانپالنه په نومهالې نړۍ کې په موډېرن مفهوم د هغه په چاپېریال کې د افغانانو لپاره تقریباً یو ناپېژندلی مفهوم و. غني‌خان باید د دغې نومهالې فیلوسوفیکې نظریې ارکان او جزئیات معرفي کړي هم وای، پاللي یې هم وای او پښتانه یې ورسره نږدې کړي هم وای.

کــعبه جــوړه ابراهیـــــــــــــــم کړه | زه جوړ کړی یم الله

وایه څوک لوی شو اوچت شو؟                    وایه وایه اې مُـلا !

رنسانس، چې د اروپا تورو منځنیو پېړیو ته یې د پای ټکی کېښود، بل څه نه و، مګر ددې تفکر رامنځته کېدل، چې د انساني هڅو په محراق او منځي کې دې د بشریت هوساینه، پرمختګ او نېکمرغي راوستل شي او پوهنه، تخنیک، هنر او تولید دې د ټولنې د وګړیو د انساني ژوند د شرایطو د ښه والي لپاره سره لاس ورکړي.

د کلیسا او کشیش ځای ( انسان ) ونیوه او د انسان د مادي او معنوي لوړتیا لپاره هڅه پیل شوه.

پښتو شاعري، چې دعرفاني افکارو یوه اوږده دوره تېره کړې وه، ناڅاپه د غنيخان او ده ته ورته نورو شاعرانو  د تفکر او تخییل په زور یې له روان دودیز بهیر د پاللو ترځنګ یې ( انسان ) ته پام واوښت. زموږ ددغه مفکر شاعر له نورو بېلګو، چې روسته  به یې یادې کړو، پرته همداپورته یاده شوې څلوریزه یې هم بس ده، چې د انسانمحوره فکر او خیال بېلګه شي او خپل شاعر د لومړنیو هیومانیستو پښتنو شاعرانو په کتار کې ودروي.

غنيخان ( انسان ) مهم ګڼي او غواړي ووایي، چې الله ( ج) هرڅه د انسان لپاره هست کړي دي او انسان دومره مهم دی، چې ښایي له سره پرې فکر وشي.

هیومانیزم یوازې د انسان په نامه د شعارونو نندارمه نه ده،  یاد رضا براهني په ژبه یوازې د انسان په نامه د بربنډو او کلیشه یي خواخوږیو خبرې هم هیومانیزم نه شو ګڼلای. هیومانیزم د داسې یوې فکري ـ عملي منظومې نوم دی، چې ( انسان ) دیوه ارزښت په توګه خپل ټولنیز مقام ته ورسولای شي. داسې یو تفکر چې په پایله کې یې بشریت دې باورته ورسیږي، چې ارزښتونه د انسان د تعالي لپاره رامنځته کیږي او نه ښایي ( انسان ) د ارزښتونو قرباني شي.

د غنيخان  له انده، دانسان اختیار او توانمندي هماغومره ده، چې دخپل همنوع لپاره د خیریاشر سرچینه شي او د طبیعت او ټولنې پر قانونمندۍ د پوهې تر بریده فکر وعمل وکړي. دی انسان ته سپارښتنه کوي، چې لرې دې نه ځي، ځان ته دې راستون شي، ځکه که انسان خامخا باید وژاړي، نو پوه دې شي، چې د ژړا وړ پخپله همدی دی :

راځه زما ګلابه ، ژوند او مرګ دواړو ته خانده

په دواړو کې یو هم نه دی لایق ستا د ژړا

که خامخا ژړا درځي:   انسان ته، ځان ته ژاړه

چې دغه په ریښتیا او ګـُداګی دی د ژړا

یو حسن رب ورکړی دی، چې ژوند له معنی ورکړي

او دې غریب ترې ځان ته جوړه کړې ده بلا

خزان که نه و، نو یوګلاب ، یوه میوه به نه وه

که مرګ نه و، ژوندون به یو رګ خوب و په دنیا

انسان د ریدي ګل دی، د ده کور دی بیابان

بهار د ده ځواني ده، خو ژوندون یې دی خزان

زموږ شاعر ټینګار کوي، چې دا د انسان اختیار دی، چې خپل ژوند ته پخپله مانا ورکړي. غني د اګزستنسیالیستي اندود په څېر انسان د خپل ماهیت په ټاکلو محکوموي او د اختیار دایره یې د طبیعت او ټولنې پرقانونمندۍ د پوهېدو تر څنډو پورې پراخه ګڼي، زموږ شاعر د ( اندره برتون ) په څېر ( انسان ) د بوږبوکی منځی ( محراق ) ګڼي :

ملاجان وایي ازل کې تا لیکلی هر یو کار دی

یو له سترګو کې شفق دی بل له هسې ګلیخار دی

یو به ټول عمر نالان وي،وږی تږی پریشان وي

یو نیازبین به په بخملو بل به پروت په بیابان وي

وایا وایا ملاجانه که اختیار راځي قسمت ځي

د قسمت سره دواړه آرامونه او راحت ځي

د تندي لیکلی ورک شي، بس سړی د ځان مالک شي

که په باغ کې د آرام ځي، که په لار د مصیبت ځي

غني ټوله ښکلا او د هستۍ مانا په انسان کې بیا مومي او د خلقت هدف هم د ځان پېژندنې له پړاوه راپیل شوې داسې هڅه ګڼي، چې بالاخره خدای پېژندنې ته رسیږي، دا د شرقي عرفان یو داسې موتیف دی، چې له ځانه د خالق لوري ته د سالک د راپیل کړي مزله پړاونه او لیدلوري بیانوي، غني د هر لټون په پایله کې بېرته له انسان سره مخامخیږي :

مخ يې و ، قبلې ته  ليونی ترې خبر نه و

سترگې يې وې وازې د انسان په تماشا

عکس د سپوږمۍ يې د شبنم څاڅکي کې وليده

ځکه په سجده شو د جانان په تماشا

نشته دی د ژوند د خوب تعبير کتاب کې نشته دی

سترگې دې کړه پورته د اسمان په تماشا

خدای مکه کې نشته د منصور د خولې مې واوريده

لاړ شه ليونيه ! شه د ځان په تماشا

د شرقي عرفان همدغه موتيف،  لويديز انسانمحوره عقلانيت ته لار هواروي، چې انسان د ټولو ارزښتونو په محراق کې خپل ځای بيا مومي.

د عقلاني انساپالنې (  Rationalistic Humanism ) توپير له عاطفي او احساسي هغه سره همدا دی، چې له دې سره د انسان په گټه پرېوهنه ولاړ فکر وعمل ملگری دی، غنيخان  يو مهال د انساني لوړوالي دې پړاو ته د رسېدلو داسې دعا کړې وه:

| | |
|---|---|
| اې خدايه ! عقل راکړه | اې خدايه پويه را |
| زړگی مضبوط راکړه | او سينه لويه را |
| سترگې د لمر راکړه | رحم د ځان را |
| بيا ټول غمونه دې | د دې جهان را |
| ماته يې په سرکړه | ځار درنه شمه |
| زه به يې وړمه | زه به يې وړمه |

د انسانمحوریت لپاره یو استدلال دا دی، چې ژوند او دا دنیا مهمه ده. رحمان بابا څوپېړی وړاندې دا جدال راپیل کړی و:

ښه ده ښه ده دا دنیا          چې توښه ده  د عقبا

په دنیا کې بدي نه شته          که بدي نه وي له تا

غني هم پر دې ټینگار کوي، چې دا دنیا مهمه ده:

د بیغمی لړ خوب          لکه دنیا ښه ده

نښته یې لږه ده          گنې دنیا ښه ده

څوک وایي هغه ښه ده          څوک وایي دا ښه ده

ماله زما ښه ده          او تا له ستا ښه ده....

انساپلوی غني له دې څخه ځوریږي، چې گوري؛ انسان د انسان د وینو تږی دی.  د ده په نظر کله چې د ټول حسن او ښایست سرچینه انسان ده او کله چې انسان مینې ته پیدا دی، هغه انسان چې ، دهمده په ژبه :

ستوري ته اسمان کې یوه ورځ ووېل هلال

خدای آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال

نو بیا ولې د مینې په پار د پیدا کړای شوي ادم زامنو یو بل سره په وینو سره کړل، یو هابیل شو او بل قابیل؟ د څه لپاره؟

د انسانمحوریت پوښتنه له همدې ځایه راپیلیږي، چې ولې او د کوم ارزښت لپاره انسان د انسان په لاس وژل کیږي؟ دا پوښتنه ساده نه ده، دې پوښتنې له زرگونو کلونو راهیسې د بشریت فکر بوخت کړی دی؟ ښه گوري، چې د (انسان ) قتل تراژیدي ده، خو تردې لویه تراژیدي دا ده، چې دا غمیزه په خپله د انسان په لاس پېښیږي، زموږ شاعر وایي :

نن انسان شو د انسان د وینو تږی

نن مجنون شو  د جانان د وینو تږی

داسې ړوند په سترگو ړوند شولو د تندې

چې تر پورته شو حیوان د وینو تږی

دا محل د چا باچا د شان او شرنگ دی

که دا پروت دی بیابان د وینو تږی

دا قصه د یار د کور او استانې ده

که د ظلم یو داستان د وینو تږی

داسې زهر چې ښامار ورته پسخیږي

داسې تاو چې کړي جانان د وینو تږی

داسې قهر چې لمبه کړي خپلې سترگې

داسې ځان چې وي د ځان د وینو تږی

داسې رند چې د آدم په وینو مست وي

داسې شر چې کړي اسمان د وینو تږی

لیونیه ! د مستۍ باغ ته ترې تښته

نن د تندې مري جهان د وینو تږی

د غنيخان ( زه ) د ټولنې ( موږ ) او د ده ( ته ) موږ هر یو یوو . زموږ په ادبیاتوکې ، په تېره بیا د نومهالي شعر د فکري ـ فیلوسوفیکو مفاهیمو هنرمن راپیلوونکی له ( زه ) څخه ستړی دی، له ( زه ) څخه سرټکوي، خو ( ته ) او (موږ) ته پناه راوړي او مخاطب یې تر ټولو ښکلی دی، ترټولو مهربان او د مینې وړ دی. غني پرخپل مخاطب انسان باور لري، له هغه سره مینه کوي او غواړي هغه پوه کړي، چې هرڅه دده لپاره پیدا شوي دي. غني زموږ د زمانې غږ دی: چې یو بل سره ونه وژنو، بلکې د ټولنې او طبیعت له قانونمندۍ سره سم د انساني ټولنې د سوکالۍ لپاره په مینه مینه گډ کارو فکر وکړو.

موږ غني لولو، موږ د غني له هنره خوند اخلو، موږ د غني شعرونه سندرې کوو، موږ یې یادونه په لویو غونډو او لمانځنو کې یادوو، هغه فیلوسوفیک، لیونی، ښکلی هنرمن او څه وخه بولو، خو پیغام ته یې پام نه ساتو، لاهم انسان وژنو او پرانسان ظلم کوو، د غني روح خپه دی، ځکه هغه گوري، چې تر ټولو ډېر د هغه ولس وژل کیږي او تباه کیږي:

تاسو یې اورئ ؟ غني ژاړي:

ورو ورو ظالمه ! داچیغې ناورې؟

ورو ورو پرې پښې ږده دا نه دي خاورې

داخو ستی دي ، دا خو ځوانی دي

سپینې دې کوکې لکه د واورې

مسعود: غنيخان وایي:

ساز ژړا ده که مستي ده نه پوهیږم

هر اواز کله شي سوز کله چیغار شي

او یا وایي :

زه یو مست شان لېونتوب یم د هوا په آس سوربږم

که یو رنگ د یار د سترگو شل رنگونه شم گډېږم

دا زه څه له ولی جوړ شوم خبر نه یم نه پوهېږم

ولی سوز شم ولی ساز شم یو آواز یم چی غرېږم

د زړه پټو تارخانو ته یو شغله یم چی کوزېږم

یو سرور یم چی شرنگېږم یو خمار یم چی مستېږم

چې په رګ رګ کې د اور شم یو لمبه یم چې رپېږم

دا زه نور یم چې پړقیږم که سرور یم چې سوزېږم

شعر او موسیقي د هر ثقافت په مانۍ کې بنسټیزي ستنې دي، او یو له بل سره تړاو لري. غنيخان  په خپلو شعرونو کې د ساز او ټنګ ټکور په تړاو خپل تصور، لید او فکر لري. تاسو د ده فکر او خیال او د کلام موسیقیت او آهنګینې برخې څه ډول ارزوئ؟

لېوال:

رباب څه دی مړ ګډوری او د توب وچه تنه ده

خو چې سوز د آدم راشي هله هنګ وکړي رباب

غنيخان موسیقي اورېده، خوښېده یې، سوز یې حس کاوه، ان چې یو ډول وجد و خلسه یې ورته پیدا کوله. دا د ده له کلامه پیدا ده. دی موسیقي یوه مثبته اینرژي بولي، داسې یوه مثبته اینرژي، چې د اورېدونکي سوز و حال یې راژوندی کوي لکه د برېښنا یو سیم چې له بل سره ملګری شي او پړق نارې کړي.

څوک په سازکې  څوک په خوږ سوي رباب کې

څوک په مسته ترانه کې  څوک ټپه څوک افسانه کې

هر وخت هره زمانه کې  په فراق په یارانه کې

بس د خپل جمدون قیصه ده په هر مخ د دې کتاب کې

څوک یې واي په مستو سترګو څوک په مست رنګین رباب کې

څوک د تال او حرکت نه کړي ژړا او خندا جوړه

ټول وجود یې یو ارمان شي چې د غم کړي ګډا جوړه

داسې خیشت داسې رنګونه نشته نشته په ګلاب کې

دغنيخان په خپلو شعرونو کې هم د غږونو یو اتڼ او نڅا ګورو، ډېره ځله یې له ګډ وتونځای(هم‌مخرجه) غږونو څخه پخپله هم په شعر کې بلها موسیقي تولید کړې ده، دې ته د سړي هغه وخت پام وراوړي، چې د غنيخان شعرونه کوم لایق سندرغاړی سندره کړي.

په زړه پورې دا ده، چې نن سبا په تېره بیا په پښتونخوا کې د پښتو موسیقۍ لمن ورځ په ورځ د غنيخان له شاعرانه ګلونو څخه ډکیږي او ښکلې کیږي.

زه له علمي پلوه په موسیقي نه پوهېږم، خو د موسیقۍ یو مینه وال او اورېدونکی یم. شعر او موسیقي داسې سره تړلي لکه ګل او خوشبو، لکه انځورګري او رنګ او لکه نڅا او بدن.

خو هم هغه یو ارمان دی د دې تال او شرنګ دریاب کې

هم هغه یوه قیصه ده په هر مخ د دې کتاب کې

څوک یې سا ټکي راواخلي په خپل اور یې سره لمبه کړي

یو مستي سرور ترې جوړکړي په جانان یې صدقه کړي

کله یې ډوب کړي خپل خمارکې دوی هم ځان سره نشه کړي

بس یو رنګ دی، چې ځلېږي هم جانان کې هم ګلاب کې

هم په سازکې هم په تال کې هم په خوږ سوي رباب کې

په یو سوال دې هم پوئ نه کړم د ژوندون په لوئ کتاب کې

دغه سوال بس دغه سوال دی هم په رقص هم په رباب کې

عاشق مینه کې سرور کې شاعر غم او اضطراب کې

هم هغه یوه قیصه ده په هر مخ د دې کتاب کې

د غنيخان ژوند څېړونکي دا مني، چې د خپلې زمانې له پیاوړو او مشهور سندرغاړو او موسیقارانو سره یې ملګرتیا وه. غنيخان ته یوه په زړه پورې خبره منسوب ده، چې ویل یې: «د پښتنو موسیقي خوښه ده او ډمان یې بدي شي.» که دا ریښتیا د ده وینا وي، بیا نو څرګنده ده، چې غنيخان د موسیقارانو په درناوي او ارزښت پوهېده.

د غنيخان لاندنی شعر یوازې له ادبي پلوه نه، بلکې د موسیقیت له پلوه هم په زړه پورې شعر دی. لسګونه غږیز تناوبونه، د هم مخرجه غږونو مارش او د ټټکو څپو وزني ریتم.

له مانیز پلوه، شاعر موسیقي په طبیعت کې نغښتې بولي. دی د طبیعت ارکان د موسیقیت اصلي زېرمې او سرچینې بولي، باران، اور، نسیم، باد، برېښنا، د روانو اوبو شور، د معشوقې خندا او د پایزېبونو شرنګهار او ان د لیکونکي قلم شغهار د ده لپاره موسیقي تولیدوي او دی پرې مستیږي:

ټق ټق د اور ټپ ټپ د باران

آخ آخ د وصال اوف اوف د ارمان

وئ وئ د جنون وخ وخ د صنم

نا نا او او هر وخت د صنم

قټ قټ د خندا برق برق د مستئ

شرنګ شرنګ د پانزیب چڼ چڼ د لښتئ

شړ شړ د اوبو شغ شغ د نسیم

بس بس د دلبر بړ بړ د غلیم

قړ قړ د چیلم پر پر د لولۍ

دوم دوم د دوپړئ ټنګ ټنګ د رباب

غړ غړ د پیالئ سخ سخ د کباب

چپ چپ د کوکئ پس پس د دلبر

چړ چق د تارو گو گو د کمتر

بس بس دې غنی بد بد یې  روان

ایش ایش د قلم هر هر د بیان

د بلخي ابن سینا لږ ترلږه درې رسالې د موسیقي په اړه څرگندونې لري. هم په «شفا» کې هم په «نجاة) او هم په «دانشنامۀ علایي» کې. د شفا په دولسم فن کې ابن سینا موسیقي د ریاضیاتو د پوهنې برخه بولي او په دوو برخو یې ویشي: لومړی، د نغمو د گډون او راغونډولو «تألیف» برخه او دویم: مهالنی غځېدا یا موسیقایي وزم، چې د ایقاع علم هم نومیږي. ښایي ابن سینا موږ ته معلوم لومړنی پوه وي، چې د موسیقي الات په درېیو ډلو ویشي:

۱ـ تاري، چې د ده په ژبه په «زخمه» یا گوتمی غږول کیږي، لکه بربط و تنبور و رباب.

۲- بادي، چې د خولې یا مزمارالجراب په باد وهل کیږي، شپېلۍ، نننۍ هارمونیه، ارغن یا اغنون او سنج یې بېلگې دي.

۳- ضربي یا د ابن‌سینا په ژبه کوبشي، چې ډول و طبل یې بېلگې دي.

د الحان پېژندنې په برخه کې خبره هم پېچلې کیږي او هم ظرافت مومي. له کوم مهال سره څه ډول موسیقي، دا هغه څه دي، چې موږ د اورېدونکي له طبیعت سره د موسیقۍ له همغږۍ خبروي. د موسیقي له الحان څخه په بېلابېلو وختونو کې د خوند اخیستو څه بېلگې د غني‌خان په دې شعر کې وگورئ:

ورکړه شرنگ دې ستار له یاره

نوی د مني ماښام دی

نوې سپوږمۍ راختلې ده

نوی سرور کې  خیام دی

اه د زړۀ تارخانو ته دې

گوتې د ساز ورښکته کړې

وئ، د محمود ځیگر ته نن

سترگې ایاز ورښکته کړې

سترگې مینې په غم ډکې

ډکې د سُر او صنم ډکې

سترګې مستې د شبنم ډکې
څنګ په ناز وربښکته کړې
او دې د خاورو ستار کې  تا
څنګ د ابد قصه جوړه کړه
او د یو شرنګ او ټنګ نه دې
ما له مستي نشه جوړه کړه
تا د ګلونو د رنګ نه
ما له د یار تصویر کړو جوړ
تا د تارونو د شرنګ نه
ما له یو خوب او تعبیر کړو جوړ
تا د سرور او غورځنګ نه
ما له بدرمنیر کړو جوړ
تا د غمونو د رنګ نه
ما له د غم اکسیر کړو جوړ
تا د غرور او ارمان نه
ما ته بهار او خزان کړو جوړ
تا د ژړا د اواز نه
ما له تصویر د جانان کړو جوړ
تا د نرګس د دوه پاڼو نه
ما له بهار او ګُل کړو جوړ
تا د نسیم د خبرو نه
ما له فریاد د بلبل کړو جوړ
ورکړه شرنګ دې ستار له یار
ورکړه رنګ دې خمار له یار
ورکړه سلام ګلونو له
ورکړه دعا دې یار له یار

ښائست او ارمان راوسپړه

ما له ترې ګُل او خزان کړه جوړ

او د نسیم د خبرو نه

ما له تصویر د جانان کړه جوړ

د موسیقي او غنيخان ترمنځ د اړیکو په اړه زه خپلې خبرې په یوه سپارښتنه پای ته رسوم او هغه دا چې د موسیقي یو مکتبي استاد او په پښتو ادبیاتو پوه څېړونکی کړلای شي په درېیو برخو مشتمله یوه ښه څېړنیزه رساله تدوین کړي:

د غنيخان د شعرونو داخلي موسیقي.

د موسیقي په ظرافتونو د غنيخان پوهه د هغه د شعرونو د غږ او وزم پوهنې په رڼا کې.

او د موسقي په اړه د غنيخان خپل نظریات، بیا هم د هغه د شعرونو له متني شننې او ارزونې څخه.

کاشکې یوه ورځ داسې خوندوره څېړنه ولولو.

**ان شاءالله**

**په ډېر درنښت او ادبي مینه: انجنیرعبدالقادرمسعود**